




# رسنۍ او ټولنه

مؤلف : پوهندوی محمدخان نیازی

## د پیل خبرې د

په یوه سیمه کې نا امني او شخړې هغه څه دي چې ټولنه له هر اړخه له کړاو او ستونزو سره مخامخ کولی شي هغه هیلې او غوښتنې چې خلک یې لري د پوره کیدو غوټۍ یې ژر نه شې غوړېدی بلکه تل د ناامني له لاسه رژېږي .

په هېواد کې د تېرو څو لسیزو جګړو زموږ دعلمي باغ دګلانو غوټۍ تل رژولې دي او زموږ علمي ماحول او قشر مستقیم او غیر مستقیم اغېزمن کړی دی بالاخره یې له علمي مسلکي مغزي فرار سره مخامخ کړي یو .

زموږ ډېری عالمان د دښمنانو له خوا په مختلفو لارو له کړاونو او مشکلاتو سره مخ شول ،مړه شول ،مهاجر شول ، مسموم شول بالاخره د ژوندي ورک او تر ننه یې مړی ژوندی نه دی معلوم .

همدغو بدبختیو زموږ هر عالم د خپل مسلک په ډګر کې له ډېرو ستونزو سره مخ کړی دی، چې له کبله د پوهې انتقال ته زمینه نه ده برابره شوې او کله یې چې له نړۍ سترګې پټې کړې نو د ده پوهه هم د ده په سینه کې پاتې شوې او له ده سره یو ځای له خاورو لاندې شوې ده.

په هرحال اوسنی فرصت هغه څه دي چې افغان علمي کادرونه باید له دې طلایي چانس څه ګټه واخلي او هر یو د خپل مسلک په چوکاټ کې علمي او اساسي کار وکړي څو دخپلو هڅو په رڼا کې له علمي فقر څخه خلاص شو زما یادیږي چې دجنګ او جګړو په وخت کې به موږ د ژورنالیزم دمسلک په هکله څه نه شو پیداکولی محصلانو ته به مو ویل چې په دې اړوند نوي معلومات نشته .

دادی له څو لسیزو وروسته مو الحمد لله د ژورنالیزم کاریکولم د نورې نړۍ په شان داسې نوی کړ چې د ګاونډیانو او سیمې له هېوادونو سره یوشان قدم نه وهلی شو،فقط توپیر به مو په تجربه ،امنیت ، زمینه سازي او تطبیق کې وي نه د موادو په ضعف او کمښت کې .

ددې اثر په لیکلو سره به د ژورنالیزم د مسلکیانو ډېر مسایل حل او د رسنیو په ارزښت به ښه و پوهېدلی شي . په دې طلایي چانس کې موږ ته لازم دی چې د هېواد په معنوي رغونه او د هېوادوالو د علمي پیاوړتیا لپاره په خپل مسلک کې هغه څه چې لازم او ضروري وي تر سره کړو ،

ددې ملي ا و مسلکي مسولیت په لړ کې ماهم د همدې موخې د لاسته راوړلو لپاره د رسنۍ او ټولنې د مضمون په تړاو نوې څېړنې هڅه پیل کړه، چې په یاد مضمون کې زموږ د نننې عصر د اړتیا سره سم غوښتنې پوره کړی شي ځکه زموږ په هېواد کې د دبیان دازادی او د نوې دیموکراسي په جریان کې ډېر داسې کارونه تر سره شول چې هیڅ ضرورت یې نه وو حتی زموږ ټولنې ته یې د ګټې په ځای زیان هم ورساوو ، نو ددې لپاره چې موږ له عصري او اساسي مهمو ارتباطي وسایلو څخه سمه او لازمه ګټه پورته کړې وي نو ما هم دکتاب په لیکلو کې په هغو مهمو مسایلو او اړخونو ډېر ټینګار ګړی چې زموږ د مظلوم ملت لپاره اړین او ضروري دي .

د خدای ج په فضل تر یوه حده پورې وتوانېدم، چې د وخت او عصر د غوښتنو په نظر کې نیولو سره د ذکرشوي مضمون لپاره چې نوی په کریکولم کې ځای په ځای شوی ، نوي په سلو کې د وخت غوښتنې پوره کړی شم . کیدی شي په راتلونکي وخت کې د ټولنې ضروریات ډېر او تغیر ومومي نو که ژوند وو دهېواد نور علمي وګړي اویا که ماته زمینه مساعده شوه له وخت سره

موازي به بیا پرې کار وکړو او هغه څه چې ضرورت یې احساس کېده د پوره کیدو ګامونه به یې واخلو .

په پای کې دشیخ زاید پوهنتون دژور نالیزم پوهنځي له ادارې ، له خپل لارښود استاد محترم پوهنوال دوکتور ماستر واحدي ،د پوهنځي له ټولو استادانو او له ګران ملګري جان څدراڼ او ټولو دوستانو څخه نړۍ مننه کوم چې له ما سره یې لازمه او مناسبه همکاري کړې ده .

د پوهنځي له محترم ریس صاحب څخه یو ځل بیا هم مننه کوم چې هر وخت یې زما پوښتنو ته په ورین تندي ځواب ویلي او همیش یې زه نویو او مهمو مسایلو ته متوجه کړی یم .

په پای کې یو ځل بیا له ټولو هغو دوستانو مننه کوم چې زه یې د رسنۍ او ټولنه لیکلو ته هڅولی یم، لازمه او مناسبه همکاري یې راسره کړې ده، په ورین تندي یې زما ټولو پوښتنو ته ځواب ویلی دی او د ضرورت په وخت کې یې همکاري راسره کړې ده. د هر یوه څخه بیا هم مننه کوم، له لوی خدای ج څخه ورته د علم او پوهې د لا پیاوړتیا او غښتلتیا غوښتنه کوم دټولو د علمي لوړتیا او غښتلتیا په هیله .

په درنښت او احترام

پوهنمل محمد خان نیازی

## لنډیز

د نړۍ ټول حکومتونه اوس د رسنیو له لارې د تبلیغاتو په وسیله خپلې له عامه رایو څخه خپلې موخې لاس ته راوړي؛ خو دا کار هغه هېوادونه کولی شي، چې هغوی کره علمي وګړي ،عالمان ، پوهان ،په لوړودولتي ملکي او غیر ملکي ادارو باتجربه کادرونه او مبلغین ولري او د خپلو ملي ګټو د ساتلو لپاره ورڅخه ښه او منظمه ګټه واخلي؛ ځکه دوی د خپل علمي قشر لپاره داسې علمي اثار لیکلي وي، چې د هغو په رڼا کې یې راتلونکی نسل خپلې ملي ګټې پاللی او غښتلي کولی شي.

زمونږ وطن له دې نعمت څخه تر اوسه  د جنګونو او بدبختیو له کبله بې برخې پاتې شوی دی پوهانو مو دنا امنی او یا د زمینې د نه مساعدو له کبله  هغه څه چې دهېواد لپاره  ضرور وو نه دي کړي ،که یې کړي یا  لیکلي دي هغه  ډېر نیمګړي دي؛ نو ما تر خپله توانه هڅه کړې، چې دا نیمګړتیاوې له منځه یوسم؛ ولې با هم ډېره لار او مزل پاتې دی، چې موږ له نورې نړۍ سره سیالان شو د دې موخې د لاس ته راوړلو لپاره مې د پوهانو له هغو علمي اثارو څخه ګټه اخیستې چې په دې ډګر کې ښې لاس ته راوړنې او تجربې لري او ډېری یې له ۲۰۱۲ م کال څخه وروسته لیکل شوي علمي اثار دي.

ما په دې علمي اثر کې د ټولنې او رسنیو تر منځ اړیکې پېژندنه د رسنیو له لارې د عامه رایو همغږي، تخریب، بدلون د رسنیو ځواک اغېز د رسنیو په وسیله د ملي ارزښتونو ساتنه، پالنه، غښتلتیا، د ټولنې په مقابل کې د رسنیو مسوولیتونه او دندې ، د تبلیغاتو پېژندنه او هغه تکتیکونه او نیرنګونه چې د نړۍ زبر ځواکونه یې د ټبرته پاتې هېوادونو د ملتونو لپاره په مختلفو لارو او اصولو کار وي. په بشپړ ډول سره روښانه کړی دی، چې دوی د نورو هېوادونو حکومتونو او ملتونو افکار او عقاید پرته له دې چې له نظامي خوځښت څخه کار واخلي د مطبوعاتو له لارې د مخالفو یا هدف ور ډلو افکار د خپلو ګټو لپاره چمتو کوي او بیا په اسانۍ سره کولای شي، چې  تسخیر یې کړي.

همدارنګه افواه د افواه ډولونه، ځانګړتیاوې د فکري جګړې پېژندنه ځانګړتیاوې د فکري جګړې وسایل او نور په هو مسایلو بحث شوی چې د رسنیو او ټولنې تر منځ په یو نه یو لوري پورې تړاو لري او عموماً د عامه رایو د پر مخ بېولو تحریکولو بیدارولو او یا پاشلو اومتحد کولو په اړه په زړه پورې علمي معلومات لیکل شوی دی چې . د ژورنالیزم د محصلانو او مینه والو لپاره مهم  او په زړه پهورې دی .

په دې هیله چې د هېواد د رسنیو مسوولین چارواکي  او د هېواد رښتیني بچیان ترې دملي ګټو دساتنې لپاره کره ګټه واخلي.

## د موضوعاتو لړلیک

عنوانونه مخ

سریزه ........................................................................................................................... 1
دڅېړنې تګلاره:................................................................................................................ 2
موخې:............................................................................................................................ 2
دڅېړنې  اصلي پوښتنې :..................................................................................................... 3
فرعي پوښتنې :................................................................................................................ 3
تیرو لیکنوته 4
کتنه..............................................................................................................................
رسنۍ(Media):.............................................................................................................. 6

ټولنه(Society): ........ 6
تبلیغ(Propaganda): ........ 28
دتبلیغ ارزښت (Importance of Propaganda) ........ 30
غیرمسلح جنګ :(Un- Armed War) ........ 33
دیواوبل په چارو کې مداخله: ........ 33
دتبلیغ اهداف: ........ 35
دتبلیغ اصول: ........ 41
دتبلیغاتو تکتیکونه (Techniques of Propaganda): ........ 42
د تبلیغ بېلا،بیل حالتونه : . ........ 46
افواه: ........ 46
د افواه ځانګړتیاوې: ........ 53
افواه د قرآن کریم په رڼا کې: ........ 61
په جګړه کې د افواه استعمال: ........ 71
عامه رایې(Public Opinion): ........ 73
دعامه رایو دځواکمنتیا عناصر: ........ 75
دعامه رایو ارزښت : ........ 77
عامه رایې اوتبلیغ: ........ 81
فکري جګړه: ........ 83
درسنیو او تبلیغ ترمنځ اړیکې: ........ 90
لاس ته راوړنې
(موندنې) ........ ۱۰6
مناقشه ........ 95
پایله ........ 97
اخځلیکونه ........ 99

# سریزه

دیویشتمې پېړۍ په دې عصري تکنالوجي دور کې رسنۍ او ټولنه د خپټې او شا په شان یو له بل سره نه شلېدونکې اړیکې لري ، که ټولنه نه وي د رسنیو ژوند او موجودیت به هېڅ معنی و نه لري .

همدارنګه که چېرې په ټولنه کې رسنۍ نه وي نودظالمانو، مفسدانو، زورواکانو او ښکرورو، سیاست پوهانو دظلم او جبر له لاسه به ډېرو خلکو خپله هستي ،ارزوګانې، په زړه کې پټ رازونه او دملغلرو په څېر کره خبرې او افکار ګور ته له خاورو سره وړي وو ، واک او ځواک به له هغه چاسره وو چا چې دفرعون په شان متکبر لښکر درلود . دفراه ولایت دمظلوم ماشوم ،دنړۍ په بندیخانو کې، ځینې بې ګناه بندیان دګوانتانامو،ایران ، اسرایلو او پاکستان په جیلونو کې د مظلومو انسانانو غږونه له غرونو، راغونو او لېرې فاصلو څخه د نړیوالو ترغوږونو نه رسېدل د بې وزله او مظلومو انسانانو واک او اختیار به دبل چا په لاس کې وو.

تر موږ د دغو مظلومو د اوازونو د رسېدو علت همدغه درسنیو شتون اوبرکت دی، نو درسنیو او ټولنې ترمنځ درابطې د ارزښت او رول له کبله ما دنوي کاریکولم مطابق همدغه موضوع (رسنۍ او ټولنه) دژورنالېزم پوهنځي درياست او دیپارمنتونو د امرانو د رایو په اتفاق د پوهنملی له علمي رتبې څخه دپوهندوی علمي رتبې ته د ترفیع په خاطر د څېړنې لپاره وټاکله چې د موضوع اړوند داسې علمی معلومات د خپلې څېړنې پر مټ راټول کړم چې زموږ د خاورې بچیان هم د پوهې په ډګر کې له دې نعمت څخه برخمن شي. د موضوع ارزښت: د ټولنې او رسنۍ موضوع ارزښت په دې کې دی، چې رسنۍ له جنګ ،جګړې او بې ځایه مصارفو پرته کولی شي د ټولنې دوګړو افکار او زړونه لاس ته راوړي.

اوهمدارنګه کولی شي دټولنې عامه رايي داسې تعمیر،تخریب او تسخیر کړي چې جګړې ته هېڅ ضرورت پاتې نه شي، رسنۍ کولی شي د کمو مصارفو سره ډېر خلک تر خپل اغېز لاندې راولي،ځکه چې د پوښښ ساحه پراخه او پلو یې د هرچا لپاره غوړېدلی او پراخ دی. وګورئ نن د نړۍ ستر هېوادونه د نورو ملتونود تسخیرولو او خپلو پلانونو ته د زمینې مساعدولو په خاطر په خارجي ژبو په زړه پورې جالبې خپرونې کوي، لکه امریکاغږ، ازادۍ راديو، بي بي سي، د چین، روس او نور.... ځکه خو غربیانو مخکې له دې چې افغانستان ته راشي په نړیوالو راډیو ګانو کې په پښتو او دري ژبو خپرونې پیل کړې او هم چې کله راغلل زموږ بچیانو ، ورونو او پلرونو ته یې د قلم ،کتاب او پنسل په ځای رادیو ګانې کورونوته راوړې او هم یې په هر ولایت کې په لسګونو رادیو ګانې جوړې کړې ، دهرې رادیو عادي کارکونکي ته یې ۳۰۰ امریکا يي ډالره معاش ورکوه او د ځینو معاش خو زرګونو ته رسېده،نوکه افغان دولت په دې حساسو شرایطو کې دټولنې په مادي او معنوي رغونه کې له دې وسیلو څخه کار واخلي،نو په ډېرو کمو مصارفو به وکولی شي چې اصلي ملي اساسي موخې لاس ته راوړي.

ولې دا کار موږ هغه وخت کولی شو چې له دې عالي وسیلو څخه د تجربو، کمال، تدبیر، هوښیاري او ځیرکتیا څخه کار واخلو په راس کې یې داسې ملي مسلکي کسان وګومارو چې هغوی هېواد ملت او خاورې ته ژمن کسان وي نه دبل چا ګوډاګیان او مزدوران.

متاسفانه زموږ درسنیو ډېری کسان د خپل هېواد او هېوادوالو پښې او اورمېږونه پخپله وهي هېڅ نه پوهیږي چې دوی څه کوي ؟ دچا لپاره یې کوې؟ ځینې خو یې له دښمنو هېوادونو

روپۍ اخلي،حتی رسنۍ د بل دښمن هېواد له خوا تمويليږي او کار دوی ورته کوي څکه د هغوی پاليسي د ملي ګټو خلاف پاليسي وي.

يو ملګری قيصه کوي او وايي (مونږ په راديو کې يو دوه مياشتې يوه روپۍ هم نه وي، څه وخت وروسته دومره روپۍ يو دم پيدا شي چې په ...... کې يې ګرځوو). نو دلته د انسان شک له منځه ځي او هغه داسې چې ولې له کومې خوا يا د چا په لاس دومره زياتې پيسې يودم پيداشي چې په شا يې ګرځوو، د ضرورت په وخت کې ولې نه وي.

دپرابلم طرح کول : د نوې ديموکراسي له راتګ سره په هېواد کې زياتې غږيزې، تصويري اوچاپي رسنۍ را منځ ته شوې يوه هم خپلواکه نه وه مصارف به خارجيانو ورکول دوی به فقط سندرې يو څه شعارونه او هغه خبرونه خپرول چې له نورو رسنيو څخه به يې اخستل . هيڅ داسې ملي اساسي برنامې او پاليسي يې نه لرله چې زمونږ د جنګ ځپلي ملت او وران هېواد په درد خوږلي وی ؟ بلکه اکثرو يي انجويي بڼه لرله ل نو ! له ماسره به تل دا ستونزه مطرح کيده چې

ايا يوازې له پېښو خبرېدل،د موضوعاتو شنل او تبصرې ددې باعث دي چې رسنۍ او ټولنه يو له بل سره دومره ژورې اړيکې لري ؟

ولې ورې بې ضرورته او عادي پېښې لويی ګڼل کيږي ؟

ولې ځينې مهمې ملې پېښې له خلکو پټيږي ؟

ولې ټولنه خپل سرنوشت دڅو کسانو په لاس کې داسې ورکوي چې اصلا همدغه د دوست په جامه کې ځينې يي لوی دښمنان دي ؟

ځواک او کمال يې په څه کې دی؟

دا او دې ورته نور مسايل وو چې زه يې دې ته وهڅولم چې بايد درسنيو او ټولنې ترمنځ پر اړيکو او ضرورتونو باندې يو داسې څه وليکل شي چې هم ټولنه او هم رسنۍ خپله دنده او مسوليت وپېژني .

## دڅيړنې تګلاره:

ددې اثر په ليکلو کې ما له کتابتوني تحقيق څخه استفاده کړې، چې ډېری دغه کتابونه له ۲۰۱۲ کال څخه دماستري او دوکتورا د، ډګري لپاره دسيمې په هېوادونو کې ليکل شوي او د موضوع مربوط ژوندي مثالونه مې د هېواد او سيمې هغه روان حالات دي،چې کوم د زبرځواکونو ترمنځ د کش مکش په پايله کې رامنځ ته شوي دي او له دې سره مې دخپل علمي ژوند هغه اکاډميکې تجربې،چې ددې ۱۲کالونو دتدريس په پايله کې مې ترلاسه کړې دي د اثر له لوستونکو سره شريکې کړې دي.

## موخې:

ددې علمي اثر له ليکلو څخه مو اهدف عبارت دی له .

- ✓ :دشيخ زايد پوهنتون دژورناليزم په پوهنځي کې تر دې عنوان لاندې (رسنۍ او ټولنه ) يو نوی مضمون په کاريکولم کې ځای په ځای شوی چې علمي موادو ته يې اړتياوه ددې علمي اثر په ليکلو سره مو مشکل حل او کاپي مواد مو لاس ته راوړل .
- ✓ :ددې علمي اثر په رڼاکې کولی شو چې هغه اصول او لارې زده کړو چې څنګه د ټولنې غوښتنې درسنيو له لارې چارواکو او مسو لينو ته او ددوی اوامر ټولنې ته ورسوو .

- ✓ ددې مضمون په لوستلو سره به وکولی شو چې څنګه د ټولنې منفي (دښمنانه ) افکار په مثبت (دوستانه ) باندې بدل کړو (دمغزو مينځل) .
- ✓ ددې مضمون په لوستلو سره به وکولی شو چې څنګه د ټولنې عامه رايي درسنيو په وسيله داسې سره همغږې او متحدې کړو چې تل ملي ګټې وپالي او د دښمنانو له مضرانه اغراضو څخه ځانونه وساتي او په مقابل کې يې جدي غبرګون وښيی.

## دڅېړنې اصلي پوښتنې :

- ➢ داچې په اوسني عصر کې رسنۍ د عامه اذهانو دتسخيرولو لپاره بهترينه وسيله ده نو هر څوک ورته ضرورت لري چې بايد له دې عصري او اصلي وسيلې څخه کار واخلي ولې مشکله داده چې هر څوک يې نه شي استعمالولی ځکه استعمال يې ځانګړی هنر غواړي ددې لپاره چې موږ هم له دې وسيلې څخه ښه ګټه پورته کړې وي نو څېړنه کې مو لاندې پوښتنو ته دځواب موندلو هڅه کړېده .
- ➢ :ولې په نړۍ کې رسنيو ته د څلورم ځواک په حيث کتل کيږي ؟
- ➢ : ټولنې د څه لپاره په رسنيو دومره باورلري چې دژوند په ټولو چارو کې ددوي اواز او اعلان ته سترګې په لار وي ؟
- ➢ : څنګه کولی شو د دښمنانو له مضرو تبلغاتو څخه ځان او ټولنه وساتو ؟
- ➢ څرنګه کولی شو چې خپل ملي ارزښتونه او ملي ګټې د رسنيو له لارې وپالو او هم يې وغوړو ؟

څنګه کولی شو درسنيو له لارې د ټولنې عامه رايې را خپلې او په خپله ګټه يې وڅرخوو؟
ددې تر څنګ مو په څېړنه کې لاندې فرعي پوښتنو ته هم ځوابونو هڅه کړېده .

## فرعي پوښتنې :

په رسنيو کې هغه کومې لارې چارې دي چې موږ يې په وسيله ټولنې عامه رايي همغږي کولی ،تخريبولی،پارولی اوتعميرکولی شو؟

دکومو اصولو له لارې کولی شو چې خپلې موخې په ټولنه باند پرته له دې عکس العمل راسره وښی يي پرې ومنو ؟

لوی ځواکمن هېوادونه څه ډول دبې سواده او غريبو ملکونو مادي او معنوي هستي له سينو لاندې کوي ؟

بله لويه پېښه داوه چې!کله موږ له خارجيانو سره دنوي کاريکولم په اړه نظريات مطرح کول نو ما ورته دتبليغاتو خبره ياده کړه دوی سمدستي رد کړه او يو غبرګون يې وښود.

ماته پوښتنې پيداشوې چې ولې دوی په خپل هېواد کې دتبليغاتو پوهنتونونه او انستيتونه جوړ کړي ؟ هغه کسان پکې روزي چې بيا يې د نړۍ مهمو هېوادونوته د مهمواو کره دندو لپاره لېږي لکه سفارتونه خارجه وزارت او بيا په ډېرو مهمو برخو کې ګومارل کيږي....او موږ ته ددې اجازه هم نه راکوی چې د تبليغاتو مضامين پکې تدريس کړو او بل داچې دشيخ زايد پوهنتون د ژوزناليزم په پوهنځي کې ياد مضمون(تبليغات) تدريس کېده هرچا چې تدريس کاوه، نو ښت يې پکې نه دی کړی او نه يې هم څه تغييرات پکې راوړي دي.

حال داچې داسې مهم مضامین باید کال په کال نوي او اپډېټ شي چې محصلان له دې نړۍ اوسیمې له نویو خوځښتونو ،کارونو او هغو پېښو پلانونو څخه خبرشي چې د سیمې نړۍ او ټولنې لپاره مضر یا ګټور تمامیږي ، نو دهمدې مشکل دحل په خاطر ما دپوهندوی علمي رتبې ته د ترفیع په خاطر د رسنۍ او ټولنې موضوع د څېړلو لپاره کار پیل کړ او په څنګ کې مې د تبلیغاتو برخه هم زیاته کړه.

دا ټولې هغه ستونزې وې چې تل به یې زه کړولم نو مې توکل په خدای کړ او دې کار ته مې ملا وتړله، نو ددې لپاره چې د رسنیو له دې ستر او ځواکمن نعمت څخه دنړۍ مظلوم افغان ملت هم خپل هېواد په اساسي مادي او معنوي رغونه کې ګټه واخلي نو مې لازمه وبلله چې په دې هکله باید علمي کار وشي چې مونږ هم دخپلې مظلومې ټولنې پاک ،ساده ،او ناپوهه افکار د ظالم دښمن له ناروا او ناوړه تبلیغاتو او دسیسو څخه وساتو.

ما ددې څېړنیز علمي اثر په لیکلو کې له هغو علمي ، کره او اساسي اثارو څخه ګټه اخېستې چې لیکوالان یې دمسلک په رڼاکې درسنیو له لارې دتبلیغاتود پلانونوپه جوړولوپه لار اچولو،پلي کولو او د موخې د لاس ته راوړلو په اړه ښې پخې تجربې لري او په خپله سیمه کې ښې ساري دي . لکه پوهاند حبیب الرحمن هاله په افغانستان ،محمد افتخار او خورشید په پاکستان او ناظم په ایران کې دیادولو وړ دی .

او همدارنګه مې په رسنیو کې د هېواد پالنې په هکله داسې معلومات لیکلي چې که درسنیو مسؤلین او کار کونکي ترې کار واخلي نو له مسلکي مسؤلیت سره به یې ملي ګټې هم پاللې وي، ځکه په هېواد کې ډېرى شته رسنۍ د نورو لپاره کار کوي هیڅ ملي پالیسي نه لري او نه هم ملي ګټې پالي، بلکې غیرمستقیم دهغه چا لارې او چارې څاري چې دوی ته مصرف ورکوي.

## تیرو لیکنوته کتنه :

دځمکې په غېږ کې مختلفې ټولنې ژوند کوي ، هره ټولنه ځانګړي دودونه او معنوي ارزښتونه لري چې وکړي یې دخپل ژوند په درشل کې پالي ،د غښتلتیا لپاره یې ګامونه اخلي او زیار باسي د همدغو دودونو په لمن کې ځان، هوسا او خوښ ګڼي .افغانستان هم په نړۍ کې ځانګړی هېواد او اوسیدونکي یې ځانګړي دودونه ،ضرورتونه او غوښتنې لری چې ددې عصر له غوښتنو سره سم باید له نورې نړۍ سره مساوي او موازي قدم وو وهي نو د همدې ضرورت پر بنا لازمه ده چې ، په هېواد کې د رسنیو اوافغاني ټولنې په اړه داسې یو علمي اثر ولیکل شي چې په وسیله یي زمونږ شته ستونزې دچارواکو غوږونو ته ورسوي ، ښې پوهې او ساده وګړي مو د هېواد د دښمنانو له اضرارو څخه خوندي او وساتي ولې تر اوسه داسې قانع کوونکي علمي اثار نه دي لیکل شوي او که چیرې لیکل شوي هم وي نو دوخت ضرورت نه شي پوره کولی ډیرې یې نیمګړتیاوې لري و لې دسیمې په هېوادونو کې په دې هکله کره علمي اثار لیکل شوي ، هغوی هر هغه څه کړی دي چې ددوی د ټولنو لپاره په درد خوري او زمونږ دټولنو لپاره ډېر موثر نه تمامیږي .په امریکا هندوستان ،اندونیزیا، او پاکستان کې د ژورنالیزم او عامه اړیکو پوهانو *( درسنۍ او ټولنې)* په هکله کتابونه لیکلي ، و لې دهغوی اوزمونږ ټولنې په هر لحاظ یو له بل سره توپیر لري .

پوهاند محمدحسین ،افتخار په خپل علمي اثر *(ماس کمونیکشن )* ۲۰۱۳کې د رسنۍ او ټولنې په اړه د عصر مطابق په زړه پورې معلومات لیکلی دي ولې ده هرڅه دپاکستاني ټولنې په اړه لیکلي دي ، او نیمګړتیا یي داده چې ده هم هغه اصول او قواعد چې په وسیله یې ټولنه څنګه را جذب

،څنګه يې همغږې او څه دول  يې د دښمنانو له  مضرو پروګرامونو څخه وژغورو، نه دي ښودلي  ، حال داچې باید په دې  حادو حالاتو کې د دا ډول مسایلو په اړه کره معلومات  لوستونکواو ژورنالستانو ته  وړاندې شي څو  د دښمنانو له خطرناکو  پروګرامونو څخه  خپله بې سواده  ټولنه  بچ وساتلی شي .

دوخت او عصر مطابق کتاب چې  **Paul HodKinson**په  ۲۰۱۱ کال کې د ***Media and society***  تر عنوان  لاندې لیکلی  په زړه  پورې  علمي کتاب  دی  ، د وخت غوښتنې یې په نظر کې نیولې دي خو هر څه یې  دغربي ټولنې  په رڼاکې څېړلي دي  نورې نړۍ دټولنو په هکله یې  داسې څه نه دي لیکلي  چې  زمونږ  لپاره په کارشي .

همدارنګه پوهاند محمد زابر ،بدر ،سعید په خپل علمي  اثر *(ابلاغیات ۲۰۱۱)*  کې  دټولنې او رسنۍ په اړه په  زړه پورې معلومات لیکلي دي   مګر نوموړي  هغه اهم ټکي  (تکتیکونه )چې د رسنیو له لارې څنګه د ټولنې  معنوي اساسات ساتلی ،رغولی او  په مقابل کې څنګه د دښمنانو  دتبلیغاتو مخه نیولی شو نه د ي  په ګوته کړي  همدغه یې د ضعف ټکی دی .

همدارنګه   دکابل پوهنتون دژورنالیزم   پوهنځي پخواني  استاد محترم  پوهاند حبیب الرحمن هاله لیکلی علمي اثر  *(افکار عامه  وتبلغات)*  په   ۱۳۷۱  کال کې لیکلی  په دې علمي اثر کې  دتبلغاتو دپېژندنې ،ډولونو  په   هکله په   زړه پورې معلومات لیکل شوی دی ، ولې نیمګړتیا یي داده چې د تبلغاتو  په تکتیک ، اصو لو  او هغو لارو چارو یې داسې کره څه نه دي لیکلي   چې داوسنیو حالا تو په  رڼاکې مور  ته له مشکلاتو او کړاوونو څخه د خلاصون لاره وښی یی .

دکابل پوهنتون د ژورنالیزم پوهنځي استاد پوهاند هدایت الله وفا د *(نقش مطبوعات  درافکار عامه) په نامه په ۱۳۸۸*کال کې  کتاب لیکلی  دی نوموړي  محترم پوهاند حبیب الرحمن هاله له علمي اثر افکار عامه وتبلغات څخه ګټه اخستې  داسې نوی نوښت او ابتکار یې نه دی کړی  څه چې استاد هاله  لیکلي  ده هم همغه مسایل تشریح کړي  ، داسې نوښت یې نه دی کړی چې  د نورو دضعف ټکي  پرې  درمل شي  .

ورور  احمد رسول تسل  په کال ۳۹۲ کې د (رسنۍ او ټولنه) ترعنوان لاندې وړوکی خو ډېر له مفهومه او معلوماتو ډک کتاب  لیکلی دی  چې  داوسنیو ټولنو او رسنیو ترمنځ یې اړیکې ، یو پر بل یې تاثیرات ،درسنیو رول ، درسنیو ځواک ،او د عامه رایو په بدلون کې درسنیو تاثیر  اړوند یې  ډېر په زړه پورې معلومات لیکلی چې ما هم ورڅخه ګټه اخستې ده . ولې  ددې اثر نیمګړتیاوې  دادي   چې نوموړي  درسنیو مثبتې ګټې بیان کړې دي  ،او منفي اړخونه یې  لکه څنګه چې لازم دی ،نه دي ذکر کړي  ، حال داچې درسنیو زیان او ګټه دواړه باید جدي  په  نظرکې ونیول شي .

بله نیمګړتیا یي  داده چې  ده هم هغه تکتیکونه او اصول  نه دي ذکر کړي کوم چې  په  اوسنۍ عصري نړۍ کې د رسنیو دواکدارانو ،مالکانو تنظیمونو، اوهېوادونو  له  خوا په لار اچول کیږی .

نو دذکرشویو نیمګړتیاوو دحل   دیو ملي او مسلکي مسولیت له مخې  زه خپل ضمیر دې ته مجبورکړم چې په دې هکله ، داسې علمي اثر ولیکل شي چې  دوخت او ضرورت  په نظرکې نیولو سره  زمونږ هېوادوال ،بالخصوص ژورنالستان ورڅخه لوړه ګټه پورته کړي   او له شته رسنیو څخه څنګه  داسې ګټه واخستلی شي  لکه  څنګه یې چې نوره نړۍ  ترې اخلي ، نو ځکه ما دا موضوع جدي وګڼله چې  د(رسنۍ او ټولنې )تر عنوان لاندې  دغه   علمي اثر ولیکه چې اقلا د وخت  ۶۰ فیصده  ضرورتونو او غوښتنو ته ځواب ویلی شي .

دذکرشویو عالمانو د اثارو په رڼاکې  ما په ټولو هغو برخو کار وکړ چې له دوی څخه پاتې او  یا یي کمه توجه ورته کړې و ه  داچې انسان ضعیف دی کیدی شي  له  ما څخه هم  ځینې  مهم ټکي پاتې

شوي وي  له هغو استادانو څخه احترامانه هیله لرم چې  زما د ضعف  نقاط راپه ګوته  کړي څويي اصلاح کړم . او یا هم په راتلونکې کې  کار پرې وګړم  .

رسنۍ(**Media**):

رسنيو ته  د ژورنالېزم عالمانو بېلا،بېل تعريفونه کړي دي، موږ هم ورته د موضوع اړوند یو څو تعريفونه  ددې لپاره ليکو چې  ويې پېژنو.

رسنۍ: د اړيکو او معلوماتو،له هغه چاپي او برېښنيايي وسيلو څخه عبارت ده چې خلکو ته هر اړخيز خبرونه او مالومات لېږدوي.

رسنيو ته په انګليسي ژبه کې(مډيا) وايي او د مېډيم جمع، مډيا ده،چې د منځ او منځنۍ وسيلې مانا لري دا ځکه چې رسنۍ د ټولنې او دولت تر منځ منځګړيتوب کوي او په اړيکه کې يوه وسيله ګرځي.

رسنۍهغه وسيلې دي چې په مټ يې ډېرى کسانوته په  يوځل اطلاعات، معلومات ، افکار اونظريات رسيږى، چې عموما په دوو لويو برخو وېشل کيږي ( برقي او چاپي ).(۴۳۲:۱۰)

د رسنيو له نوم څخه ځرګنديږي، چې دنده يې رسونه ده، يانې ټولنې ته دمالوماتورسونه اولېږدونه په غاړه لري چې دغه رسونه د ځينو وسايلو، سرچينو او نورو په مټ تر سره کيږي.

په عمومي توګه مډيا يا د رسنيو نوم د اړيکو بېلا،بېلو وسيلو ته کارول کيږي،چې په هغه کې ورځپاڼه،راډيو، تلويزون، انټرنېټ او نور شامل دي،چې دا ټول د رسنيو بېلا،بېل ډولونه دي.

۱- چاپي رسنۍ:

دا هغه رنسۍ دي چې د چاپ ماشين د راوتلو سره يې کار پيل کړی دی او خلکو ته په چاپي بڼه مالومات او نور خبرونه وړاندې کوي لکه: ورځپاڼه،کتاب،مجله،پمپلټ،پوسټرې او داسې نور.

۲- برېښناېې رسنۍ :

دا درسنيو هغه ډول دی،چې د برېښنا د انرژۍ پر مټ خلکو ته مالوماتي، تفريحي او ښوونيزې خپرونې کوي،لکه راډيو، تلويزون، انټرنېټ  او داسې نور.

ټولنه(**Society**):

د ټولنې په اړه که څومره معلومات وليکل شي بياهم کم دي ځکه د ټولنې لمن دومره پراخه ده چې  عالمان يې له هر اړخيز ډول معلوماتو څخه عاجز دي  او نه شي کولی چې د ټولنې په هکله هغه  ډول  ضروري معلومات راټول کړي لکه څرنګه چې لازم دي؛ ځکه دټولنې پراخه  غير ، تنوع، مذاهب،کلتور،سياست، سيمې، د حکمتونو سياستونه او بڼې ددې باعث ګرځي چې سل په سلوکې مطلوب معلومات نشي راټولېدای.  ولې بيا مو هم تر خپله توانه هڅه کړې،چې د ټولنې  او رسنيو تر منځ د اړيکو او پېژندنې په اړه  لنډ معلومات راټول کړم، خو د رسنيو له لار ې دټولنې د پالنې  رغونې همغږي تعمير او تخريب په هکله مې په زړه پورې داسې معلومات  ليکلي چې ان شاء الله لوستونکي او ژورنالستان به يې د زړه له تله ولولي ، اصلاً دواړه  ډېر اورده  او  ځانګړي بحثونه دي چې علماوو په دې اړوند ځانګړي کتابونه ليکلي دي،چې موږ ته ضرورت نشته  ولې د ضرورت په اساس مو هغه څه کړي چې لازم دي .

ټولنه د وګړو هغه ډله ده، چې په منظم ډول يو له بل سره ژوند کوي.

ټولنه  دافرادو يوه ډلګۍ  ده چې  ګټې  او زيان يې سره تړلي  وي.

ټولنه دخلکوله بېلابېلوټوکمونو،مذهبونو،رواجونو، ژبو، مليتونو او قومونوڅخه عبارت ده،چې په متحدډول،تريوه مدني قانون اوبيرغ لاندې ژوندکوي،ددوی غم،ښادي،ګټې اوتاوانونه سره شريک وي.(۲۱۳:۹)

ټولنه د انسانانو هغه مجموعه ده چې د ژوند ډېری چارې يې يو بل پورې تړلې او شريکې وي.

ټولنه هغه انساني کتله ده چې دندې او کاري ژوند يې سره تړلی وي .

په يوه ټولنه کې عموماً دری ډلې ( قشره) خلک اوسيږي :

د ټــولنې لـــوړه طبقه

د ټولنې منځنۍ طبقه

د ټــولنــې ټيټــه طبقه

او د جنس له مخې په دوه ډله ده چې نارينه او ښځې دي

د يوې ټولنې ،د خلکو ملي ورځې او رخصتۍ يوه وي. ټولنه په سيمه ايزو،ملي او نړيوالو ټولنو وېشل کيږي ...

## د رسنۍاوټولنې ترمنځ اړيکې:

ژورنالېست بايد د خلکو او ټولنې له منځ څخه را ټوکېدلی وي،څو د ټولنې له خلکو سره ناسته ولاړه ولري او د ټولنې د ودانۍ يو رکن او يا پايه وي؛ دا ځکه چې د ټولنې په منځ کې ژوند کول، د هغوی له خوږو ترخو څخه خبرېدل او د ټولنې په غم او ښادۍ کې ګډون کول،دا ژورنالېست ته په خپل کار کې يو نه پرېښودونکی عاطفي اصل ټاکي،چې بيا له دغو اوصولو څخه تېرېدنه، يوه ربښتني ژورنالېست ته ناشونی کار بريښي.

که چېرې ژورنالېست دټولنې له خوږو اوترخو څخه بې خبره وي، هغه د هغې ټولنې له درد ،غوښتنو ، احساساتو او ضمير څخه نه شي خبرېدلی ، کله چې ژورنالېست دټولنې له ټولو رازونوڅخه خبروي نو بيا دټولنې له اساسي موخو څخه سمه دفاع کولی شي ، کله چې دی د يوې ټولنې له ارزښتونو دفاع کوي نو په نتيجه کې دټولنې دباور سبب ګرځي بيا چې هرڅه وايي ټولنه پرې کره اعتماد لري، نو ځکه خو وايوچې ژورنالېستان د ټولنې نماينده ګان ،دټولنې ضمير او دټولنې استا زي دي.

په همدې بنسټ له کوم وخت راهيسې چې د ژورنالېست او ټولنې تر منځ دغه نه شلېدونکې اړيکه جوړه شوې ده له هماغه راپه دې خوا د رسنيو او ټولنې تر منځ هم اړيکې پيدا شوې دي، ځکه يو ژورنالېست مجبور او مکلف دی چې له ټولنې سره نه شلېدونکو اړيکو په خاطر او د ټولنې د غږ د خپرولو او لېږدلو لپاره له داسې يو خپرنيز ارګان سره کار وکړي چې هغه ورته د ځه مادي او معنوي امتيازاتو سره ، سره خپل خپرنيز وسايل په اختيار کې ورکړي، ځکه چې له وسايلو او امکاناتو پرته ، چارواکو ته د ټولنې د ستونزو او غږ رسول هېڅ امکان نه لري.

پس ويلای شو چې ژورنالېست ، د ټولنې او رسنيو تر منځ د يوې ټينګونکې کړۍ په څېر مهم رول لوبولی شي، چې بيا وروسته دغه ارتباطي کړۍ تر چارواکو پورې هم غځيږي.(۲۳:۱۱)

يوه ټولنه په خپل ژوند کې ، د پرمختګ او پرېکړې نيونې په خاطر تازه او کره مالوماتو او خبرونو ته اړتيا لري،چې دغه خبرونه د دوی د ژوند سياسي، اقتصادي، ټولنيز، تفريحي، پوهنيز، ښوونيز او مذهبي لورو ته بدلون ورکولی شي،نو دوی ناچاره وي،چې د يو ځانګړي کس په واسطه د يو داسې ارګان سره اړيکه کې شي تر څو هغوی ورته دا هر څه برابر کړي، دغه ارګان به رسنۍ وي

چې ټولنې ته هره ګړۍ هر اړخیز مالومات ورکوي او په همدې طریقې سره د دقیقو او ریښتینو مالوماتو په بنسټ د دوی تر منځ د باور او اعتماد فضا رامنځ ته کیږي.

په همدې ډول د دوی اړیکې د ورځې په تېرېدو سره لا پیاوړې کیږي، خو که په دغه وخت کې د رسنیو له خوا لږه څه بې غوري وشي، نو د نه پاملرنې په صورت کې به دغه د باور جوړې شوې فضا ته سخت زیان ورسېږي او کېدای شي چې د دوی تر منځ اړیکې ډېرې ترینګلې شي، ځکه یوازینی شی چې ددوی ترمنځ تړاتو او دوام پیدا کوي هغه ور دی او بس (27:13-28-29)

یوه ټولنه رسنیو ته د یو ډاډ من بنسټ په سترګه ګوري،ځکه کله چې د یوې ټولنې چارواکي د بې ثباتۍ او فساد پر لور روان وي، همدا رسنۍ دي چې د ولس خبرو ته غوږ ږدي او هغوی ته ډاډ ګیرنه ورکوي.

رسنۍ باید د ټولنې له هغو پټو رازونو څخه پرده پورته نه کړي چې د ټولنې ارزښتونه پرې زیانمن کیږي. ولې زموږ اوسنۍ ځینې رسنۍ فقط زموږ د ملي او اخلاقي ارزښتونو په تباکولو، له منځه وړلو او تخریبولو لګیا دي، دوخت دولت ړوند دی، کوڼ دی او ګونګ دی، دناتواني یا خارجي لاس وهنې له کبله هېڅ ورته نشي ویلی او که ورته ووایي هم نو زور یې پرې نه رسیږي.

له هر لوري زموږ مذهبي، عقیدوي، اخلاقي، پښتني او ملي دودونه له پښو لاندې کیږي. کاش زموږ رسنۍ زموږ ملي ګټې او ملي هویت وپالي.

رسنۍ مکلفې دي، چې د ټولنې په خوښه او اوصولو برابرې خپرونې وکړي او د یوې ټولنې ارزښتونو ته پوره درناوی ولري، نو که رسنۍ له ټولنې سره په پورتنیو اوصولو وچلیږي د دوی اړیکې به لا پیاوړې او غوړیږي.

## د رسنیو ډولونه :

رسنۍ په ټولنه کې د نفوذ له مخې په دوو ډولو وېشل کیږي.

۱ـ ډله ییزې رسنۍ

۲ـ ټولنیزې رسنۍ

ټولنیزې رسنۍ د ډله ییزو رسنیو پر وړاندې:

ټولنیزې رسنۍ: دا د رسنیو هغه ډول دی چې یوه ځانګړي کس کارونې ته په کاریږي، د ډله ییزو رسنیو په پرتله دا ډول رسنۍ د یو کس نه بل کس ته د اړیکو ټینګولو لپاره هم استعمالیږي لکه: خبرې کول،اشارې او د لاس حرکت،لیک لیکل،ټیلفون کول او داسې نور.(۳۴۵:۹)

د ځانګړې رسنیو پخوانۍ بڼې د کارونې له مخې ډېره اسانه وه چې خبرې کول،اشاره کول بې د خبرونې تر ټولو اسانې لارې وې او په دغه ډول کې د ټیکنالوجۍ استعمال ته دومره اړتیا نه پېښېده.

مګر د دغو رسنیو یوه نیمګړتیا دا وه چې د لرې پرتو سیمو او ډېرو خلکو او اوربډنکو تر منځ پرې اړیکې نه شوای ټینګېدلای،همدا سبب و چې د ډله ییزو رسنیو راتلو ته بې لاره هواره کړه او لومړنی ګام بې ډېرو خلکو ته د لیک پیل و چې د لیک یا ورځپاڼو پیل منځ ته راغی.

ډله ییزې رسنۍ: دا د رسنیو هغه ډول دی چې د خلکو د یوه ټولګي له خوا کارول کیږي او په ټولیز ډول خپرونې کوي، لکه: ټلویزون،ورځپاڼې، راډیو، انټرنېټ او داسې نور.

د نوې ټیکنالوجۍ په پرمختګ سره د رسنیو نوې بڼې هم رامنځ ته شوې او د دغو رسنیو د کارونې ورتیا موږ ته وښودل شوه،چې د دغي کارونې ورتیا هم له نوې ټیکنالوجۍ سره ارتباط لري.

نن یو عادي وګڼی کولی  شي،چې د یو ژورنالست په شان له یوې سیمې د پېښې په هکله لنډ جالب او تازه معلومات ټولې نړۍ ته ورسوي. ښه بېلګه یې په  اسرایلو کې د اور لګېدنه وه،چې لومړني خبرونه یې په فسبک کې خپاره شول .

اوس د اړیکو په ټینګولو کې د نوې ټیکنالوجۍ پر مټ ډېری خلک دا وړتیا پیدا کوي،چې  په خپلواک ډول له نړۍ سره اړیکې ټینګې کړي او د هغې هرې برخې ته لاسرسی ولري.

د بېلګې په ډول (نیویارک ټایمز) ورځپاڼه په یوټیوب کې،چې د نړۍ له مشهورو ویبپاڼو څخه ده،یو چینل لري،چې په هغه کې هر چاته دا اجازه شته، تر څو ترې بېلابېلې ویډیو ګانې ډاونلوډ او اپلوډ کړي.(۳۶:۱۱)

همدا ډول د (کرنټ ټلویزون) چې یو امریکایي ټلویزوني شبکه ده،(۲۴) ساعته خپرونې کوي او ټولې خپرونې یې لیدونکو ته په زړه پورې دي، هره ګړۍ پکې خلک پرته له کوم ځنډه ګډون کولای شي او د رسنیزو محتویاتو او تولیداتو څخه یې ګټه پورته کولای شي.

په چین کې یوه مشهوره ویبپاڼه چې(بایډو) نومیږي او یوازې په چینایي ژبه خپرونې کوي،خپلو خلکو ته په لویه کچه خدمت کوي، د بېلګې په ډول خپلو خلکو ته یې د دوی په خوښه  د هر ډول رسنیو د انځورنو اونورو محتویاتو د لټونې حق ورکړی او هم په ټولنیزو اړیکو او نورو مسایلو کې پوره ونډه اخلي،چې دغه ویبپاڼه کې خلکو ته په پوره ډول ازادي ورکړل شوې ،چې خپله ونډه پکې ادا کړي.

په ټولنه کې د رسنیو اغېز:

رسنۍ له همدې نفوذ څخه په ګټې اخېستنې، د ټولنې په مثبت روزلو او هم د ټولنې د معصومو(پاکو) خلکو په بې لارۍ کې پوره اغېز لري؛ خو ښې رسنۍ هغه وي،چې د ټولنې په مثبت بدلون کې ونډه واخلي او ټولنه د خپلو بستیزو او بشري حقوقو څخه خبره کاندي.

دا یوه ستره ستونزه او ننګونه ده چې د پرمختګ له کاروان څخه وروسته پاتې ټولنې او هم د پرمختګ په لارې د روانو هېوادونو ټولنې لا تر اوسه هم پخپلو بنستیزو حقوقو خبرې نه دي او که خبرې پرې هم وي، نو د خپل ژوند کولو په طریقه نه پوهیږي،چې دوی ته څومره ازادۍ ورکړل شوې دي او دوی باید په ژوند کې د پرمختګ لپاره څه وکړي او د خپل حق د غوښتلو لپاره چېرته لاړې شي.

دا ډول خلک حتی له خپلو ټولنیزو مسؤلیتونو او وړتیاوو هم نا خبره دي دظلم اوظالم پر وړاندې یولاریون یاغږ هم نه پورته کوي،ځکه د سوله ییز لاریون او تظاهر اتو په ارزښت ناخبره دي او هم نه دي پوه کړل شوي.

ربښتینې رسنۍ د پر مختللو ټولنو په جوړښت کې ارزښتمن رول تر سره کوي، رسنیو د نړۍ ټولنو ته بې کچې بدلون ور په برخه کړی دی چې څوک ترې سترګې نه شي پټولی؛ځکه دا بدلونونه زموږ په څېر وروسته پاتو ټولنو ته په ټلویزونونو کې ښودل کیږي،چې د هغو د مثبتو کړنو څخه د بشري ژوندانه په پرمختګ کې ګټه پورته کړو.

رسنۍ په ټولنه کې دمالوماتو او اړیکو تر ټولو باوري سرچینې ګڼل کیږي، نو ځکه باید د چاپي او برېښنایي رسنیزو مالوماتو سترې زېرمې ولري.(۱۵۷:۲۷)

لکه مخکې چې مو ورته اشاره وکړه،ورځپاڼې،مجلې او نور هغه څه، چې په لاس لیکل شوي یا چاپ شوي وي په چاپي رسنیو کې راځي او په برېښنایي رسنیو کې راډیو،ټلویزون،انټرنېټ او داسې نور شامل دي، چې په نړۍ کې نن سبا بې شمیره تلویزوني چینلونه او ګڼ شمېر ورځپاڼې شته ،چې هره یوه یې په خپلو ملي او نړیوالو ارزښتونو ولاړه وي او د ټولنو په پرمختګ کې لوی لاس لري.

رسنی یوازې د ځانمرګو بریدونو،بې ګناه ماشومانو او ښځو له مړینې څخه د ټولنې د خبرولو لپاره نه دي رامنځته شوې،بلکې د نوې ټکنالوجۍ او په ژوند کې د نېکمرغۍ  لاملونو د سپړنې او ښوونې دنده هم په غاړه لري او دا د رسنیو په اوږو یو درونډ مسؤلیت دی؛ځکه اوس د ټولنې او ولس زړونه په رسنیو پورې تړلي شوي دي او دوی باید،چې د هغو د زړونو پالنه او ساتنه وکړي.

خلک په دې پوهیږي چې رسنۍ دوی ته د هرې ټولنې اصلي څېره انځوره وي او د هغو انځورونو او مالوماتو په بنسټ د ټولنې خلک خپلو اندونو ته په یوه لوري میلان ورکوي.

لنډه داچې رسنۍ په یوه ټولنه کې د لاندې دلایلو په لرلو سره ښه  رول درلودلی شی:

رسنیو ته په نړۍ کې د ځلورم ځواک په حیث کتل کیږي.

رسنیو ته دیوې ټولنې د ښوونکي او معمار خطاب کیږي.

رسنیوته د ټولنې دهېنداري په حیث کتل کیږي.

رسنیوته د ټولنې دساتونکي او پالونکي په حیث کتل کیږي.

رسنیوته د دولت او ملت ترمنځ د پله په حیث کتل کیږي.

رسنیو ته د ټولنې دضمیر  په حیث کتل کیږي .

رسنیوته د ټولنې دروزونکي په حیث کتل کیږي.

دپورتنیو ذکرشویو نقاطو په نظر کې لرلو سره رسنۍ د باور او اعتماد وړ ګرځېدلې دي .

او همدارنګه د لاندې نقاطو له برکته رسنۍ په یوه ټولنه کې د اغېز څښتنې کېدلی شي.

کله چې ټولنې ته سمه اطلاع او خبر ورکړي.

د ژوند دمختلفو مسایلو په هکله دتحلیلي او شنونکو موضوعاتو سالمه شننه او سپړنه،چې خلک دمهمو او ګرمو پېښو په هکله سالمه پرېکړه وکړي.

کله چې دمهمومبهمومسایلوپه اړوندرسنۍ ټولنې ته هغه لاره  وښیي، چې دوی ژر سمه لاره وټاکي.

په مختلفو سیاسي اقتصادي او نظامي مسایلو کې له طنزیه او نه ماتېدونکې خورې ژبې څخه کار اخېستنه  بالخصوص کالمونه ، فیچرونه .. (۱۹:۲۱)

د مهمو ملي مسایلو او پېښو د رامنځ ته کېدو په وخت کې   دملت د راپارونې او تحرک په وخت کې د ټولنې دزړه دساتلو په خاطر ملي ګټې ساتل او پالنه  او په دې هکله مختلفې تبصرې او بحثونه .

د دښمن په مقابل کې د سالمو تبلیغاتو کول،چې د دښمن د تبلیغ مخه ونیول شي .

د مختلفو ملي سیاسي مسایلو په وخت کې د عوامو نظر پوښتنه هم اړینه او ضروري ده.

داړینو کارونو لپاره  بعضې وخت د حکومت د امرونو،پلانونو او غوښتنو تشریح،تفصیل هم مهم دی،چې عامه اذهان پوه شي، چې دولت څه غواړي (سرلیکنې او شننې ).

او بالاخره  دتجارتي مسایلو لپاره اعلانونه هم  د رسنیو اغېز ښیي .

په ټولنه کې د رسنیو ځواک:

ټولنیزې رسنۍ  په اوس  وخت کې  ډېرې مؤثرې او په نړۍ کې  دیو مثبت حرکت پاروونکې وسیلې دي چې باید له اغېز څخه یې سترګې پټې نه شي . په عربي نړۍ کې دعربو پسرلی یې هغه نمونه ده،چې په مصر کې یې په ۲۰۱۳ کال کې داسې تغیر راوست،چې نړۍ یې حیرانه کړه، دحسن مبارک  واک ته یې د پای ټکی کېښود او په ځای یې د اخوان المسلمین د ډلې قانوني حکومت منځ ته راوست .

ددغه بدلون  په رامنځ ته کولو کې د ټولنیزو رسنیو څخه ټویټر، فسبوک  دومره لوړ رول ولوباوه، چې اوس  دسعودي عربستان حکومت  دټویټر مسؤلینو ته ۵۲ میلیونه ډالر  په دې خاطر ورکوي،چې که چېرې  دعربو دپسرلي په نوم څه خپرېدل؛ نو هغه ترې لرې کوي .په ټولنه کې ډېرى سیاسي،ټولنیز،اقتصادي او نور بنسټونه فعالیت کوي،چې د قانون په رڼا د خپلې کاري ساحې اړوند یو ځواک او صلاحیت لري،چې په مناسب وخت کې ترې کار اخلي. په دغو بنسټونو کې یو هم رسنۍ دي،چې په ټولنه کې لاندې ځواک لرلی شي.

لومړى باید په دې وپوهیږو،چې د یوې لویې ټولنې د هوساینې لپاره رسنۍ کوم کارونه تر سره کولاى شي؟

١: رسنۍ د مانا څخه د ډکو بحثونو په منځ ته راوړلو او جوړولو کې ستره ونډه لرلی شي.

٢: ټولنې ته ښوونه او روزنه ورکولاى شي.

٣: ټولنې ته په کلتوري برخو کې خبرتیا،لوړتیا او ...... ورکولاى شي.

۴: د فرهنګونو او دودونو تر منځ په پوهاوي  او را پوهاوي کې د پله حیثیت خپلوى شي.

۵: د ټولنې په را ویښولو،خبرولو،پوهولو او د ژوندانه د تیارو په روښانولو کې لوى لاس لرلی شي.

۶: مهم موضوعات څرګند او پټ رازونه بربنډولی شي.

٧:په ټولنه کې تلپاتې سوله راوستلی او ټینګولی شي.

اوس باید په دې هم ځانونه پوه کړو،چې رسنۍ د دومره مثبتو کړنو تر څنګ د یوې لویې ټولنې د تباهۍ او بې لارۍ لپاره کوم کارونه تر سره کولاى شي؟

١- په ټولنه کې منفي او غلطې نظریې خپرولی شي.

٢- خپل لیدونکي،اوریدونکي او لوستونکي په لرې بې پروایۍ له لاسه ورکولی شي.

٣- مهم موضوعات غلط تعبیرولی شي او د ټولنې خلک پرې ډېر ژر تېر اېستلی شي.

۴- په قصدي ډول ربښتني کارونو ته پېچلې بڼه ورکولی شي ، چې د ټولنې خلک پرې پوه نه شي.

۵- ناپوهۍ ته وده ورکولی شي.

٦- په ټولنه کې نا ارامي او وېره خپرولی شي.

٧- تشدد ته لاره هواروي او تشددي نظام په ټولنه کې ټینګولی شي.

د پورتنیو مواردو په شمول،په ټولنه کې رسنۍ  لا ډېر ځواک لرلاى شي،د بېلګې په ډول رسنۍ زموږ په هوښیار توب او تنبلۍ کې خپله ونډه په ښه شان سره تر سره کولاى شي. رسنۍ ټولنه  هیله منده یا د نا هیلۍ لور ته سوق کولاى شي، ښه او بد حالت یې ساتلی او بدلولی شي. د ژوند د مشکلاتو د حل لارې جارې ورته ښودلی شي او بالاخره ویده او خوبوړي خلک د غفلت له خوبه راویښولی شي.

رسنۍ راتلونکي نسلونه  د هر اړخیزې روزنې لپاره چمتو کوي او یا برعکس د راتلونکیو نسلونو د بې لارۍ جوګه او د ټولنیزو پرمختګونو پر وړاندې خنډ ګرځېدلی شي. رسنۍ په کره ډول چې وي په ټولنه کې خپل ځواک ازمویي.

کېدى شي، چې د رسنیو دغه ځواک او اغېز تر کلونو کلونو پورې څرګند نه شي، خو پایلې یې هېڅکله او په هېڅ صورت پټې پاتې کېداى نشي. د رسنیو د منفي ځواک په پایله کې لاندې جدي مسایل تر سترګو کیږي:

اختطاف،جنسي تېرى،په ټولنه کې ښکنځلو دودېدل او له قانون څخه د ځان په ګټه کار اخېستنه، وژنو او بې لارۍ کې لوى رول لوبوي.

هرډول تشدداوهغه ډرامې،فلمونه او خپرونې چې د ځوانانو دبد اخلاقۍ سبب ګرځي په پاکستان کې هغه فلمونه چې په پښتو ژبه خپريږي له هرانساني اوپښتني اصولوڅخه خارج دي، چې درانه پښتانه يې د انسانيت او بشتني کلتور له اصولو ايستلي دي.

د کم عمره ماشومانو ميلان جنسي مسايلو ته.

ګډوډ اخلاقي نظام.

مخدره توکو او الکولو کارونه.

بې تهذيبه ژبه دودېدل.

د غيرې قانوني اعمالو ډېرېدل(اداري فساد)، د دولتي ځمکو غصب او ټوپک سالاري.

په ښځو کې د غيرې واقعي ښکلا او سينګار ډېرېدل(په مخ د پوډرو او نورو کيمياوي توکو مښل).

مذهبي استبداد او داسې نور.

بداخلافي، د کورني نظام خرابوالی او بې بندوباري.

د عامه نظر په بدلون کې  د رسنيو ونډه:

رسنۍ د خلکو د اندونو او نظرياتو په بدلون او بله بڼه ورکولو کې لويه ونډه لري،رسنۍ په بېلا،بېلو تلګ لارو او طريقو سره کولی شي،چې دا ټول د دوی په خپرونو پورې اړه پيدا کړي.

ددې خبرې ښه بېلګه پاکستانۍ رسنۍ دي،چې دخپلو خلکو نظرياتو ته يې د پاکستاني طالبانو پر وړاندې بدلون ورکړ،دوی په سوات کې د پاکستاني طالبانو له خوا د يوې ښځې په درو وهلو ويديو کليپونه په وار،وار د رسنيو له خوا وښودل شول.د دغه ويديو کليپ ښودلو نه مخکې په سوات کې د طالبانو پر وړاندې د حکومت د پوځي عملياتو له سببه عامه نظر ګډوډ کړ،ليکن د دغه لنډ ويديويي کليپ په وار،وار ښودلو او خپرولو سره ناڅاپه عامه نظر بدلون وکړ او له حکومت سره يې د شپې په عملياتو کې مرسته وکړه او همدارنګه په دوهم پړاو کې د ټاکنو د بهير يې ښه بېلګه ده.

بله بېلګه يې هم دملالې يوسفزۍ موضوع ته د رسنيو له خوا لمن وهل و چې د حکومت او خلکو لپاره ډېره اغېزمنه پرېوته.

بله ونډه چې رسنۍ يې په يوه ټولنه کې د ټاکنو پر مهال سرته رسوي، هغه د يوه نا پېژند نوماند خلکو ته په هر لحاظ ورپېژندل دي، چې دا کار د هغه په سياسي کمپاينو کې شونی دی، ښه بېلګه يې د ولس مشر ډاکټر اشرف غني او ډاکټر عبدالله انتخاباتي مقابله وه او دخلکو هغه مبارزه وه چې رسنيو د ډاکټر اشرف غني لپاره وکړه  .

کېدای شي چې يوه ټولنه مخکې له ټاکنو نه يوه نوماند شخص په اړه غلط نظر ولري، خو د دغه نوماند شخص له خوا په رسنيو کې د ټاکنيزو کمپاينونو له لارې عامه نظر د ده پر وړاندې بدلون مومي او په پای کې ډېرې رايې تر لاسه کوي.

## په اوسنۍ نړۍ کې د رسنيو اغېز:

په ننني نړۍ‌کې رسنيوته دخوړواوجامويه څېريوه اړتياليدل کيږي، رسنۍ د ټولنې اوسېدونکو ته د ورتياوو او استعدادنو په وربخښلو کې د پام وړ رول لوبوي،رسنۍ يوې وروسته پاتې ټولنې ته د يوې پرمختللې ټولنې د هېنداري بڼه غوره کړې ده،چې په هغه کې ځان ويني او که وواېو چې رسنيو نن ځان د هرکور د غړي په توګه ځان په خلکو منلی دی ځکه داسې کور به نوي چې هغه په کور کې رسنۍ ونه لري. حتی علمي برنامې په نړۍ کې د چين، پاکستان او نورو هېوادونو په رسنيو کې خپريږي نو ځکه د هر کور د غړي حيثيت هم لري.

نن سبا د رسنيو له برکته د نړۍ د خلکو په ژوند کې يو بې ساری بدلون رامنځ ته شوی دی او د دوی د ژوند لوری پې بدل کړی دی .

د رسنيو موخه د نړۍ د خلکو خبرول او په نړۍ کې د بېلا،بېلو نويو رامنځ ته شويو بدلونونو او خلکو ته د ډول، ډول سينګاري توکو په اړه معلومات ورکول دي په ځانګړي ډول په غربي ،عربي او هندي سيمو کې .

رسنۍ په نړۍ کې د هغو خلکو تر منځ اړيکه هم ټينګوي چې د يو او بل له احوالو څخه بې خبره وي او يا همد جغرافيوي واټونو په اساس سره وېشل شوي دي.

د رسنيو رول ته په نړۍ کې د (راکړې ورکړې) اصطلاح هم ،کارول کيږي؛ ځکه چې له دې لارې څخه د نړۍ بېلابېلې ټولنې خپلې انګېرنې او تجربې سره شريکوي او يا هم د هېوا د خپلو سوداګريزو توکو د بازار موندنې لپاره د بل هېواد په رسنيو کې سوداګريزې خبرتياوې خپروي،لکه زموږ افغاني رسنۍ چې د ګاونډيو او بهرنيو هېوادونو سوداګريزې خبرتياوې ډېرې خپروي.

رسنۍ له نړۍ څخه دا حق غواړي تر څو د نړۍ د خلکو په زړونو کې د حق، انصاف او ربښتينولۍ څخه ډک حکومت جوړ کړي،مګر د نړۍ په چارواکو کې حرص،ځان غوښتنه او د ځان لويي د رسنيو د دغه نهضت مخه نيسي او ښيګڼه او سپېڅلتيا يې په زهرو ککړوي.

رسنيو ته کېدای شي،چې د سياسي ډيموکراسۍ اصطلاح watch dog(واچ ډاګ)وکارول شي؛ځکه واچ ډاګ هغه اصطلاح ده چې ارګان يا شخص مسؤليت لري ، چې د نورو ارګانونو کارونه و څاري ،چې آيا هغوی د معيار او قانون اړوند چارې تر سره کوي(۸:۵۸۹۰،۵۸۹)

له ډېر وخت راهيسې د رسنيو ټينګار يوازې په خبرونو غولېدنه ده او بس، نن سبا خبري اژانسونه او رسنۍ غواړي هغه خبرونه په نښه کړي،چې له دوی سره د نړيوالو مالوماتو په خرڅلاو کې مرسته کوي،چې دوی وکولای شي، چې د پرمختګ لوړو پوړيو ته ورسيږي او د خپلو بېلا،بېلو وسيلو او چينلونو مشهورتيا ته لاره پرانيزي.

## په جنګي حالاتو اوداخلي اړو دوړکې درسنيومسؤوليت:

په داسې هېواد کې لکه اوس اوس چې په افغانستان کې ورسره مخامخ يو، رسنۍ بايد په دغسې شرايطو کې د امکان تر بريده د يوه مثبت بدلون راوړونکي عامل رول تر سره کړي، په جګړه کې د ښکېلو ډلو د روغې جوړې په منځ ته راتلو کې دې يو داسې منځګړيتوب تر سره کړي ،چې دواړه خواوې د ورورۍ په غولي سره غېږ په غېږ او د ناولي دښمن ناروا ارزوګانې له خاورو سره خاورې شي.

رسنۍ په خپل هوښيارتوب اوځواک په ډېرې اسانۍ سره کولای شي، چې ډېر مشکل، ناګواره نظامي، سياسي،اقتصادي او ټولنيز کړکېچونه حل او فصل کړي.

رسنۍ په ازدانه ډول کولی شي،چې په ټولنه کې په هر ډول بنسټونو ، د نيمګړتياوو په ليدو نيوکه وکړي.خبري رسنۍ بايد د ټولنې دهر سياسي نظام د اصلاح او بدلون په خاطر او د ټولنې په کړکېچنو حالاتو کې، دټولنې په ټولو طبقو کې يو ځواکمن احساس وزېږوي.(۱۱:۲۸،۱۷)

د رسنيو د مسؤوليتونو مدافع وکيلان هم د دې غوښتنونکي دي چې رسنۍ بايد د ټولنې د خلکو په منځ کې د مذهبي،ژبني،قومي او نورو تعصباتو د لمن وهنې څخه ډ ډه وکړي او په ټولنه کې د منفي جزياتو د پارېدنې او دهغو پېښو د خپرونې څخه ځان وژغوري، چې په ټولنه کې د ګډوډۍ باعث ګرځي،که نه بيا د ټولنې په خلکو کې د نورو په حقوقو تېرى،نورو ته سپکاوى، د ملکيت غصب، اداري او ا خلاقي فساد، ناوړه رويه او نورې بدمرغونې پايلې را ولاړيږي او په څرګند ډول په

ټولنه کې ناپوهۍاوجهالت ته لمن وهل کيږي،چې په دغسې حالاتو کې بيا د زورواکو له خوا په ښکاره توګه د هېواد نافذ قوانين تر پښو لاندې کيږي، چې بدبختانه نن سبامونږ په خپله افغاني ټولنه کې د پور ته ناوړو پايلو شاهدان يو. اللهج مو دې ژر له ظالمانو، مفسدانو او خاينانو خلاص کړي (امين).

په ډيموکراتيکه ټولنه کې درسنيواعتبار،ګټورتوب او مرام دا دی، چې تر څو خلکو ته د ټولنيز عدالت په راوستلو کې مرسته وکړي او د خلکو د حقوقو او خپلواکۍ ساتونکې وي.

رسنۍ په نړۍ کې د بشپړ ثبات په راوستلو او ټينګولو کې د معجزې په ډول څرګندېدلای شي، د حکومتونو په ټينګښت او نظام د تعادل په ساتلو،هستوي وسلې او د غيرې نظامي ګواښونو ،لکه بنسټ پالنې او د تروريزم د پېژند ني او ورسره د مبارزې په چارو کې ستر رول لوبوي. د تر هګريزو کړنو په ورپېژندلو او شنډولو کې له امنيتي ځواکونو سره مرسته کولای شي.

رسنۍ د هېوادونو تر منځ د ستراتېژيکو اړيکو او بهرنيو پاليسيو په لا غښتلتيا او لا پياوړتيا کې ستر مسؤوليت لري. ژونالېست بايد پخپل ښوونيز رول هم وپوهيږي،هغه دا چې د ټولنې د پرګنو روحي کنترول ، څارنه او روزنه په غاړه لري او دا رول بايد د يو ماهر او هنر مند ښوونکي په څېر تر سره کړي.

زمونږ په افغاني ټولنه کې ژونالېستان د هرې ټولنې تر ژونالېستانو ډېر درونډ مسؤوليت او مهم رول لوبوي،دا ځکه چې ټولنه مو نا لوستې ده او د ژوند په عادي مسايلو هم نه پوهيږي،نو دا د ټولنې د نورو لوستو کسانو تر څنګ د ژونالېست دنده هم ګڼل کيږي،چې دغه خلک مثبتو لارو ته دعوت کړي او دوی له دې لارې څخه د ژوند له خوندونو خبر کړي.

ژونالېست په ټولنه کې د سولې،وروګلوی،پرمختګ او د تعادل او توازن يو ښه سمبول ګڼل کېدای شي. په ټوليز ډول ژورنالېست نه يوازې د بشر د حقوقو ساتکونکی دی،بلکې بايد په دې هم ځان ډاډه کړي،چې آيا د ټولو هغو مظلومو خلکو غږ چارواکو اورېدلی که نه چې حقوق يې تر پښو لاندې شوي دي؟ له ۲۰۰۰ م کال څخه وروسته څه دپاسه ٤۰۰ خبريالان په نړۍ کې مړه شوي چې د اکثريتو وژنې سياسي بنه درلوده.

ژونالېست د ټولنې د ماشومانو د ښه راتلونکي ذمه وار دی او په هره برخه کې چې وي ، د هغو د شخصيت او راتلونکي په جوړښت کې مهم عنصر ګڼل کېږي.

ژونالېسټ بايد د ټولنې خلکو ته د دې قربانۍ د ورکولو روحيه ورکړي، چې هغوی له خپلو شخصي ګټو څخه د ملي ګټو په لور وخوځوي،څو سر ښېندنې ته چمتو او د نورو دحق له خوړلو څخه ځان وساتي.(223:16)

## رسنۍ او هېواد پالنه :

دا چې رسنۍ د اوسني عصري ژوند يوه عظيمه برخه ده،اوپرته له رسنيو ژوند ممکن له لوی کړاو سره مخامخ شي، هغه داچې د اړيکو په ټينګولو کې به ښلا،بيل خنډونه او خنډ مخ ته راشي چې په پايله کې به يې انساني روابط سخت ټکني شي؛ نوځکه حکومتونه، ګوندونه او لوی قوي،نظامي، اقتصادي، سياسي او کلتوري خوځښتونه هڅه کوي چې د خپلو سياسي، اقتصادي، نظامي، کلتوري اهدافو لپاره لومړی رسنۍ ولري اوکه يې ونه لري له نورو رسنيو سره د خپلو پاليسيو په نظر کې نيولو سره تړونونه کوي څو خپلو اصلي موخو ته ورسيږي.

دا چې رسنۍ د ټولو اساسي موخو د لاسته راوړلو لپاره لومړۍ درجه ارزښت لري، څو د عامه رايو (دټولنې افکارو) ځواکمنتيا، همغږي، لارښونې او تعميرلپاره کره اوبارز رول ولوبوي؛ نو لازمه ده

چې په هېواد کې شته رسنۍ په يو کلک عزم او هوډ سره خپله پاليسي داسې جوړه او پلې کړي،چې ټولې ملي ګټې پکې وساتي او درناوی ورته وکړي؛ ځکه چې رسنۍ د نړۍ دټولو نظامي، جنګي ځواکونو په نسبت ډېرې ځواکمنې، اغېزمنې اوکم مصرفه دي.

رسنۍ کولای شي د انساني ټولنې افکارپرته له جنګ، توپ، وژنې، تخريب او زورونې څخه تسخير او داسې يې تابع کړي، چې د تل لپاره امر ته غاړه کيږدي.(435:9)

له ۲۰۰۰ ميلادي کال څخه راوروسته دهېواد په هر ولايت کې په لسګونه غږيزې راډيوګانې شتون لري، ولې متاسفانه ټولې يې داسې خپرونې، خبرونه، پروګرامونه او معلومات خپروي، چې د هېواد د ملي منافعو سره په ټکر کې دي؛ځکه دوی کومه ملي پاليسي نه لري ،چې دهغې په رڼاکې خپله اداري پاليسي تنظيم او پلي کړي نو دځان دبقا لپاره مجبورې دي، چې له نوروداخلي او خارجي رسنيو څخه معلومات راټول اوبيايې خپاره کړي.

هغوی له دولتي، يا خپلواکو هغو سرچينو څخه معلو مات را اخلي، چې د نورو هېوادونو، سازمانونو، ګروپونو او يا هغوګوندونو په اختيار کې وي، چې زمونږ د ملي منافعو خلاف خپرونې، پروګرامونه، خبرونه او معلومات خپروي.

اکثريت يې داسې خپرونې او خبرونه خپروي، چې په هېواد کې د ټولنو، قومونو او ملتونو ترمنځ تعصبات راوپاروي. يا داسې خبرونه خپروي،چې هغه زمونږ ملي او کلتوري هويت ته لويه ضربه رسوي؛ نو ددې لپاره چې مونږ ددې لوی نعمت ( رسنيو) څخه چې په کمو مصارفو د ټولنو تاريک ذهنونه روښانه کړي وي، د جهالت، ناپوهۍ او بې علمۍ له لارې څخه يې د پوهې، انسانيت او شرافت لارې ته متوجه کړي وي، لازمه او مناسبه ده،چې د خپلو رسنيو له لارې ديوې منظمې ملي پاليسۍ په رڼاکې داسې خپرونې او معلومات خپاره کړو چې خپلې ټولنې ملي ، عقيدوي، مذهبي او کلتوري پولې پرې وساتوو .

ددې لپاره چې ملي منافع او ارزښتونه وپېژنو په لنډ ډول يې تشريح کوو، چې محصلان له دې معلوماتو څخه خبر شي او د ساتنې ،غوړيدا او لا پياوړتيا لپاره يې کار وکړي .

## په رسنيو کې دملي ارزښتونو ساتنه :

ديوې خاورې هستوګن خلک که خپل هېواد او ملت سره ريښتينې مينه ولري؛ نو لازم دي ،چې دخپل ملت دملي ارزښتونوساتل، مادي او معنوي ګټې په نظر کې ونيول، سياسي او اقتصادي آزادي، ملي حاکميت، ځمکنۍ بشپړتيا، ملي افتخارات، ملي تاريخ، ديني مقدسات، ملي ترمينالوژي، ملي امنيت څخه دفاع او ساتنه د هېواد سره واقعي او رښتينې مينه او وطن پالنه ده او ساتنه يې دهر افغان ملي ديني او ايماني وجيبه او د عصر ټولنې رسنۍ يې بهترينې وسيلې دي .

په دې برخه کې رسنيز ځواک تر بل هر ځواک مهم رول لوبولای شي؛ نو بايد دولتي او شخصي، برقي او چاپي رسنۍ په ژمنتيا او رښتيني ډول د افغان ملت د ملي ارزښتونو د ساتنې او پياوړتيا لپاره پراخ چوپړ ته ملا وتړي. دا يو څرګند حقيقت ده، چې د رسنيو چتر ډېر پراخ او عامه اذهان په خپل قلمرو کې رانيسي. د رسنيو مسؤلين بايد داسې نشوونيز او روزنيز مطالب په خپلو خپرونو کې وړاندې کړي چې د ټولنې په اذهانو کې د ملي ارزښتونو احساس راژوندی، تروتازه وساتي، د ملت وګړي په ارزښت ور ته قايل، رښتينې مينه او علاقه ور سره وښيي، په دې اساس به افغان ملت د يو متحد، پياوړي او متمدن ملت په حيث ثابت شي.(185:18)

د هر ملي ارزښت د پياوړتيا او پراختيا لپاره ځانګړې ادارې ( حکومتي اداري) کار کوي، خو رسنۍ يو داسې هر اړخيز او ځواکمن ارګان دی، چې په عينې وخت کې د ټولو ملي ارزښتونو د

پیاوړتیا او پراختیا لپاره کار کولای شي او هم یې په اړوند دهر باسواده اوبې سواده افغان سر خلاصولی شي.

## د ملي ارزښتونو پېژندنه:

دیوملت د ټولو ګډو دیني، کلتوري، فرهنګي، سیاسي، اقتصادي، نظامي، جغرافیوي ، تاریخي، ادبي، فولکلوریکو او نورو موخو لاسته راوړل او پالل اوسائل د یو هېواد ملي ارزښتونه بلل کیږي. همدارنګه د یو هېواد طبیعي زېرمې، زراعتي محصولات، مالداري او نور هم د ملي ارزښتونو په قطار کې راځي. د افغانستان ټول وګړي، چې ددې هېواد په ټاکلو حدودو کې ژوند کوي ددې هېواد د پرمختګ، ابادۍ او سوکالۍ لپاره کار کوي، دهېواد په ملي شتمنیو کې یو شان حق لري، ملي ارزښتونه یې شریکه مادي او معنوي شتمني ده او عموما لاندې عناصر دیوې ټولنې ملي ارزښتونه بلل کیږي (۴۵:۷).

مذهبي (عقیدوي) مسایل،کلتور،ځانګړې جغرافیه، ملي امنیت،ملي وحدت، ملي هویت، ملي ژبې، ملي ترمینالوژي، ملي افتخارات، ملي فرهنګ، ملي سیاست، ملي اقتصاد،نظامي ځواک،ځمکنۍ ملي ادبي فولکلور،د هېواد طبعي زېرمې،محصولات،مالداري،ملي سرود،ملي بیرغ،ملي نښان ملي لوبه،ملي اتڼ...اونور زمونږدملت ګډ ملي ارزښتونه دي، چې ځینې مهم به یې دنمونې په ډول په تفصیل سره واضح کړو.

### (ا) عقیدوي (مذهبي) مسایل:

دین، عقیده او مذهب په ملت او د ملت په کړنو،ارزښتونو او نورمونو مستقیم اغېز لري؛ نو په دې اساس، د دینې یووالي څخه پرته د ملیت یا هم د ملت پالنې حس نیمګړی پاتې کیږي.

د کلتوري خپلواکۍ لپاره اقتصادي مبارزه کیږي، چې دغه مبارزه او کلتوري خپلواکي بیا په سیاسي خپلواکۍ بدلیږي، په ځانګړي ډول په هغو ټولنو کې چې دین اوعقیده یې په فکري ډول خپله کړې وي، هلته بیا دین د ملت د تشکیل لپاره یو مهم عنصر ګڼل کیږي.ځینې پوهان وایي چې مذهب د ملت د تشکیل لپاره لازم جز نه دی؛ څکه چې سینګاپور په اسیا او سویس په اروپا کې دپرمختګ او صنعت له کبله پر مخ تللي هېوادونه دي خو د ژبې او قومیت له مخې وحدت نه لري د سړي سر کلنی عاید یې له ۶۴۰۰۰ امریکا یي ډالرو زیات دی،حال داچې دنفوس اندازه یې پنځه نیم ملیونه دی او دافغانستان په نسبت نهه سوه ځله وړوکی دی مذهبي وحدت هم نه لري چې بودایان ،عیسویان،مسلمانان،..... او هندوان پکې اوسیږي ؛خو خلک یې ټول سره یو او متحد دي چې د یووالي راز یې د قانون په حاکمیت کې دی ،هغه ټولنې او هېوادونه چې هلته قانون نافذ وي خلک قانون ته غاړه ږدي ،هلته ملي وحدت تامین دی؛ څکه چې ظلم نه کیږي، دچا حق نه تلف کیږي او نه په چا ظلم کیږي .

برعکس په هغو ټولنو او هېوادونو کې قانون ته څوک غاړه نه ږدي چې ظلم ،فساد او بې عدالتي وي. هلته نو دمظلوم غږ څوک نه اوري، ټولنه مجبوریږي چې د ځان دساتنې لپاره قوم ،ملګري ،ډلې ،ګروپ ،رشوت او یا هم نارواته لاس ور وغځوي؛ځکه دی پوهېږي چې د مظلوم دغږ د اورېدلو څوک نشته . یوازې ډله،ملګري او ګوند به مو ساتي نه قانون. په دې ډول ټولنو کې چې دبېرته پاتې کېدو اصلي عامل یې هم د قانون نه عملي کیدل دي ،قانون ورته د پښې (پیشو) قباله معلومیږي ، زموږ د هېواد اوسنی حالت همدغه دی؛ځکه چې د قانون په شتون یا نه عملي کیدو کې خلک د ځان

دساتنې لپاره له ډلو ټپلو وژنو او نورو ناروا اعمالو څخه ګټه اخلي. د کندوز ،بدخشان ،هلمند، زابل او نورو نا امنیو اصلي عامل همدغسې مسایل دي .

د مثال په ډول (سیندي عالم جي ایم سید) یو مثال وړاندې کوي، که چېرې سیندي مسلمانان دین پرېږدي، بیا هم سیندیان دي، ولې مسلمانان نه دي، (73:15).

دا مثال د هغې ټولنې لپاره صدق کوي، چې اسلام یې د فتوحاتو په نتیجه کې خپل کړی وي، یعنې یوې ډلې د زور او ځواک په ډول دغه ځای فتحه کړی او بیا یې د اسلام مبارک دین دوی ته ښودلی او پرې منلی یې دی،مګر په فطري لحاظ یې نه وي قبول کړی، ولې په یوه داسې ټولنه کې چې دین یې په رضا او فطري ډول منلی وي لکه افغاني ټولنه، په داسې ټولنه کې بیا دین د ملت تشکیلوونکی عنصر دی.

په افغاني ټولنه کې له اسلامي عقیدې پرته د ملت پالنې حس نیمګړی دی؛ځکه افغانان فطرتاً مسلمانان وو، یعنې په فطري ډول د اسلامي ارزښتونو، معیارونو، اصولو، اخلاقو، عاداتو او رواجونو در لودونکي وو.په بل عبارت دمشرانوقدر، مېلمه پالنه، ابروساتنه، عدالت، وطن سره مینه،غیرت،نیکنامي،حیا،دمظلوم لاس نیوی اوداسې نورې ځانګړنې یې درلودې. کله چې د دریم خلیفه حضرت عثمان غني رض په وخت کې افغانستان ته اسلام راغی، نو د افغانانو له فطرت سره یې مطابقت درلود، په همدې سبب افغانانوفطرتاً اسلام قبول کړ اود نورو ملتونو په نسبت یې‌د اسلام په خپرولو،ساتلو او دفاع کې برخه اخېستې او تر اوسه یې کره ساتنه کوي،چې د اسلام د سپېڅلي دین له برکته د افغان ملت تر منځه نورې ټولې پولې او سرحدونه له منځه لاړل یوازې اسلام ددوی د یو والي مهم عنصر وګرځېده.

که چېرې د یو ملت په تشکیل کې له مذهب ځینې تېر شو، نو په دې ملي ټولنه کې به مذهبي او عقیدوي ډلې ټپلې راځرګندې شي، د ملي وحدت د لارې خنډ به شي، چې له مخې به یې د ملت ترمنځ فاصلې او تعصبات پیدا شي،بیا به تر پېړیو د حل لار و نه لري ،پس معلومه شوه چې دیني، مذهبي یاعقیدوي ارزښتونه،د ټولنې د ملي یووالي لپاره خورا تعمیري رول لري، ولې زموږ دښمنان په سخت مغرضانه کمین کې پراته دي غواړي زموږ دیووالي او وحدت دا سپېڅلی سنګر راګډ وډ او بدنام کړي چې نمونې یې موږ په دې نږدې کلونوکې ولیدې(په هېواد کې د مختلفو مذهبي ډلوراپیداکول) او ترمنځ یې اختلاف او،اوس د عیسویت خپرېدل.

ددې لپاره چې د دښمن دا پلان مو شنډکړی وي؛ نوپه دولتي او غیر دولتي رسنیو کې هر ژورنالیست باید د دیني ارزښتونو د پیاوړتیا او عقیدوي پولو د ساتلو لپاره، د خپل ځان او ملت د خیرپه خاطر نه ستړي کېدونکې او نه ختمېدونکې هڅې و کړي او دغه کار د ځان لپاره فریضه وګڼي؛ځکه دین زموږ په ټولنه کې یو ډېر مهم عنصر بلل کیږي.

څرنګه چې اسلام د مسلمانانو ترمنځ په حیاء، یووالي، وطن پالنې او همکارۍ باندې امر کوي؛ نو که چېرې زمونږ د رسنیو ژورنالیستان دیني ارزښت په پالیسیو، خپرونو او پروګرامونو کې وپالي؛نو له دیني ارزښت سره، سره به یې خپل ملي سپېڅلی کلتور او وحدت ته هم د پام وړ خدمت کړی وي؛ځکه زموږ ملي کلتور، ملي وحدت، امنیت، هویت، ملي ژبې او ادبیات هم د اسلام له سپېڅلي دین څخه مشتق او ورسره نه شلېدونکې اړیکې لري.

افغاني ټولنه خپل منځي، ټولنیز کورنی ژوند اوروابط د اسلامي امن، یووالي، کلتور او دودونو په رڼا کې غواړي، نه دنورو غیر ملي دودونو په رڼاکې .

دا چې رسنۍ دیو ملت د ژبې حثیت لري، نو مسؤلینو ته یې لازمه ده، چې په هېواد کې دا سلام دستر پیغمبرص د ارشاداتو په رڼاکې د افغاني ټولنې افکار روښانه او ځلانده کړي .

## (۲) ملي کلتور:

کلتور د لاتیني کلمې(Cultura)څخه اخېستل شوې،چې په انګلیسي کې ورته ( Culture) ویل کیږي او په اصل کې د یوې ټولنې ټولې مادي او معنوي لاسته راوړنې، چې د تاریخچه اوږدو کې له یو نسل بل نسل ته په میراث پرېښې وي ، ټولو ته د منلو وړ وي او وار په وار پیکه او صیقل شوي وي، کلتور بلل کیږي.(234:18)

لکه: ژبه، جامه،ودانۍ،کرهڼه،ګاڼې،ناسته پاسته،غم،ښادي،خوراک، څښاک، غونډې ، رسم او رواج، ولسي موسیقي، سندرې، ادبیات او داسې نور له کلتور سره تړلي توکي دي. ولې ځینې پوهان تاریخ او ملي افتخارات هم د کلتور برخه بولي. کلتور یوه ښوونیزه او روزنیزه ټولنیزه پدیده ده، نه ارثي.

کلتور د عاداتو او تجربو څخه تشکیل شوی دی، چې خلک یې د خپل ژوند په اوږدو کې زده کوي او راتلونکي نسل ته یې په میراث پریږدي، نو همدا وجه ده چې که څوک دخپل کلتور څخه خبر نه وي، بیا د نورو کلتورونو ،تر اغیز لاندې راځي او خپلوي یې. (۷: ۱۴ )

دا چې ټولنیزې او ډله ییزې رسنۍ د ملت له مختلفو قشرونو سره اړیکې لري ؛ نو په ډېره اسانۍ سره کولای شي، چې د خپلوخپرونو په مټ خپل ملي اسلامي کلتور په خلکو کې ژوندی وساتي، که یو ژورنالېست دا کار وکړي نو د ملي دفاع او پیاوړتیا په لار کې به یې خپله اسلامي او ملي فریضه اداء کړې وي، همدا رنګه به یې خپل ژورنالیستیک مسؤلیت هم په رښتیني ډول تر سره کړی وي.

د پانوف په نوم یو لویدځ ټولنپوه وایي:

(کله چې یو غالب کلتور په بل کلتور تیری وکړي؛ نو دې ته قاتل ویلی شو؛ ځکه کله چې یو ملت کلتور ونه لري، هغه په مړو کې شمېرل کیږي).

غرب د دیموکراسۍ تر جامې لاندې د ښځو د حقوقو په نامه غواړي،چې زموږ د ملت کلتوري مناسبات، روایات او هویت ګډوډ کړي او د بې بندوبارۍ، بې سرۍ، بې سترۍ او بې پروایۍ کلتور پکې پلی کړي او دغه کار هم د ډله ییزو رسنیو په وسیله په موږ تطبیقوي .

همدا رنګه د ښځو د کار او په ملي رول کې د ګډون په بانه غواړي، چې زموږ ملي عنعنات او اسلامي ارزښتونه له منځه یوسي او زموږ ملي ټولنه په یوه بې بندوباره او بد اخلاقه ټولنه بدله کړي، بې حیایي ، فحشا او همجنسبازي یې ښې نمونې دي او هم په هېواد کې د ژبنیو تضادونو، سمتي اختلافاتو او کلتوري توپیرونو د رامنځ ته کولو له لارې خپلې ژبې او کلتور ته وده ور کوي او د یو پیاوړي کلتوري یرغل له لارې غواړي زموږ د ملي کلتور معنوي رسۍ کمزورې او و شلوي.

که زموږ د خاورې مسلمان ملي ژورنالیستان چې په کومو رسنیو کې کار کوي یا هم د رسنیو نماینده ګان دي، خپلو رسنیزو پالسیو کې اسلامي اصول اوافغاني کلتوري ارزښتونه په بشپړ اوجدي ډول په نظر کې ونه نیسي، نو پوه دې شي،چې هېواد سره به یې ډېر لوی او نه جبرانېدونکی خیانت کړی وي،چې په لمبو کې به یې زموږ دټولو هېوادوالو راتلونکی نسل او اولادونه سوزیږي.

## (۳) ځمکنۍ بشپړتیا:

د هېوادونو سرحدونه، دهېوادونو ملي حریم او سیاسي پولې دي، چې د تاریخ په اوږدو کې د نړۍ سیاسي ویش پرې ولاړ دی او ملتونه یې د دفاع او حفاظت لپاره قرباني ورکوي. (۸: ۶)

ملي تاريخ،د ملت تصور په جغرافياوي وحدت يا په ځمکنۍ بشپړتيا پورې تړي؛ځکه په هغه وخت کې چې بشر د ځمکې پر مخ گرځېده، دوی په همفکرو ډلو ووېشل شول، چې پېژندگلوي يې په جغرافيوي حدودو پورې تړلې وه، دغه جغرافيوي حدود بيا د ملتونو په ټاټوبو بدل شول، د هر ملت وگړي په خپل ټاټوبي کې مېشت شول، وروسته بيا د هېواد يا وطن نوم ور کړل شو.

پس له دې د هېوادونو د معلوموسرحدونو، مساحتونو، آب وهوا ،او جغرافيوي يووالي د ملتونو په اذهانو اغېز وکړ، په دې اساس د ملت او هېواد تر منځ يو روحي او فزيکي تړاو پيدا شو، چې دغه تړون او احساس ته مونږ هېواد پالنه او له خاورې سره مينه وايو. (۷: ۸، ۹)

ددې لپاره چې زمونږ د ملت دهرې طبقې وگړي د هېواد خصوصي حريم په ارزښت او پېژندگلوۍ و پوهيږي، نو د هېواد رسنۍ بايد د داسې په زړه پورې خپرونو له لارې، چې په ځرگند ډول د هېواد د جغرافيوي يووالي پيغام پکې له ورايه ښکاري، په ملي او اسلامي روحيه د هېواد ټول خلک و پوهوي او همدارنگه د ملت اذهان په داسې ډول و روزي، چې تل يې د هېواد د ځمکنۍ بشپړتيا سره مينه په زړونو کې پرته وي، د دفاع په لار کې يې د ځان او مال قربانۍ ته تل چمتو وي او هر وخت د دښمن دمقابلې لپاره دخپلې مور( خاورې ) دساتنې او پالنې لپاره سرښېندنې او مبارزې ته لاس په نامه ولاړوي،چې په اوسني وخت کې د ملت پالنې په سبب د جغرافيوي واحدونو د ساتلو لپاره مبارزه؛ ځکه اړينه بلل شوې، چې د هېواد ځمکنۍ بشپړتيا د ملت د جوړښت يو لازمي او ضروري عنصر دی. (۷: ۱۱)

## (۴) ملي امنيت:

سوله او امنيت د کورنۍ له چاپېريال څخه نيولې بيا د ملي ټولنې او هېواد په کچه د وگړو او ملت لپاره د خير کار دی، خپلواک، سوکاله او نېکمرغه ژوند او پرمختگ ته د لارې د هواري وسيله ده، چې د انسان ژوند ته خوښي،ښکلا او هر اړخيز سمون وربښي،د سولې او امنيت پرته د هېواد وگړي په هره برخه کې له مشکلاتو، سختيو او بدمرغيو سره لاس او گرېوان وي، ژوند له اختلافاتو او تورتم څخه ډک وي، بې ثباتي د يو هېواد ملي گټې او ملي ارزښتونه د خطر له زنگ سره مخ کوي؛ نو ددې مهم عنصر دساتنې لپاره د رسنيو مسؤلينو او کار کوونکو ته لازم دی چې د راوستو لپاره يې نه ستړې کېدونکې هڅې وکړي او هغه څوک، چې په دې لار کې خنډ گرځي ټولنې ته رسوا او بربنډ کړي ،چې يې ټولنه له شر څخه په امن وي؛ ځکه امن دنورو ټولو امورو کيلي ده، که امن نه وي؛ نو هېڅ نشته او که امن وي نو بيا دژوند دټولو نعمتونو او خوندونو رازمونډلی او څکلی شې .

## (۵) ملي وحدت:

افغان مسلمان ملت بايد د الله ج د امر په اساس له ټولو سمتي، نژادي، قومي او ژبني توپيرونو څخه لاس واخلي يوازې او يوازې داسلام د سپېڅلي دين ارشاداتو ته غاړه کېږدي څو له ټولو مشکلاتو څخه خلاص شو ، ځکه دوی ټول دهېواد اوملت اتباع دي.دخپلو ملي منافعو او ملي يووالي د چتر تر سيوري لاندې بايد ژوند وکړي. ټول قومونه په گډه سره دهېواد له خاورې،افغانيت او اسلاميت څخه په شريکه دفاع وکړي، هېواد يې کور، هېوادوال يې ورونه او دهېواد شتمني، ملي کلتور، ملي هويت ، دين، تاريخي وياړونه يې ملي ارزښتونه دي، چې پالل او ساتل يې پرهر افغان لازم دي او دتيري پرورواندې يې مبارزه دهر افغان اسلامي اوملي فريضه او مسؤليت دی ځکه الله ج ټول مسلمانان په يووالي ماموركړي دي او فرمايي: ژباړه ( تاسو منگولې ولگوئ دالله ج په رسۍ يانې قرآن باندې او بې اتفاقي مه کوئ). دسورة نوم او د ايات کريمه شمېره

ټول افغانان د خپل اسلامي او ملي کلتور، دود او رواج مطابق له یو بل سره همدرد او مرستندوی دي، د یو دبل په غم غمجن او په خوښی یې خوښیږي. که چېرې د هېواد وګړي په ځان ځانی او نفاق کې و اوسیږي، کله به هم سوکالي ابادي او ښه ژوند ونه لري، د ملي ټولنې او هېواد د پرمختګ لپاره ملي یووالی یو اړین شرط بلل کیږي، که موږ وغواړو چې د یو واحد او متمدن ملت په توګه نړی ته ځان ښکاره کړو شرط به دا وي چې لومړی دملي وحدت دپیاوړتیا او پراختیا لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړو، ترڅو دملت ترمنځ اتحاد په عملي ډول صورت ونیسي، پس له هغه به د واحد او متمدن ملت د بنسټ ډبرې اېښودو ته لار هواره شي.

که چېرې زموږ ملت په ملي او هر اړخیز ډول متحد نه وي؛ نو هېڅکله به د ښکرورو زورواکانو او یرغلګرو له زور زیاتي او یرغل څخه خلاص او په امن کې نشو، چې دغه کار هم رسنی په اسانی سره کولی شي او باید دې اصلي رسالت ته په صادقانه او ایماني عزم سره اوږه ورکړي، د بې اتفاقی هغه پایلې او ناخوالې چې دانساني ټولنې په منځ کې را ټوکیږي خلکوته په ډاګه کړو څو له دې ناوړه دود څخه په کلکه ځان وساتي.

## (۶) ملي هويت:

د یو هېواد په داخل کې د یو ملت تاریخي ویاړونو، افتخاراتو، کلتوري ارزښتونو، دیني مقدساتو او تګلارو، خپلواکۍ او ولسواکۍ ته ملي هویت ویل کیږي. په نړۍ کې مختلف قومونه، ملتونه او قبیلې په خپل ملي هویت سره پېژندل کیږي.(95:19)

الله(ج) زمونږ ملت ته ډېر تاریخي ویاړونه، کلتوري او مذهبي ارزښتونه، ملي غرور او د خپلواکۍ دوامداره جذبه ورکړي، په دې اساس یې ورته په زړه پورې ستر ملي هویت( افغانیت او اسلامیت) ور ښنلی دی د افغانانو هغه دودونه چې لري یې د نورې نړۍ په ملتونو او ټولنو کې نشته، لوی خدایج هغوی له دې لوړ نعمت څخه بې برخې پیداکړي دي، ذاتي استعداد، هېواد پالنه،لاس نیوی ،حیا ،غیرت دا هغه څه دي چې دنړی هېڅ ملت یې نه لری .

دتاریخ په غېږ کې ددې خاورې بچیانو دنړۍ لویو ،ځواکمنو او ښکېلاکګرو پر وړاندې د تل لپاره سرښېندنې کړې دي، دا د دوی د افغاني غرور،اسلامي جذباتواو وطن سره د بې کچې مینې څرګندونه ده.

افغان یو لرغونی تاریخي ملت دی، چې د۵۰۰۰کلنو په اوږدو کې یې خپل هویت تل ثابت او کره ساتلی دی، ځانګړتیاوې یې موندلې او ملي هویت یې ترلاسه کړی دی، د ملي هویت یوه ځانګړتیا یې داده، چې هروخت د یرغلګرو په وړاندې د دې ملت خلک په مېړانه جنګېدلي او خپل ملي هویت یې تر زرګونو کلونو ساتلی.

بله مهمه ځانګړتیا یې داده چې د دې ملت خلک ډېر مېلمه پال دي، هر څومره خلک چې دلته رالیږل شوي دي منل شوي او پالل شوي دي. مثلاً په شلمه پېړۍ کې د شوروي د ظلم او استبداد له کبله د ماوراۤءالنهر د خانیشینو خلک افغانستان ته را مهاجر شول او د بخارا پاچا په شمول ټول په ډېر قدر او عزت ومنل شول، تر ننه پاتې شول او د افغان ملت یوه برخه یې جوړه کړه، تر ننه دهېواد له لرغونو قومونو سره د ملي او اسلامي ورورۍ ژوند کوي حتی دروسي ځواکونومسلمان شوي عسکر هم اوس زموږ د ټولنې یوه برخه جوړه شوې چې ودونه او اولادونه یې ګرځي .

افغان ملت د تاریخ په اوږدو کې ثابته کړې، چې خپل ملي هویت د خپل سر په بیه وساتي او دښمنان پرې نږدي چې پر هویت یې یرغل وکړي، نر او ښځې د دښمن په مقابل کې اوږه په اوږه سر جنګېدلي دي او دښمن ته یې ماتې ورکړې چې د میوند ملالۍ یې ژوندی مثال دی .

افغان، افغانستان،افغانیت،اسلامیت،ملي کلتور،ملي ترمینالوژي او ملي پیوستون زمونږ دملي هویت مهم ښاخونه اومهم ټکي دي او د هغې ساتل او پالل زمونږ اسلامي او ملي فریضه، وجیبه او وظیفه ده. (۸: ۶۸، ۶۹ )

د هېواد د رسنیو کارکوونکي باید د دغې ملي او اسلامي فریضې څخه ځانونه ګوښه او بې مسؤلیته احساس نه کړي؛ ځکه دوی غیر له کوم فزیکي برخورده په سړه سینه په عامه ذهنیتونو کې د ملي هویت روحیه ژوندۍ ساتلی او پیاوړې کولای شي؛ ځکه رسنیزځواک د نظامي ځواک په نسبت په بنسټیز ډول، په زړه پورې بڼه، په اغېزمن شکل، غیر له جنګه، په سړه سینه د ژورنالیستیکو مسلکي راپورونو، خپرونو او نشراتو په مټ ژر اهداف په لاس راوړلای شي. په دې منظور د ژورنالېستانو لپاره ژوندی ملي اسلامي ضمیر، د ملت سره مینه، ژورو ملي مطالعاتو او دقیقو حقیقي معلوماتو ته اړتیا لیدل کیږي.

(۷) ملي ژبې :

ملی ژبه د یو ملت د ملي تشخیص او هویت په برخه کې مهم رول لري، له همدې کبله ملتونه هغه ژبه د ملي ژبې لوړ مقام ته رسوي، چې د هېواد اکثریت وګړي پرې غږیږي.

امیر شېرعلي خان د سید جمال الدین افغان په سپارښتنه د پښتو ژبه د هېواد د ملي ترمینالوژۍ لپاره وکاروله. په افغانستان کې پښتو عامه او د هېواد اکثره وګړي پرې خبرې کوي، دا د هغو احصایو له مخې چې د ایران، روسیې، نړیوالو علمي ټولنو او د یونسکو له خوا خپرې شوې د ي، نو که قوانین ور ته ملي ژبه وایي او کنه خو د ملي ژبې مقام او حق لري، ملي ژبه حق لري چې د هېواد ملي سرود، ملي شعارونه، عناوین، ملي ترمینالوژي او نورې ټولې تشریفاتي چارې پرې اجراء او د ملي هویت وثیقه وګرځول شي. (۸: ۱۳۱ )

(۸) ملي ترمینالوژي :

ترمینالوژۍ ته په پښتو کې نومونې، په عربي کې ورته اصطلاحات وایي او په انګلیسي کې ټرمینالوجي وایي.

ملي ترمینالوژي د یوه هېواد له نوم څخه نیولې تر ټولو لویو چارو پورې تثبیتیږي او د یو ملت د ملي مشخصاتو بڼه غوره کوي دا هم د یادونې وړ ده،چې د یو ملت ملي ترمینالوژي د هېواد ملي ژبه وي او د یو ملت ملي ژبه هغه ژبه ده چې د ملت اکثریت وګړي ورباندې خبرې کوي.

دغه نومونې یا ترمینالوژي په هغو هېوادونو کې رامنځته کېږي، چې ملت یې په یوې نه بلکې په څو ژبو خبرې کوي، مګر کوم هېوادونه چې په یوه ژبه خبرې کوي، په هغو کې بیا دا نومونې یا ټرمینالوژي نشته، مګر په ژبنیزو هېوادونو کې باید ترمینالوژي یا اصطلاحات په عامه ژبه وټاکل شي او ټول ملي نومونه په یو واحد وټاکل شي، ترڅو د ګډوډۍ مخه ونیول شي.

که هر څوک په خپله ژبه او خوښه نومونې وکړي نو بیا خو ملي ترمینالوژي کې ګډوډي رامنځته کېږي، دغه ګډوډي بیا د ملت په کچه سمتي، ژبني او نور تعصبات او اختلافات رامنځته کوي، د ملي یووالي په لار کې هم د خنډ سبب ګرځي، امنیتي کړکیچونه او ستونزې هم له ځان سره راوړي. (۹: ۱۶ ، ۱۷ )

اول باید د هېواد ژورنالېستان د ملي ترمينالوژۍ سره په هره برخه او مسلک کې پوره بلد وي، ترڅو په خپلو راپورونو او مرکو کې د هر مسلک اړوند خپله ملي ترمينالوژي وکاروي، په دې اساس به له يوې خوا خپله ملي ترمينالوژي د ملت په ژبه رازرغونه او ترويج شي، له بلې خوا به زمونږ ملي ترمينالوژي او ملي ژبې د کلتوري يرغلګرو د يرغل څخه و ژغورل شي.

که څه هم د کلتوري يرغلونو په جمله کې پرته له ګاونډيو هېوادونو، عربو او همدارنګه د لوېديځې نړۍ د هېوادونو تاثيرات د يادولو وړ دي؛ خو ايران په دې برخه کې ډېر مضر او مخکښ دی. (۹: ۸۶)

د ځينو تلويزونو په جوړېدو سره د نورو هېوادونو د ژبني يرغل يوه بله څپه په خوځېدو شوه، چې د افغانستان کلتور يې د ځنکدن سلګو ته ورساوه، دغه تلويزونونه د نشراتو له پيل سره سم د ملي ترمينالوژۍ د له منځه وړلو هڅې شروع کړې او ګڼ شمېر اصطلاحات يې په ايراني اصطلاحاتو واړول او اوس هم  پرې کار روان دی. مثال د دې رسنيو په نشراتو کې د پوهنتون په عوض دانشګاه، د پوهنځي په ځای دانشکده او د محصل په ځای دانشجوی اصطلاحات کاروي، دا رسنۍ شايد چې خارجي استخبارات يې په تقويه کې لاس ولري، کوښښ کوي، چې زمونږ په ملت کې د خارجيانو سياسي، فرهنګي واکمني او کلتوري تخم و شيندي.

که دولت د دې رسنيو په خپرونو د ملي ترمينالوژۍ، ملي کلتور او فرهنګ په برخو کې محدوديتونه وضع نه کړي، په راتلونکو څو کلونو کې به زمونږ د ملت ملي ترمينالوژي له خپلو دواړو ژبو( پښتو،دري) څخه ايرانۍ فارسي ته واړول شي. د هېواد د رسنيو ټول ژورناليستان بايد په خپلو راپورونو، مرکو او ويناوو کې، د هر مسلک اړوند ترمينالوژي يا اصطلاحات وکاروي؛ ځکه دا د هېواد د مهمو  ملي ارزښتونو له جملې څخه يو مهم ارزښت دی.

د هېواد دهرې طبقې وګړي( لوستي او نالوستي) باالخصوص د هر مسلک لوستي په خپله ورځنۍ محاوره، رسمي خبرواترو اوپه اداري مکتوبونو او ليکنو کې بايد په جدي ډول د هېواد ملي ترمينالوژي په پام کې ونيسي. په ملي ترمينالوژۍ پوه خلک بايد د ملي ترمينالوژۍ د ژبني يرغل څخه د ساتنې او پياوړتيا په موخه په زړه پورې ليکنې وکړي.

نو ای! د ملت خواخوږو او رښتينو ژورنالېستانو خپل ټول راپورونه او نشرات مو له هر اړخه د ملي ارزښتونو په چوکاټ کې برابر کړئ او د خپلو ملي ژبو اصطلاحات او ټاکلې ملي ترمينالوژي پکې وکاروئ، په خبرونو، راپورونو او نشراتو کې د پردۍ ترمينالوژۍ په کارولو سره ملي ژبې مه بې خونده او بې رنګه کوئ.

د ملي ارزښتونو له حريم څخه بايد د ملت هېڅ وګړی تېری ونه کړي؛ ځکه ملي ارزښتونه د ملت لپاره ټاکلي معيارونه، نورمونه او د هرې برخې سرحدات دي،ددې سرحداتوساتل دهر افغان دنده او مسؤليت دی؛ نو لازمه ده چې ټول افغان ملت، دولت او د رسنيو مسؤلين د هېواد د ملي ګټو او د ملت د سپېڅلي کلتور، د ساتنې، پايښت او لوړتيا په خاطر ملي پالیسۍ جوړې او د ملي ګټو په رڼا کې داسې خپرونې او معلومات خپاره کړي، چې په نتيجه کېيې د ټولنې دسياسي پوهې کچه لوړه او په پايله کې يې، ټولې ملي ګټې پاللې وي او برعکس دولت بايد له هغو رسنيو سره جدي مبارزه او مقابله وکړي او خلکو ته يې په ګوته کړي چې زمونږ ملي هويت ته زيان رسوي،يا دې دغسې رسنۍ‌سانسور يا بندې کړي اويايې هم په کلي ډول له منځه يوسي؛ځکه که چېرې پاتې شي دوخت په تېرېدوسره ټولنه له مصيبتونو او افتونو سره مخامخ کوي.

لنډه  دا چې په هېواد رسنۍ ددې لپاره چې ملي ګټې وپالي، د پايښت او لوړتيا لپاره يې عملي ګامونه واخلي، بايد لاندې برخو ته جدي پاملرنه وکړي.

۱ـ ښوونه او روزنه:

ځرنګه چې د هېواد په ټولو لرو پرتو سيمو او بازارونو کې داسې کور، کلی او ټولنه نشته چې رسنيو بالخصوص راډيويي خپرونو ته لاسرسی ونه لري؛ نو لازمه ده چې د ټولنې د علمي کولو لپاره، ښوونيزې او قلمي خپرونې زياتې کړي،دليسو، پوهنتونونو، مدرسو، مسجدونو، مجلسونو، جلسو،ختمونو، وعظونواو ويناوو څخه جوړې شوې خپرونې، باربار خپرې کړي.

همدارنګه د مذهبي، کلتوري او ملي يووالي په هکله هغه خپرونې، ويناوې او کړنې، چې د هيواد هرې سيمې ته رسيدلې وي، بار بار خپرې کړي او هم ټولنې ته  د ذکر شوو ويناوو، خپرونو، مجلسونو او وعظونو د ارزښت په هکله پيغامونه خپاره کړي، څو ټولنه تشويق او ترغيب شي، چې خپل اندونه د ښوونې او روزنې له بهير سره همغږي او شريک کړي او برعکس هغه خپرونې چې، د ښوونې او روزنې مخنيوی کوي د ټولنې اخلاق او افکار خرابوي، بايد جدي بندې او مخنيوی يې وشي،چې ټولنه په اخلاقي او علمي ډول تربيه او وروزل شي.

۲ـ رښتينې اطلاع رسونه:

دوهمه مهمه خبره، چې رسنۍ بايد د ملي ګټو د ساتلو، پايښت او بقا لپاره تر سره کړي، هغه سالمه او رښتينې اطلاع  يا خبر رسول دي.

ځرنګه چې رسنۍ د ملت او حکومت تر منځ د پله حيثيت لري او يا هم د ژبې حيثيت لري، تل بايد سالمه او رښتينې اطلاع ټولنې ته ورسوي، چې حقايق د خلکو لپاره روښانه شي؛ ځکه چې تل رښتيا او حقيقت ووايي، د رښتيا او حقيقت په پايله کې ټولنه په رسنۍ باندې اعتماد او باور کوي، د رسنۍ باور پيدا کېدل (د ټولنې او رسنۍ) ترمنځ فکري يووالی او نېږديوالی رامنځته کوي؛ نو په پايله کې يې د دښمن د تخريبي کړنو، خپرونو، ويناوو او تبليغ مخنيوی کيږي.    امريکايان متل لري چې! ( مونږ لومړی په بايبل او بيا په نيويارک ټايمز باور لرو)؛ ځکه چې نيويارک ټايمز تل د امريکا د ټولنې ګټې پاللې دي.

که زمونږ رسنۍ هم زمونږ ملي ګټې وپالي نو ورته باور به پرې ولرو، او که يې ونه کړې نو زمونږ ټولنه به تل د نورو د رسنيو ښکار، وطن به مو وران او تل به ذليل ، خوار او زار يو.

۳ـ سالمه لارښوونه:

رسنۍ مسؤليت لري چې په خپلو تحليلي خپرونو( مقاله، سرمقاله، تبصره ...) او داسې نورو کې، د ټولنې د لارښونې لپاره د هېواد سيمې مختلف سياسي، نظامي، اقتصادي، کلتوري، ټولنيز او هر اړخيز ډول مسايل چې مستقيماً او ياغيرې مستقيم په ټولنې پورې تړاو لري، داسې واضح او تشريح کړي، چې ټولنه په خپله د حل لاره پکې وټاکي او هم د دښمنانو هغه پټ او مضر پلانونه نظامي، سياسي او ښوونيزې خپرونې په ګوته او رسوا کړي، چې خلک له ذهني کړاو سره مخامخ کوي ځويې ټولنه له ضرر څخه ځان وژغوري او که داسې ونه کړي نو دوي خپل هغه اساسي رسالت چې د دوي په غاړه دی نه دی ادا کړی.

۴- په ټولنه کې دسياسي ځيرکتيا او شعور هڅول:

ځرنګه چې ۲۱مه پېړۍ د عصري تکنالوجۍ عصردی، نو رسنيو ته لازمه ده چې د تکنالوجۍ په دې عصري پېړۍ کې خپله ټولنه له ټولو سياسي خوځښتونو او پاڅونونو څخه باخبره وساتي، تر څو د خپلو ملي ګټو په ساتلو او نظر کې نيولو سره هغه لارې چارې خپلې کړي، چې د دوي ملي ګټې پالي او ساتلی يې شي.همدارنګه هغه وګړي چې غواړي په سياسي ډګر کې د خپلې ټولنې او هېواد لپاره چوپړ وکړي، داسې لارې او مشورې ورکړي چې تل يې ملي ګټې په نظر کې نيولې او ساتلې وياو

همدارنګه هغه سیاسي حرکتونه، چې زمونږ د ملي ګټو د ضعف سبب ګرځي، ملي وحدت ته زیان رسوي ور په ګوته کړي،چې ځان  او نوره              ټولنه ترې وساتي.

۵ ـ د ملي یووالي پالنه:

په هېواد کې رسنۍ مسؤلیت لري چې د ملي ګټو لپاره تل ملي یووالی وپالي، ټول قومونه ( پښتون، تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، پشه یې ....) په یومېز او دسترخوان کېنوي،د هېواد  د دښمنانو هغه اوازې ، شعارونه چې زمونږ دهېوادوالو تر منځ دبې اتفاقۍ،تخریب،تعصب او بربادۍ سبب ګرځي په کلکه رد او عامه رایې یې په مقابل کې همغږې او چمتو کړي او مېشت ټول قومونه د ګران هېواد افغانستان د تل بقا پالیسي او لوړتیا لپاره د یو موټي او بازو په شان څنګ په څنګ په یوه خوله لاس په لاس سره ودریږي او هر هغه څوک ( دولت، ملت، ګوند، ډله...) چې د ملي یووالي د له منځه تللو تخریب او ورکېدا لپاره ګام ږدي، باید پښې یې د تل لپاره قطعه د رسنیو له لارې یې پروګرامونه ، پلانونه داسې رسوا او ورک شي، چې بیا هېڅ کله هم داسې جرئت ونکړي، چې زمونږ د ملي یووالي د خرابیدو خلاف پل کېږدي.

۶ - د مذهبي او کلتوري پولو ساتنه اوپالنه:

د نړۍ ډیری ملتونه د یو مذهب پیروان دي، داچې افغاني ټولنه د اسلام د بهتر دین پیروان دي؛ نو زمونږ د هېواد ټولو رسنیو ته لازمه ده، چې د اسلام د سپېڅلي دین د پاینښت، لوړتیا او خپرېدا لپاره تل هڅه وکړي، څو رسنۍ په ټولنه کې بقا ومومي او هم د افغاني سپېڅلي کلتور د لاغوړېدا لپاره جدي هڅې وکړي، څو زمونږ  رسنیو هغه اساسي رسالت چې ژورنالېست د ټولنې د ضمیر غږ دی سرته رسولی وي.

او بر عکس ټول هغه خوځښتونه، پروګرامونه او ویناوې چې زمونږ مذهب او کلتور د زیانمنولو، تحقیرولو یا ضعیفولو لپاره په کار او لاره اچول شوي په جدي توګه یې مخنیوی وکړای شي، ځکه د رسنیو له لارې هغه حرکات چې  زمونږ د مذهب او کلتور د ټکني کېدو سبب ګرځي ژر افشا او ټولنې ته په ګوته کړای شي، څو یې خلک په پټو سترګو ونه مني او هم یې په هکله جدي غبرګون وښايي دهمجنسبازي ،عیسویت ...... داسې نورو مسایلو دخپرېدا په مقابل کې کوټلي ګامونه واخلي.

کله مو چې پورته ذکر شوي ګامونه واخېستل نو مونږ به د خپلې خاورې افغاني کلتور او د اسلام  د مبارک دین د ساتنې او پالنې لپاره خپل مسؤلیت ادا کړی وي.

د هېواد هر وګړی، ګوند، حکومت او هر ملت باید پورتني ذکر شوي نقاط کلک په نظر کې ونیسي، څو د هېواد او اسلام د سپېڅلي مذهب په مقابل کې دیني، ایماني، او ملي مسؤلیت سرته ورسوي او که مو دا کار ونکړ نو پوه شئ چې مونږ له خپلې سپېڅلې عقیدې، خاورې او وطن سره خیانت کړی؛ نوکله به هم ښه ورځ ونه ګورو او دخپلو دښمنانو د خونړۍ لپاره به مود ځان ،اولاد،ناموس اوهېوادپه ضد همکاري کړي وي.

د دښمنـانو دتبلیغـاتو رسوا کول او مخنیـوی.

ننني نړۍ کې تبلیغات دسا (روح) په شان لازمي دي هغه متل دی چې ریښتیا راځي نو دروغو به وطن وران کړی وي . ریښتیا هم  همداسې ده اوسني ځواکمن هېوادونه دخپلو موخو لپاره له تبلیغاتو په ناروا توګه همداسې کار اخلي  دخپلو غوښتنو لپاره یې تبلیغاتوته د رسنیو له برکته وزرونه ورکړي هر هغه خبر، وینا، عمل او کار چې د دوی موخې لاس ته راوړي بار بار تکراروي، څو دبې سواده ناخبره او مظلومو انسانانو په افکارو کې ځای ونیسي او بالاخره د دوی دام ته برابر شي؛ نو ددغسې بې ځایه خطرناکو ناروا او ظالمانه تبلیغاتو څخه یوازې او یوازې رسنۍ خبرې دي او

خبريږي، نو درسنيودمسؤلينو ايماني وجداني اوملي وجيبه ده چې مظلومه ناخبره ټولنه له دې لوی ښامار څخه خلاصه او د انسانيت ، راحت او سوکاله ژوند په لور يې روان کړي د دښمن ټول تبليغاتي مضر پلانونه رسوا او شنډ کړي.

۷ - په بحراني حالاتو کې د رسنيـو مسؤليـت:

زمونږ د خاورې ،ناموس، ملت او مذهب دښمنانو دتيرو ۴۰ کالنو راهيسې تر ننه پورې، په هر ډول له هرې خوا څخه زمونږ ملي، مذهبي، قومي، سياسي او اقتصادي ګټې له پښو لاندې کړي او زمونږ د وطن په ورانۍ لګيا دي ورونه مو وژنې، تعميرات افکار او نظريات مو وژنې، تخريبوي يې، له مختلفوقومي، سمتي، نژادي، سياسي اونظامي تعصبونو څخه يې ګټه پورته کړې.

په خپلو منځونو کې يې په مختلفو نومونو وژلي، کړولي، تښتولي، ډارولي او چور کړي يو، زمونږ له مظلومو بې‌سواده ورونو، خويندو او پلرونو څخه يې زمونږ د ټولو معنوياتو په ورانولو کې کار اخيستی او اخلي يې، مکتبونه، مسجدونه، کورونه، سړکونه، پلونه او ملي تاسيسات مو تر ننه ورانوي او بيا ورته د جهاد نوم ورکوي، او د جهاد نوم ورباندې ږدي.

پوښتنه دا ده چې ولې سره وژنو؟ ، ولې خپلې ملي ګټې نه پيژنو؟ او ولې خپل ملي تاسيسات ورانوو؟

ددې ټولو پوښتنواخيري ځواب! ناپوهي، نااهلي، بې سوادي او په کلتوري ډول داسلام په نوم دغيرې اسلامي اعمالوسرته رسول اومنل دي.

که مونږ په اسلام په شعوري ډول پوه وای، په معنوي لحاظ په اسلام پوهه وای او د سواد يا زده کړې له نعمت څخه برخمن وای، نو بيا مو داسې نه کول،که مود فکر خاوندان درلودل هغوی يې راڅخه مړه کړل، مسموم يې کړل، بدنام يې کړل، تبعيد يې کړل، تحقير يې کړل او يا يې هم د مختلفو قومي، سياسي دسيسو په وسيله تورن او د ملي اسلامي مبارزې له اصلي ميدان څخه يې وشړل.

ددې مشکلاتو د حل او د ټولنې د افکارو د روښانتيا لپاره رسنيو ته په کار دي چې په هراړخيزه توګه، د عامه رايو د لارښوونې، پوهېدنې، يووالي او همغږی لپاره داسې پروګرامونه جوړ او پلي کړي، چې د ټولنې دفکري، معنوي او مادي غښتلتيا متې او بازو وګرځي.

د ټولنې د ملي يووالي لپاره خلک وهڅوي، داسې شعارونه، ترانې، اشعار، پروګرامونه او پلانونه خلکو ته جوړ او پلي کړي، چې د ټولنې ټولې ملي ګټې پاللی او وساتلی شي.

که يوه ټولنه هر څومره بې سواده وي خو، چې رسنۍ ورته د وخت مطابق وړ مناسب او ضروري پروګرامونه خپاره کړي، پخپله د وحدت او هېواد پالنې احساس ور ولاړيږي، ځکه ضمير تل حقيقت او ريښتينولي ته غاړه ږدي نو په پايله کې د باطل په مقابل کې خلک پورته کيږي او مبارزه کوي.

همدارنګه په داسې وخت کې رسنۍ بايد د دښمن هغه تبليغات، پلانونه او کارونه چې عملاً د ټولنې د ملي ګټو خلاف تحرکات کوي، بايد په ګوته او خلکو ته افشا کړای شي او هم يې په مقابل کې د رسنيو له لارې داسې خپرونې، ويناوې او پروګرامونه خپاره شي، چې د دښمن ټول نقاط ظاهر او په مقابل کې يې يو ټولنيز نفرت راوپاريږي؛ نو په پايله کې يې دښمن ضرور پرېږدي او په سختو حالاتو کې به مونږ خپل ملي مورچل ساتلی او پاللی وي.

ورونو! په اوسني عصر کې رسنۍ د نورو ټولو ځواکونو په نسبت ځواکمنې دي که زمونږ دوخت حکومت ورڅخه لازمه ګټه پورته کړي تاسو باور وکړئ چې زمونږه بې سوادو به هم د دښمن زور ونه رسيږي .

دهغې ورځې په هیله چې زمونږ د هېواد مشران اود رسنیو مسؤلین دخپلې مظلومې ټولنې په مقابل کې اسلامي اوملي مسؤلیت وپېژني . عموماً هغه مسؤلیتونه چې اوس اوس يي رسنۍ په افغانستان کې لري په لاندې ډول په مشرح ډول توضح کیږي.

١: د حکومت د نیمګړتیاوو او غلطیو په نښه کول.

٢: د دښمن دریځ په ګوته کول.

٣: صحیح معلومات او اطلاعات خلکو ته رسول.

۴: سالمه تفریح او با پیغامه طنزیه خپرونې خلکو ته رسول.

۵: د افغان ملت د ملي ګټو ساتل.

۶: د عامه رایو پالنه او دهغو دضمیر غږ پورته کول.

٧: د خلکو دحقوقو ساتل.

٨: ملکي او اسلامي ثقافت پیاوړتیا ته هڅې .

٩: ملي وحدت ته د خلکو بلنه او ډلې ټپلې ختمول.

١٠: د ټول ملت د ذهني استعداد د پیاوړتیا اوغوړیدا لپاره دوامداره هلې ځلې .

١١: په هېواد کې دښوونې او روزنې عامول .

١٢: د حکومت او خلکو په مینځ کې د سؤ تفاهم له منځه وړل او دواړه سره همغږي کول.

١: د حکومت او خلکو غلطي اصلا ح او له منځه وړل:

ژورنالېستانو ته په کار ده، چې په ټولنه کې موجوده هغه غلطیانې اصلاح او له منځه یوسي، چې ټولنه پرې بدنامیږي لکه رشوت ، قیمتي، بلیک مارکیټ، شیان ذخیره کول، اداري فساد او داسې نور شیان چې خلک له ذ هني کړاو سره مخ کوي څو مشکل له منځه لاړشي ټول هغه کارونه چې پټ دي باید ملت ته د حساب ورکولو په ډول ښکاره شي.

٢: ددښمن دتبلیغاتوپه ګوته کول:

ګران هېواد افغانستان دښمنانو داسې وران کړ، چې بیا رغونه یې وخت غواړي، ولې ددې لپاره چې خپل هېواد مو ساتلی وي د دښمن ټول نارواپلانونه باید نړۍ ته په ګوته شي څو د دښمنانو هغه چارې چې نړۍ اوزمونږمظلوم خلک تهدیدوي وپېژني اوهم یې په مقابل کې حکومت داسې پلان برابراوپه لار واچوي چې خلک د دښمن له اغېز لاندې را نه شي.

٣: دسالمواودقیقواطلاعاتو ورکول:

داسلام په دیار کې د ژورنالېست فریضه ده چې تازه ترین معلومات خلکو ته ورسوي او خلک ورباندې خبرکړي ،مختلف واقعات راټول کړي او بیا یې حکومت ته ورسوي او هم حکومت قوانین ، پالیسې د ټولنې ټو لو خلکو ته بیان او توضیح کړي، څو اصلي رسالت ټولنې ته ورسوي او که یې پټ کړي نو عظیمه ګناه ده .

۴: ټولنې ته سالمه تفریح برابرول او خپرول.

تلویزیون چې اوس اوس دهر کور غړی بلل کیږي باید داسې طنزیه خپرونې اوپروګرامونه خپاره کړي،چې له تفریح سره مثبت رغنیز پیغامونه هم ولري او همدارنګه ورځپاڼې هم داسې تحلیلي او طنزي کالمونه خپاره کړي چې د ټولنې د ذهني خوراک سبب وګرځي له معلوماتو سره سره ښوونه او روزنه هم خلکوته ورکړي.

۵: دملي ګټوساتل:

د نورو هېوادونو و په نظر یاتو او پلانونو ژورنالېستان ښه پوهېدلی شي، نو ژورنالېستانو ته لازم دي چې د ملي ګټو دساتنې لپاره د نورې نړۍ هغه ارادې چې زمونږ ملي ګټې تر پښو لاندې کوي

ټولنې او حکومت ته واضح او روښانه کړي، څو يې په مناسب وخت کې مخه ونيول شي په ځانګړي ډول هغه حرکتونه چې نړيوالې استخباراتي کړۍ يې په لاره اچوي  مظلوم او ناخبره ملتونه پرې  له هر څه خلاصوي .

۶: د ټولنې عامه رايو همغږي کول:

په هېواد کې د ټولو ناخوالو په مقابل کې  دافغاني ټولنې همغږي د هر افغان دنده  ده، بايد ددښمنانو د شومو پلانو نو په مقابل کې سره يو او همغږي شو کنه  په مختلفو نومونو او ډلو به سره مړه او  وجنګوي اوسني مذهبي  اختلافات يې ښې بېلګې دي په مذهبي ځايونو کې چاودنې د اسلام او افغانستان  دسرسخته او ناروا دوښمنانو کار دی .

۷: د خلکو د حقوقو ساتنه:

د اسلام دستر پيغبرص په قول (بهتر او لوړ  جهاد هغه دی چې د جابر سلطان (امر) په مخ کې حقه خبره وکړې)؛ ځکه اوس په هره اداره کې چپړوسان دومره زيات شوي، چې پاکو خلکو  ته خبره رسيري وطن به وران وي . ژورنالېستان تل بايد پر حقايقو باور او تکيه ولري ،تل د ټولنې حقه حقوق له  غاصبانو او دولت څخه وغواړي  ځکه د مظلومو خلکو اواز به يوازې د رسنيو له خولې واورېدل شي  نه د خلکو.

۸: د ملي کلتور ساتل:

د اوسنيو عصري او معلوماتي تکنالوجۍ  له برکته نړۍ د يو کلي په شان ده چې دCommunication Revelation Age ورته وايي،غربيان غواړي چې دنورې نړۍ په ځانګړي ډول اسلامي نړۍ سپېڅلی ثقافت او کلتور د غربي  کلتور له اغېز لاندې راولي؛ نو ژورنالېستانو ته فرض ده،چې د رسنيو له لارې  دخپل  اسلامي  اصيل  کلتور ساتنه وکړي  ځکه غير اسلامي هېوادونه تل په دې هڅه کې دي چې  داسلامي  دودونو او شعايرو مخه  ونيسي او يا يې هم بد نام کړي کلې  په اسلامي نړۍ فرض دی چې  خپل  اسلامي  دودونه  وپالي او وې ساتي ځکه الله ج  فرمايي چې . (هغه څه چې ښغمبر دروړي هغه ومنی او له څه مو چې منعه کوي  هغه مه کوی)

۹: د ډلوټپلوختمول:

وحدت او ورور ولي دمسلمانانو صفت   او دااللهج امر دی، ټول مسلمانان بايد داسلام دسپېڅلي بيرغ ترسيوري لاندې سره راټول شي ، څو د لوی خدایج امر په ځای کړي چې د دښمنانو د ناروا پلانونو ښکار نه شي نو بيا به يې حال د کوېټ، سوريا او عراق په شان وي .

هر هغه قوم، ډله چې په هېواد کې دننه   قومي، سمتي، ژبني ، نژادي يا مذهبي ګروپونه او ګوندونه جوړوي  دوی دبل چا لپاره لګيادي بايد جدي يې مخه ونيول شي، زموږ په هېواد کې  اهل تشيع ورونه ځينې تاجک وروڼه اوکله هم پښتانه  يودبل په مقابل کې  درېدلي(تنظيمي جګړې)او يو بل يې سره وژلی دی چې دا کار د دښمنانو دسيسې وې او بايد بيا تکرار نه شي.

۱۰: خلک ښوونې او روزنې  ته هڅول .

د چاپي رسنيواو غږيزو رسنيو له ذکرشويو مسؤليتونو سربېره يو بنسټيز مسؤليت داهم دی،چې بايد ټولنه  دښوونې اوروزنې  ارزښت ، اغېز او لوړتيا لپاره  مهم کار وکړي، څو خلک د بې سوادۍ له بدبختۍ څخه وژغوري او همدارنګه د کورنيو مشران او مسؤلين بايد دې ته وهڅوي،چې دخپلو اولادونو د ښې روزنې لپاره  له با مسؤليته خلکو سره مناسبه همکاري او همغږي وکړي .

۱۱: د خلکو اوحکومت ترمنځ د سؤتفاهم له منځه وړل.

مطبوعات په نړۍ کې دځلورم ځواک  حثيت لري؛ نو  فريضه   (مسؤليت) يې دا ده، چې د خلکو او حکومت ترمنځ رابطه وساتي، دحکومت له پلانونو او اوامرو څخه ټولنه خبره کړي څو يو له

بل سره نږدې او هغه ټکي کله هم پاتې نه شي چې دښمن ورځخه ګټه پورته کړي. د دولت او ملت ترمنځ يووالی او همغږي د ملي ثبات پايه ګڼل کيږي او رسنۍ يې د ټينګښت او نږدې ستنې بلل کيږي نو رسنۍ يې تر منځ د بېلتون ځای باید پرې نږدي.

د امريکا نېشنل پراګريس مصنف (ګراهم ايف جان) خپل کتاب کې ليکلي دي چې صنعتي پرمختګ دټولنې په ښوونيز بهير کې لوی لاس لري؛ ځکه خلک د اولادونو د تربيې او ښوونې لپاره د اقتصاد منبع لرې، کولی شي د اولادونو لپاره د تعليم ښه زمينه مساعده کړي(217:32)

که دهېواد اداره (حکومت) وغواړي چې د اقتصادي او علمي بهير په ډګرکې هېواد ته چوپړ وکړي؛ نو تکنالوژي يې هغه اسانه او ارزانه لار او وزرونه دی، چې کولی شي دغه لوړ هدف ته ځان ورسوي او پرته له تکنالوژي له همزولوسره سيالي نه شي کولی او نه به يې دا وړی شړی شي.

تبليغ(Propaganda):

تبليغ عربي کلمه ده؛مصدريې بلغ، جمع يې تبليغ، اسم فاعل يې مبلغ دی. په انګليسي ژبه کې ورته پروپاګندا وايي چې د لاتيني ژبې د پروپاګس له کليمې څخه اخېستل شوې او دخپرولو، وسعت ورکولو او ياهم ديوه شي دپېژندلو په معنی ده.په دري او پښتو ژبه کې همدغه دعربي ژبې لفظ (تبليغ) معمول دی.

په ټولو مذهبي ټولنو کې تبليغ ته د احترام اوقدر په سترګه کتل کيږي؛ ځکه چې دعربي ژبې دغه لفظ اصلادمعنوياتو لپاره استعماليږي چې اصلا په مذهبي عقايدو پورې مستقيم تړاو لري. له همدې امله په اسلامي ټولنو کې خلک تبليغ ته په ډېر احترام قايل دي. لکه لوی خدايج چې فرمايي: ژباړه. (ياايهالرسول بلغ ما انزل اليک من ربک) (المايده ۶۶)دلته پيغمبر ته امرشوی چې ورسوه هغه څه خلکوته چې ما تاسو ته لېږلي دي.

تبليغ عربي کلمه ده؛دانګليسي پروپاګندا مترادفه ده،له لغوي نظره دخپرولو، وسعت ورکولو او يادیوه شي پېژندلو معنی ورکوي. (1:6 ۶۸)

د تبليغ کلمه عربي لفظ دی چې د لاتيني ژبې دپروپاګساو انګلسي ژبې له پروپاګندا سره مترادفه معنی لري، چې له لغوي نظره دخپرولو، مشهورولو او پيژندلو په معنی ده. (4:۵۷۸ ).

په اصطلاح کي د پيغام ، خبر او يا کوم بل مطلب رسولو څخه عبارت ده. په عمومي ډول تبليغ د يو شخص يا منبع څخه نورو اشخاصو يا منابعو ته د معلوماتو د انتقال په معنی دی. تبليغات کېدای شي د تجارتي ، ديني، فرهنګي، اجتماعي او سياسي هدفونو درلودونکي وي، چې د ډله ييزو رسنيو تر څنګ اوس په ټولنيزو رسنيو کې هم زيات منعکس کيږي . سياسيي،تجارتي،مذهبي اوفرهنګي اړخونه لري. ( 9:۶۸۴).

او يا په اصطلاح کې دهرډول اطلاعيې او اعلاميې څخه عبارت دي چې دخلکو پاملرنې او يا عمومي افکارواجلبولولپاره دوګړي يا سازمان او ياهم تبليغاتي ادارو له لوري صادر او درسنيو له لارې خپريږي.

خو اوسني عصري تبليغ بيا بل ډول دی. دوی دنړۍ د ملتونو له مذهبي، ملي، سياسي شعارونو او احساساتو څخه کار اخلي او خپلو ناروا موخوته ځان رسوي؛ ولوکه په دې لار کې په زرګونو، لکونو او مليونونو انسانان مړه شي؛ دوی ته هېڅ پروا نه لري. دا مبلغين کودتاوې کوي، خلک وژني،حکومتونه جوړوي او ورانوي يې، د ضعيفو ملتونو په ټولو مادي او معنوي شتمنيو د وحشي او لېوني يږ (خوږ) په شان سينه ږدي. د کوېټ،عراق او ليبيا د تېلو جګړې او زموږ نامعلوم حالت يې ژوندی مثال دی.

ولې هغه تبليغ چې په معنوياتو بنادي د هغو هدف تل له ناروا څخه روا، له تيارو او جهالت څخه رڼا ،له وحشت وژنې او ترور څخه د انسانيت او شرافت لارې ته د انساني ټولنې رابلل دي .

څرنګه چې اسلامي تبليغ يو ځانګړى بحث دى، چې بايد ځانګړى کار پرې وشي؛دلته ورته ضرورت نشته.

ولې دنني عصر د څارګرو ادارو دمبلغينو تبليغ ټول په سياسي اقتصادي اونظامي موخوپورې تړلى دى. دوى دمطلوب هېواد ،سيمې، چاړواکو او ټولنې دضعف او ځواک ټکي معلومويي او هغو ټکو په نظر کې نيولو سره هغه لارې او نيرنګ غوره کوي،چې اهدافو ته درسېدو لپاره رازونه پټ وساتي. هسې په عادي او غوړو شعارونوخلک تېر باسي او دغه کار درسنيو په وسيله دتبليغ له لارې سرته رسوي، چې له دې لارې په کمو او کره مصارفو کولى شي اصلي موخې لاس ته راوړي.

د تبليغ خبرې دهرچا لپاره زړه راښکونکې وي ، نن سبا تبليغات له هوا سره الوزي، زوږ او شور يې دنړۍ په هرځاى کې دهرچا تر غوږو پورې رسيږي .

د ډله ييزو رسنيو له کبله يې خلک له نه اوربېدلو څخه نا توانه دي ، پوهان يې په اړه ليکي چې :(دادپټورازونو د رابرسېره کولو او سپړلو ځواک لري)چې ادواردسنوډن او ويکېلکس يې ژوندى او رغنده بېلګې دي. دافغانستان په کابينه کې د۲۰۱۴کال د مى په ۲۵ په دې لوى بحث وو، چې انګرېزان او امريکايان دهغو وسايلو په مټ چې ظاهرا دمخدره موادو دقاچاق دمخنيوي لپاره يې فعال کړي، په وسيله يې زموږ د چاړواکو خبرې په پټه اوري.

لنډه داچې دنړۍ د هېوادونو او ملتونو فيصلې د تبليغ د مبلغينو په لاس کي دي.پيسې،جايدادونه اومقام يې وسايل دي چې موخوته پرې رسيږي .

که چېرې روا ګټه ترې واخلي نو ملتونو او هېوادونو ته ابادي او سوکالي راوړي او که منفي وکارول شي نو دنړۍ په ټولو هېوادونو کې د ټولو بدبختيو،نا امنيو،بربادیو او ګډوډۍ سبب ګرځي. ناهمغږي او رسوايي رامنځته کوي داسرايلو دموساد، دامريکا سي. اى .اې، پاکستان آى .اس .آى، روسيې کې .جي .بي،برتانيېايم۱۶،هند را اونورې هغه ادارې دي چې دنړۍ د ټولو مصيبتونو عاملين دي.

که چېرې دوى هغه مصارف چې دشخصي اوغير انساني اعمالو او اخلاقو لپاره يې کوي په نړۍ کې د انساني ټولنو دښېګڼو او پرمختګ لپاره وکړي هېڅ انسان به بې پوهې، مريض،معيوب او وږى پاتې نه شي.

دتبليغ اصطلاحي معنى:

په اوسني دورکې تبليغ خپل اوج ته رسېدلى دى.دنړۍ ټول زبرځواکونه د ډله ييزو رسنيو له لوري تبليغ په داسې توګه انسانانو ته وړاندې کوي چې هېڅکله پرې د تبليغ ګومان نه شي کولاى. په همدې توګه دغوړو شعارونو په غېږ کې دهغوى حقه حقوق تر پښو لاندې کوي. د تبليغاتو دغه باران دومره زيات او تېز دى چې موږ ورڅخه ځان نشو ساتلى، بايد هڅه وکړو لومړى يې وپېژنو او بيايې له ضرره ځانونه وساتو. کله چې رسنيو، دهېوادونو ترمنځ د غرونو، رغونو،اوبو او... فاصلې له منځه يووړې، د ځواکمنو دښمنو او مضرو هېوادونو مداخلو ته يې لار هواره کړه؛ ځکه وروسته پاتې هېوادونه پرته له خبرېدو او پوهې څخه د مضرو هېوادونو د تبليغاتو تر اغېز لاندې راغلل داسې پروګرامونه يې پلي کړل چې خلک يې له اصلي معنويت څخه بې برخې کړل.

نودذکر شوي ارزښت او ځواک له کبله  په نړۍ کې د تبليغ لپاره  اداري رامنځته شوې .زموږ دهېواد په روانو حالاتو نړيوالې رسنۍ داسې تبصرې او خپرونې خپروي چې زموږ  د ټولنې افکاريې له خپل هېواد او مشرانو څخه بدبين کړي دي.

تبليغ  دژبو،سياسي ادبياتوپه قاموس اوسيندونو کې  په راز،راز معنی وو تشريح شوی چې په ګڼو کتابونوکې کابو يو ډول او ورته معنی لري .

(رش) ديو فرد يا ډلې هغه منظمې هڅې چې د مقابل لوري په اراده او نظر کې بدلون راولي تبليغ بلل کيږي(۱۰:۳۱۶)

ديوې اداري يا شخص دمنفي اړخونو رابرسېره کول او درسنيو له لارې ټولنې ته ښودل  څو ټولنه ورڅخه نفرت وکړي تبليغ بلل کيږي. وبستر فرهنګ په دې اړه ليکي چې (دارتباطي وسايلو له لارې ، ټاکل شوې موخې ته درسيدو لپاره د ايډيالوژي  خپرولو او مبارزې ته تبليغ وايي).(۷: ۶۲)

تاثيرتبليغات درفرآيند ايجاد،تحول وتغييرافکار عامه ليکوال پوهاندهدايت الله وفا ليکي چې :

دعربي ژبې دتبليغ کلمه دانګليسي ژبې د پروپاګندا معنی ورکوي چې له آره د لاتيني ژبې دپروپاګاتوس څخه مشتق شوې چې دخپرولو او زياتېدو په معنی ده.

په همدې توګه د تبليغ لغوي معنی په اړه د عامه افکار او تبليغات ليکوال پوهاند حبيب الرحمن هاله ليکي:

تبليغ دمالوماتو،خبردښه يابدنظر رامنځته کولو او خپرولو په معنی دی.

(ډله ييزوارتباطي وسايلو له لارې ټاکل شوې موخې ته درسېدولپاره د ايډيالوژي  خپرولو او مبارزې ته تبليغ وايي)(۷: ۶۲)

تبليغ يو داسې تخم ته ورته ده چې په حاصل خېزو ځمکو کې کرل کيږي چې تخم يې منظم اداري پلان او ځمکه يې نا خبره افکاردي چې هوښيار مبلغين يې د ځان لپاره کري او ګټه ترې اخلي .

احمد روستا دسياسي تبليغاتو په کتاب کې د تبليغ په اړه ليکي:

(تبليغ په لوی لاس د ګټې اخېستنې،سيستماتيک او له وړاندې پلان شوو رواني سمبولونو څخه عبارت دی چې موخه يې د عامه افکارو د بدلون او په چلند اغېزه ده، چې د ټاکل شوي هدف په لور يې هڅوي) (۷: ۶۳)

تبليغ لوړو موخوته دخلکو د عادتونو کړووړو،نظرياتو، خيالونو او افکارو  ته  د پراختيا، لوړتيا او ځوړتيا  وسيله ګڼل کيږي؛ حقيقي هدف يې له ملتونو( دنړۍ مختلفوهېوادونو له اوسېدونکو) پټ ساتل کېږي .

تبليغات کوم ځانګړی وخت، فصل او ځای نه لري.

د تبليغ اصطلاحي پېژند ته که ځير شو، له ورايه مالوميږي چې په پورته ذکرشويو تعريفونو کې له وړاندې ټاکل شوې موخې ته د رسېدو لپاره که هغه د يوه ګوند، ډلې او يا حکومت له لوري وي تبليغ په لاره اچول کېږي  د تبليغ له مختلفووسايلوڅخه  ګټه اوکار اخېستل کېږي . ښايي چې تبليغ د ديني يا مذهبي، سياسي، فرهنګي، اقتصادي او پوځي موخولرونکې وي؛  خو د  اوسني تبليغ ټول اړخونه  يو له بل سره تړلي دي.

دتبليغ ارزښت (Importance of Propaganda)

د تبليغ اهميت په دې کې دی، چې مبلغ شخص، ډله، هېواد اويا کمپنۍ پرته له دې چې خپلو موخو ته درسېدو په لاره کې د ځنډ او خنډ سره مخ شي؛ دا لازمه ګڼي چې پر وړاندې پرتې ستونزې او کړلېچونه لرې کړي.طبعي ده چې له  ډول، ډول سختو اوکلکو غبرګونونو سره به مخ کېږي

نو په دې وخت کې دنظامي  مداخلو په صورت کې ډول ډول ستونزې راولاړیږي  چې پایله به یې دمختلفو بدبختیو منځته راتګ او بې کاره  ماموریت وي .

که د دې ټولو پر ځای لومړی د تبلیغ له وسیلو څخه کار واخېستل شي، عامه افکار چمتو کیږي؛ له دې وروسته فزیکي حضور زیات له خطرسره نه مخ کیږي چې ښه بېلګه یې لس کاله مخکې افغانستان ته د ناټو ځواکونو راتګ دی.دوی مخکې له راتګ څخه عامه رایې دې ته چمتو کړې وې چې باید په افغانستان کې سوله راشي  افغانان هم سولې ته سخت تږي وو،چې دا کار هم دنړۍ ځارګرو ادارو کړی وو؛ نو ځکه دوی پرته له کوم غبرګون څخه افغانستان ته راغلل.خو کله چې خلک پوه شول چې کیسه بل ډول ده نو بالمقابل غبرګونونه پیل شول چې ترننه یې په اور کې سوځو.

د ډله ییزو ارتباطي وسایلو په وسیله دعامه افکارو لاسته راوړنې اوس دیو علم اوهنر حیثیت غوره کړی دی؛ ځکه هر څوک له دې وسایلو څخه دومره لویه ګټه نه شي اخېستلی،ځکه ډېری هېوادونه یې له سالمې ګټې څخه ناتوانه یا محروم دي .

ځواکمن ،باسواده ،پوه او هغه هېوادونه چې د نورې نړۍ د زبېښلو اراده لري  د دې وسایلو په استعمال ډېر ښه پوهیږي. په مختلفونظامي، ښوونیزو ادارو، پولیسو په اکاډمیو او جنايي جرمونو داثبات په  نصاب کې یې تبلیغ دیو مضمون په حیث  ځای په ځای کړی او لوستل کېږی.

ځینې د تبلیغ ځانګړي پوهنتونونه لري؛دملکي، نظامي، سیاسي او دیپلوماتیکي اهدافو لپاره همدغه د تبلیغي موسسو فارغین او کار کوونکي ګومارل کېږي ؛ځکه چې عامه رایې د همدې مضمون په وسیله همغږې کیږي  .

د نړۍ هر هېواد  باید ددې مضمون (تبلیغ) په رڼا  کې خپله  داخلي او سیاسي تګلاره وپالي؛ څو د ملي ګټوساتنې ته په فکري ډول د ټولنې وګړي جوړ شي.

زیاتره هېوادونه ، خلک او تجارتي بنسټونه د خپلو تولیداتو د رواج او مشهورتیا لپاره له  ټولنیزو رسنیو څخه خپل پیغامونه خپروي، ځکه له دې لارې د اعلاناتو خپرول دوی ته له  څو اړخونو  ګټور تماميږي.

۱: وړیا: هغه اعلانات چې له ټولنیزو رسنیو خپریږي کوم لګښت پرې نه کیږي، بر عکس  له ډله ییزو رسنیو څخه د اعلاناتو خپرول د پیسو په مقابل کې کیږي .

۲: ګڼ شمېر خلک اوس له ډله یېزو رسنیو څخه د اعلاناتو د اورېدو دلچسپي نه لري .

۳:په تصویري، غږیزو او چاپي رسنیو کې اعلانات په ټاکلي ځای او وخت کې نشر ته سپارل کیږي ، خو ټولنیزې رسنۍ چې زیات خلک یکې بوخت دي هروخت تبلیغات ترې نشرېدلای شي .

همدارنګه سیاسي مخالفې ډلې دهمدې  رسنیو له لارې پراخ تبلیغ کوي، څو خپلې بریاوې وښیي او د خلکو په منځ کې  نفوذ پیدا کړي  .

همداشان خپلې ډلې ته د وګړو جلب و جذب ،خپلو اقتصادي موخو لپاره مرستو راجلبولو کې،له ټولنیزو رسنیو څخه پراخه ګټه کوي .

سره له دې  د انتخاباتي کمپاینونو پر وخت کاندیدان او د کاندیدانو پلویان د یوه  ځانګړي کاندید په اړه تبلیغ کوي او د هغه برنامې خلکو ته څرګندوي څو خلک په فکري لحاظ تر خپل تاثیر لاندې راولي او توجه یې د خپل کاندید په لوري را جلب کړي. د مثال په ډول په (...۲۰۱۲) کال کې د امریکا متحده ایالاتو د ولسمشریزو ټاکنو پر وخت، چې کاندیدانو په ډېر پراخ ډول له  ټولنیزو رسنیوګټه واخېسته  او په اسانۍ سره یې خلکو ته د خپلو پروګرامونو په هکله تبلیغ وکړ .

دا چې په امریکا کې زیات خلک ټولنیزو رسنیو ته لاسرسی لري په خاص ډول ځوانان ، نو په اسانۍ سره یې د کاندیدانو په هکله معلومات کتلی او اورېدلی شول . په دې اړه یو امریکایي(دای دایې) وایي:

(زه دخپل کارپه خاطرډېرسفرونه کوم،ددې لپاره چې د خپلو ولسمشریزو کاندیدانو څخه نا خبره پاتې نشم ، په فسبوک ، ټویټر او یوټیوب کې فعال یم . کله چې بارک اوباما د ډیموکراتانو غونډه کې خبرې کولې زه له هېواده بهر وم او دبارک اوباما وینا مې دوه ساعته وروسته په یوټیوب کې وکتله او په فسبوک او ټویټرکې مې د هغه په هکله بحثونه ولوستل ، هېڅ داسې نه ښکارېده چې زه دې له هېواده بهر وم ، ټولنیزې رسنۍ یو نعمت دی )( ۱۶۷۹:۱۰)

داچې په نننۍ نړۍ کې د ډله ییزو ارتباطي وسایلو پر مټ د تبلیغ له لارې دنړۍ په هر ګوټ کې خپل سیاسي، نظامي او اقتصادي دښمن له منځه یوسئ اساسي اهداف لاس ته راوړئ، نو په دې اساس لازمه ده، چې د تبلیغ په ارزښت پوه او بالمقابل یې د دښمنانو په ضد وکاروو . دتبلیغ د ارزښت په هکله بېلا،بېلوپوهانو نظرونه وړاندې کړي چې په لاندې ډول دي.

- دتبلیغ یو ارزښت همدغه دی چې یوه ډله (تنظیم)دولت ،سړی،(ان جي . او) یا ارګان په هوښیارۍ ،چالاکۍ او حکمت سره خپل فکر یا نظر په یو چا داسې مني او یا یې داسې همغږی کولی شي چې دده پیغام او نظر ته غاړه کېږدي .
- تبلیغ دعامه رایو د هواري، جوړښت،بدلون،تعمیر اوتخریب په خاطر د ډله ییزوارتباطي وسایلوله برکته په نړۍکې دیو علم په توګه پېژندل کیږي.
- تبلیغ دنړۍ په مختلفو نظامي، جنایي، پولیسي، استخباراتي، امنیتي، سیاسي او تجارتي ادارو کې دیو ځانګړي مضمون په حیث تدریس کیږي.
- دتبلیغ په وسیله نړیوال خپل سیاست، افکار او پالیسي په نورو نړیوالو حکومتونواو ټولنو باندې مني او پلي کوي یې.
- په امریکا کې په ۲۰۱۲کال کې دسي .ای .اې دوخت مشر جورج ټینټ د سي .ای .اې له خوا ځانګړی پوهنتون جوړکړ چې په کال کې له ۲۰۰څخه تر۳۰۰پورې کسان روزي،چې هغوی نویواو زړواستخباراتي مامورینو ته روزنه ورکوي، بیا یې په مختلفو ملي اونظامي ادارو کې ګوماري .
- دنړۍ ټول ټیکنالوجیکي وسایل د دوی په چوپړ کې دي.
- دنړۍدهرډول سیاسي، نظامي او عادي وګړو په هکله هر ډول معلومات ورسره وي،دضرورت په وخت کې له هغه داسې کاراخلي چې دوی یې غواړي.
- ډېری وخت په ډېروکمومصارفومختلف النوع معلومات را ټولولی شي.
- د دښمن له راز څخه د خبرېدو په نتیجه کې مؤثر پلان جوړوي څو د دښمن پلان شنډ کړای شي.
- د نړۍ دمختلفو ملتونو نظریات مبلغین په خپله ګټه څرخولی شي.
- او بالاخره له ډز او ډوز پرته د ملتونو په زړونو او افکارو کې ځای پیداکولی شي. دې ته ورته نورې ډېرې ګټې لري، موږ فقط یو څو ذکرکړې .

دپورته ټولو اهدافو او غوښتنو لپاره ډله ییزې رسنۍ دتبلیغ وزرونه ګڼل کیږي، چې په هر ډول حالاتو کې پرواز کولی شي .

ددې خبرې دثبوت لپاره د نازي المان دجنګي جنایت کارو جنرالانو او ساینس پوهانو روزنه او ساتنه، چې د امریکایانو له خوا ترسره شوه د ۷۶۰کسانو د جنایاتو دوسیې یې ختمې کړې او د امریکا د دفاع په وزارت کې یې ټولو ته مختلفې دندې ورکړې، حتی یو یې د امریکا دناسا ادارې لومړی مشر وټاکل شو.

ځکه دنړۍ څواکمن هېوادونه په خارجي ژبو راديويي، تلويزيوني او انټرنيټي خپرونې کوي.همداعلت دی چې په نړيواله کچه د تبليغ لپاره يو څه بوديجه ځانګړې کيږي. له مصرفوونکوڅخه پوښتنه هم نه کېږي، بلکې څواکونه يې مري،استازي له لاسه وځي اونورې مختلفې قربانۍ ورکوي؛ ځکه د دوی لپاره دقيق معلومات له ډېرومصارفوڅخه بهتر دی.

دولتي تبليغ:

دنړۍ ټول هېوادونه ديو بل په مقابل کې دسياسی اړيکو په نوم روابط لري. دوی تل نارې وهي چې زموږ روابط فقط حسنه دي، هېڅ بده اراده نه لري او ټول حرکات مو غير سياسي دي. حال داچې دهر هېواد داخلي خوځښت او تبليغ سياسي وي اوله دې څخه يې موخه يوازې د هېواد او حکومت ټينګښت اوبرلاسی وي. هريو خپلې ځانګړې موخې لري او پالي يې. ژوندی مثال يې اوس،اوس له امريکا څخه د رسيې د سفارت د کارکوونکو را اېستل ؤ او د امريکا په ټاکنو کې د روسانو مداخله ده چې په خپله امريکايان نارې وهي چې له ټرمپ څخه هيلري کلنټن مخکې وه، ولې په کمپيوټري سيستم کې د روسانو د مداخلې له کبله دا خبره سرچپه شوه او له همدې کبله يې په سپينه ماڼۍ کې ټرمپ ته ډېر پرمخ تللي کمپيوټري وسايل نصب کړل.

همدارنګه دافغانستان،پاکستان او امريکا پاليسي ده چې ظاهراً يوڅه او دپردې شاته نور څه دي،چې ټوله نړۍ يې شاهده ده.په داسې حالاتو او شرايطوکې چاپي خپرونې دسياست پوهانو نظريات د وياندويانو ويناوې،دمشرانو توضيحات، تبصرې، خبرونه، او نور ټول حرکات د تبليغ دنده ترسره کوي. په مطبوعاتوکې دغه کار دنظر له خاوندانوڅخه اخېستل کيږي اولاندې ځانګړتياوې لري.

غيرمسلح جنګ :(Un- Armed War)

تبليغ په اصل کې يوغيرمسلح جنګ دی،په دې معنی چې حکومتونه، ګوندونه،ډلې ياوګړي غواړي د سلاح له استعمال پرته د خبرو اترو، ويناوو، اعلانونو په وسيله خپل اهداف په برياليتوب لاسته راوړي. ځکه د تبليغاتو په وسيله داسې مرحلې منځته راځي چې عادي مسايل په جنګ اوړي حکومتونه کوښښ کوي چې مقابل لوری تر خپل اغېز لاندې راولي او بالاخره تسلمېدوته غاړه ږدي،اوسنۍ ژوندۍبېلګه يې دايران حکومت دی چې غربيانو دې ته مجبورکړ چې له اتومي پروګرام څخه لاس واخلي .

دمتقابلو ډلوترمنځ د دښمنۍ زياتوالی:

دنړۍ ټول هېوادونه شرق او غرب بالخصوص اسلامي نړۍ او غير اسلامي نړۍ ترمنځ اوسنۍ اړيکې او حالات هغه څه دي چې ورځ تر بلې يې حالات بدليږي. د استخباراتي ډلو د پلانونو له کبله دټولې اسلامي اوغير اسلامي نړۍ ترمنځ روابط ورځ تربلې خرابيږي. عراق، سوريه، ليبيا او افغانستان يې ژوندي مثالونه دي دسعودي يمن مصر سعودي ايران، افغانستان او پاکستان ترمنځ روابط هغه څه دي چې د پورته خبرو تائيد کوي دا دهمدغه بې ځايه تبليغ څواک دی چې بې ګناه غريب خلک يې ښکار کيږي.زموږ دهېواد دټاکنو لانجه يو ځانګړی ثبوت دی.

ديواوبل په چارو کې مداخله:

د تبليغاتي وسايلو پر مټ څواکونه (حکومتونه) خپل هېواد او له هېواده خارج د نورو په چارو کې مستقيماً ګوتې وهي او مداخله کوي، دا کار ددې لپاره کوي چې غواړي د مخالف دولت (ارګان ) ټول داخلي معلومات واخلي او د پرمختګ مخه يې ونيسي. که چېرته د دوی په خلاف کومه هڅه

کوي، دوی کوښښ کوي هغه خنثی کړي؛په ټولو هغو چارو کې چې د دوی په خلاف وي؛متضاد پروګرامونه جوړوي .په ۲۰۱۳م کال کې د اېډوارډ سنوډن هغه معلومات چې د C.I.A په هکله یې نړیوالو ته خپاره کړل څومره مهم ؤ. دده معلوماتو دا خبره ثبوت کړه چې د ټولې نړۍ د لوړ پوړو چارواکو خبرې د امریکا داستخباراتي ډلو په نورو هېوادونو کې دلاس وهنې ښې بېلګې دي.

مبلغین دډله ییزو ارتباطي وسایلوپر مټ دنوروحکومتونوپه داخلي، سیاسي او خارجي چارو کې بې ځایه مداخله(لاسوهنه)کوي. په اوسني عصر کې به ډېر کم هېوادونه پیداشي چې یا یې دچا په چارو کې بې ځایه لاسوهنه نه وي کړې او یا هم دبل چا د لاسوهنې ښکارشوي نه وي. دخپلو شخصي غوښتنو لپاره یې د پرمختګ مخه نیسي،ددوی جوړشوي پلانونه له منځه وړي؛ټولنه یې مسموموي، وژني یې، د فکر کوپړۍ ترې ورکوي. مشران، پوهان، علماء او فکري خلک یې له منځه وړي، چې ښه بېلګه یې د سنوډن معلومات دي چې د امریکا د استحباراتي ډلې پټې کړنې یې دټولې نړۍ مشرانو ته ور وښودې همدغه دسړې جګړې لوی مثال دی.

دنورو هېوادونولپاره پېشنهادونه اومشورې :

دعصري مبلغینو یوه بله عصري لاره داده چې دنورو هېوادونو د مشرانو لپاره مشورې،نرمې او خوږې ویناوې، وعدې او بې ځایه غوړې ژمنې دي، چې دغریبو او مظلوموملتونو شتمني تر ګونډولاندې کوي او بالمقابل په هغه هېواد کې د جنګ او جګړې لپاره لار هواروي. ددې اهدافو لپاره له بېلا،بیلو پالیسیو کار اخلي؛ مشورې ورکوی؛حتی په ښوونیزو ادارو کې ځانګړي مشاورین لري. کتابونه ورته چاپوي څو له بېخه د دوی پلان عملي کړای شي. ځکه هوښیاراوځیرک پروپاګند کوونکي ځینې وخت په ښوونه اوروزنه کې دغه وجیبه په دومره ښه ډول ترسره کوي چې په هغې کې پخپله تبلیغ شامليږي. څو بې سواده او بې درکه خلک ډېر وروسته د غفلت له خوبه ویښیږي.

تبلیغ دنړیوال امن دښمن:

تبلیغ ته دنړیوال امن دښمن وایي، ځکه هېڅ یو هېواد دخپلو ګټو لپاره له تبلیغ څخه لاس نه اخلي نو له همدې کبله تل په نړۍ کې دګټو په سر شخړې او لانجې وي، زبر ځواک هېوادونه تل په دې هڅه کې وي چې د خپلو ناروا کړنو لپاره د ضعیفو هېوادونو او ملتونو زېرمې تر سینې لاندې کړي؛ دمنځني ختیځ هېوادونه دهمدې مسایلو ښکاره بېلګې دي.

تبلیغ تعصبات ژوندي ساتي:

دنړۍ ځواکمن هېوادونه تل د خپل ځواک دساتلو او هدف وړ ټولنې تر اغېز لاندې ساتلو په خاطر تل قومي،سمتي، نژادي اوسیاسي تعصبات جاري ساتي. ددې هدف لپاره اقلیتونه، ګوندونه او نورې سیاسي ډلې تمویلوي او پاروي یې،څو یو دبل په مقابل کې غبرګون وښیي. ژوندي مثالونه یې د افغانستان په ټاکنو کې د امریکا، پاکستان،ایران او روسیې ښکاره لاس وهنې دي چې زموږ سپېڅلو رایوته یې هېڅ ارزښت ورنه کړ،همدا د دښمنانو لویه هیله او کره موخه ده،څو افغانان له سیاسي او اقتصادي پرمختګ څخه راوګرځوي کړي.

دغلط فهمیو هنر:

دعامه رایو د تعمیر، تخریب، همغږۍ او پاشلو لپاره تبلیغ لوړ کار کولی شي، چې په دې ډګر کې یې هېڅ شی مخه نه شي نیولی. ددې کار لپاره تبلیغ له مذهبي،سیاسي،اقتصادي،قومي،سمتي،نژادي او...تعصباتو څخه کار اخلي. دمحکومو هېوادونو ملتونوله سپېڅلو او معصومو احساساتو څخه پوره ګټه پورته کوي. مبلغین دسیمې روا ګټو څخه په داسې توګه ملاتړ کوي چې ظاهرا خلک پرې د یو ډېر زړه سواندي دوست فکر کوي، ولې مبلغ چې له خپلو کره هنرونو څخه ګټه پورته کوي نو ناپوهه ټولنه پس له ډېره وخته بیا په خپل ځان پوهیږي چې د

افغان شوروي جګړه زموږ او روسانو ترمنځ وه، خو نن مزې امریکا او پاکستان وکړې، امریکایانو زموږ پر مټ روسان مات کړل او پاکستان زموږ په وینو اتوم بم جوړ کړ او تر ننه موږ قتلیږو، وژل کیږو او ځوریږو.

دپورته ذکرشویو چارو لپاره مبلغین تل د ټولنې له سپېڅلو، عقیدوي، سمتي، ژبنیو او سیاسي ګټو څخه ظاهراً ملاتړ او شاته هغه څه کوي چې دوی یې غواړي.

تبلیغ اولوستې طبقه:

څرنګه چې تبلیغ یو مغلق او پېچیده عمل دی،تل د باسواده، مفکرینو او عالمانو له خوا په لار اچول کېږي؛ هدف یې بې خبره او بې سواده ټولنې وي .

ددې لپاره چې د تبلیغ موخه کره ځای ته ورسیږي، اصل هدف لاس ته راړل شي ،نو مبلغین تل په ټولنه کې باسواده پوه ،عالم،بانفوذه اوهغه مشران چې په ټولنه کې رسوخ لري هدف ګرځوي څو ددوی له لارې دټولنې عامه افکار له ځان سره هم فکره او همغږي کړي. هڅه کوي چې د قوانینو،اصولو،غونډو اوکنفرانسونوله لارې عامه افکارراجلب کړي. ددې کار لپاره باسواده وګړي د بې سواده په ځای څو ځله لوړ او عالي دي، نو ځکه مبلغین هڅه کوي چې د داسې چارو لپاره بانفوذه، باسواده او بارسوخه خلک لومړی هدف وګرځوي او بیا ددوی په وسیله عامه افکار راټولوي او خپلې ګټې پکې پالي. بېلګې یې زموږ د هېواد بانفوزه مشران او دولتي چارواکي دي چې پاکستان ترې مستقیماً ګټه اخلي.

دتبلیغ اهداف:

د نړۍ مبلغین د مختلفو اهدافو لپاره له تبلیغ څخه کار اخلي خو عموما هغه اساسي اهداف چې دنړۍ په کچه یې لري په لاندې ډول دي.

۱: د ټولنې په عامه رایو کې داسې بدلون را وستل چې د مبلغ په ګټه را وڅرخیږي.

۲: دنورو هېوادونو وګړي تر خپل اغېز او تاثیر لاندې راوستل .

۳: خلک یو څه کولو اونه کولو ته تحریکول.

۴: خلکوته ذهني ستونزې پیداکول،څودځان لپاره مناسبه لارپیدانه کړي .

۵: دخلکولپاره د ډار او وهم زمینه برابرول،څو بد عمل کولو ته مجبور شي.

۶: خلک له ځان سره هم فکره کول.

۷ : په خلکو خپله برتري او لوړتیا منل او ځان ته دهغوی تسلیمول.

۸: په دښمن هېوادکې تخریب او اداري فساد پیداکول.( ځانګړي خلک روزل)

۹: دجنګ په جریان کېد دښمن ملک د پوځ او ولس حوصلې له منځه وړل او دخپل پوځ او عام ولس حوصله لوړول. هټلر هم دخپل ملګري ډاکټر ګویبلز دتبلیغ همدا تکتیک استعمال کړ او د جرمني عسکرو حوصله او مورال یې ځواکمن او د برتانویانو ځواک یې ضعیف کړ.

۱۰ : دښمن ذهناً او روحاً فلجول.

۱۱: خپلو نظریاتو او افکارو ته وسعت ورکول.

۱۲: دنړۍ په ضعیفه هېوادونوکې د جګړو جاري ساتل. ښه مثال یې عراق، سوریه، افغانستان او نور کمزوري هېوادونه دي چې امریکایان خپل ځاروي پکې چاغوي.

۱۳: دنړۍ دملتونو په افکاروبری موندل څو یې په مقابل کې هېڅوک ونه دریږي او که څوک دریږي دهغوی لپاره یو جواز یا د اصولو پیدا کول لکه عراق کې د امریکایانو بې ځایه ادعاوې.

۱۴ : بالاخره دمختلفو هېوادونو او ملتونو ترمنځ د ګردو تعصباتوژوندي ساتل او د اقلیتونو برتري ساتل په اکثریت باندې څو کش مکش ته ښه زمینه مساعده شي . (۵:۵۷۸)

دمحمد حسين افتخار له نظره دتبليغ ډولونه:

۱:مستقيم تبليغ ۲: غير مستقيم تبليغ ۳:مثبت تبليغ ۴: منفي تبليغ

۵: ځوابي تبليغ.

۱:مستقيم تبليغ :

داد تبليغ هغه حالت دی چې مبلغ مخامخ خپل تبليغ، تبليغ کېدونکي ته کوي. په دې ډول تبليغ کې هېڅ شک او شبه نه وي، هرڅه واضح او روښانه وي، خلک ترې باخبره وي،خوپه باخبرۍ سربېره بياهم دتبليغ تر اغېز لاندې راځي. لکه ټول افغانستان پوهيږي چې امريکا او پاکستان زموږ خير نه غواړي، ولې د ځينې مجبوريتونو په اساس ددوی ځينې مسايلو ته غاړه ږدي.

۲:غير مستقيم تبليغ:

په دې ډول تبليغ کې مبلغ مخامخ خپل تبليغ نه شي څرګندولی، بلکې په مختلفو اشارو، کنايو، حرکتونو او دسيسو له لرې غواړي څه تخريبي حرکات پيل کړي، څو يې اهداف پلي کړای شي. دې ته پټ تبليغ هم وايي ځکه هرڅه پکې پټ نغښتي دي، چې عموما دبې اتفاقۍ، تعصب، نفرت، نژاد پرستۍ او نورو تخربي اعمالو په وسيله اهداف لاس ته راوړي. لکه زموږ په هېواد کې دهزاره ګانو د برق، د حبيب الله کلکاني بياځلي خښولو مسئلې او حرکات سبز وسفيد ټول هغه څه دي چې د بهرنيانو په لاسونو مطرح او دوی يې پلي کوي.

۳: مثبت تبليغ:

هر هغه تبليغ چې مبلغ يې په لاره واچوي او خپل هدف لاسته راوړي مثبت تبليغ بلل کېږي.که مورد نشه يي توکوپه خلاف تبليغ کوو او د نشه يي توکو په استعمال کې کمبود راشي نو دې ته مثبت تبليغ ويلی شو.

۴: منفي تبليغ:

د پورته (مثبت) تبليغ په خلاف که چېرې د نشه يی توکو په خلاف تبليغ وکړو اودکمي په ځای پکې زيات والی راشي منفي تبليغ بلل کېږي.يا د سګرټو په ضدکه مبارزه شروع کړو او هغه نور هم زيات شي نو منفي تبليغ دی.

۵: ځوابي تبليغ:

دا ډول تبليغ خطرناک او ناروا دی ځکه حکومتونه،ادارې، سازمانونه او سياسي ډلې يو دبل په خلاف تورونه لګوي؛ بالمقابل بل لوری ځواب ورکوي. يو دبل نيمګړتياوې، منفي او ضعف ټکي را لوڅوي چې اصلاً دا عمل داسلام په سپېڅلي دين کې ناروا ولې نننۍ نړۍ کې د دښمنانو د له منځه وړلو او ضعيفولو لپاره، مهم عمل دی چې بايد ترسره شي.

په ځانګړي ډول په نننيو عصري ټاکنو کې کانديدان له دې تګلارې ډېره ګټه پورته کوي؛ يو د بل منفي او د ضعف ټکي په ګوته کوي؛ څو نور خلک دده له بې کاره او ضعيفې پاليسۍ خبر کړي.(زموږ د هېواد ټاکنې يا اوس اوس د امريکا د کانديانو ناندرۍ او سپکې سپورې.

د موضوعاتو(محتوی) له مخې دتبليغ ډولونه:

د تبليغاتو په ډګرکې مذهبي تبليغ له نورو هغو لومړيتوب لري؛ هغه له دې کبله چې د انساني ټولنو په اوايلو کې نه اقتصاد ډېرمطرح ؤ اونه هم سياست. کله چې انساني ټولنې جوړې شوې، دانسانانو ترمنځ مختلف ضرويات مطرح او دپوره کېدو لپاره يې رقابت منځته راغی. د رقابت لپاره ضروري ده چې د انسانانو يو ټولی يا ګروپ له ځان سره ولرې، چې په ټولنه کې مطرح شې. له همدې کبله مشرانو يا مبلغينو له ځان سره عام خلک ملګري کړل څو له دوی څخه په مناسب ځای کې کار واخلي. (۲۵۴:۳۲)

مذهبي تبليغات:

پخوانیوانسانانو د ژوندي پاتي کېدو، د طبیعت د نادودو او دښمنانو څخه د امن او امان په موخه دواحد او بېلا،بېلو خدایانو بندګي کړې ده. د هرې عقیدې لپاره به خلک له ټولنو څخه دهر مذهب پیروان دعوت کېدل؛ که هغه د اسلام سپېڅلی دین ؤ او که د نړۍ نور ادیان وو. په نړۍ کې د راز، راز دینونو،مذهبونو، نفوس، مذهبي امامانو، پاپانو، راهبانو او... ډېروالی او مذهبي ټکر، د مذهبي تبلیغ د پرمختګ او زیاتوالي سبب شو؛ خو دوی دمذهب له نوم څخه نورې سیاسي ګټې کړې، هسې یې دمذهب نوم بدنام کړ. (۷: ۷۷)

دغه لړۍ اوس هم په انسانانو کې جاري ده. په هند کې د لسګونو مذهبونو پیروي کېږي؛ د نړۍ په ټولو هېوادونو کې د مختلفو مذهبونو پیروان شته او دټولو مذهبونو دمبلغینو له خوا پیروانو ته تبلیغ کیږي، حتی کله کله یې ترمنځ فزیکي ټکر هم منځته راځي، چې دهند بابري مسجد، په عراق کې دشعیه سني، په سوریه، ایران افغانستان، پاکستان او... کې مذهبي تاوتریخوالی یې ژوندي مثالونه دي.

پوهاند حبیب الرحمن هاله لیکي چې: په (۱۵) میلادي پېړۍ کې رومن کاتولیک د تبلیغاتو د پدیدې په اهمیت او ارزښت پوه شول او وروسته یې د اقتصادي او مذهبي مبارزې د وسیلې په توګه وکاراوه.

پنځلسم ګریګوي، چې د رومن کاتولیک پاپ ؤ؛ په ۱۶۲۲ م کال کې د کانګریشن ډي پروپاګنډا فایت په نوم یو مشهور سازمان ؤ؛د کاتولیک مذهب تبلیغاتي مرکز بنسټ یې کېښود. له دې وروسته یې په صلیبي جګړو کې لویه ګټه ترې پورته کړه. ډول، ډول مذهبي، سیاسي تبلیغات یې په یو شمېر هېوادونو کې په لاره واچول؛ په پایله کې دعیسوي مذهب نور لارویان دکاتولیکانو ترځنګ په دې جګړه کې ودریدل تر دې چې دنړۍ لرو پرتو سیمو او هېوادونو ته یې د عیسویت عقیدې د خپراوي لپاره لار هواره کړه.

د صلیبې جنګونو د مذهبي موخې ترڅنګ بله لویه موخه د منځني ختیځ سرچېنې او حاصل خیزې ځمکې وې، چې په هغه وخت کې د مسلمینو په اختیارکې وې، د ژوند ټولې اسانتیاوې یې لرلې او په اروپا کې ظلم،بربریت او پاپان حاکمان وو؛ د اروپا خلک بېچاره وو، سرمایه او واک له نوابانواو پاپانو سره ؤ اودمذهب په بهانه او شعار یې جګړې پیل کړې. ډاکټر رحمت ربي زیرکیار د نوي سیاست الجبره کې را اخیستي، چې کېوین فیلیپس د امریکا دهغه وخت ولسمشر جورج ډبلیو بوش په هکله د پام وړ ټکو ته ګوته نیسي، چې ((بوش په ۲۰۰۳ م کال مارچ کې، په عراق برید وکړ؛ هرسهار به یې د وعظونو هغه " الهام ښښوونکی" کتاب لوست، چې یو سکاټلنډي واعظ لیکلی و. دغه واعظ له نن څخه څه د پاسه نهه اتیا کاله وړاندې په کال ۱۹۱۷م کې برتانوي عسکر بدرګه کول، چې په یروشلم باندې دبرید لپاره دچمتو والي په حال کې وو)). (۴: ۴۶۰ )

په کال ۲۰۰۳ م کې نیویارک ټایمز راپور ورکړ، چې له ۱۹۹۰ کال وروسته دامریکا د مبلغینو شمېر په اسلامې نړۍ کې دوه چنده شوی. په عراق باندې ((د امریکا له یرغل (مارچ ۲۰۰۳) نه یو کال وروسته لاس انجلیس ټایمز ( ۱۸ مارچ ۲۰۰۴) په بغداد کې د عیسوي دین دېرش (۳۰) تبلیغاتي ډېره تونونو ته ګوته ونیوله.

د مبلغینو د ملي ټولنې اجرائي مشر کایل فیسک لاس انجلیس ټایمز ته وویل، چې عراق به د عیسویت د خپرولو مرکز وي او له دغه هېواد څخه به لیبیا،ایران،منځني ختیځ او...هېوادونوته تیتیږي.)) ( ۴: ۴۶۰، ۴۶۱، ۴۶۲)

اقتصادي تبليغات:

اقتصادي تبليغ هم د تبليغاتويو ډول دی، چې د تبليغاتو تر نورو ډولونو اغېزمن دی. دغه مؤثر ډول د ژوند له لومړنيو مراحلو را په دې خوا پيل او دوخت په تېرېدو سره يې بڼې بدلون کړی دی.له طبعي اقتصاد څخه نيولې يانې اړتيا وړ توکو چمتو کول،تر ننه څو انسانان خپل اړتيا او ضرورتونه پوره کړي،دې موخې ته د رسېدو لپاره په ځينوکړنو او فعاليتونو يې لاس پورې کړچې په پايله کې دشتمنی‌اوښه معشيت سبب وګرځيده.

پوښتنه داده چې اقتصادي تبليغ يا دغه شکل له کومه وخته، د کومې موخې لپاره منځته راغی؟

په دې اړه پوهاند هاله ليکي: دغه ډول تبليغ د توليدوونکوله اړتيا څخه د اضافي توليدي توکواو محصولاتو د ارزښت په بنياد را منځته شو. ځکه توليدوونکو د اضافي توليد شوو توکو لپاره له تبادلې پرته بله لاره نه درلوده. همدا علت ؤ چې د انسانانو په ژوند کې د توليد شوو اقتصادي توکو د بدلون دغه تګلاره رامنځته شوه او په پايله کې د لوی بدلون سبب شوه، چې د يو شمېر وګړو د ژوندکچه لوړه شوه؛ البته دا شمېره محدوده وه او د پاتې نوروخلکواقتصادي حالت ورځ تربلې د رکود په حال کې وو. (٨: ١٠٢)

د اقتصادي تبليغاتو په برخه کې د صنعتي انقلاب په رامنځته کېدو سره په زياته کچه په توليد کې زياتوالی او پراختيا راغله؛په اقتصادي بازار اواقتصادي تبليغاتو کې ښه والی اوډېروالی راغی،چې په دې سره د افرادو او اشخاصو غوښتنو ته يو اقتصادي ځواب وويل شو. دا طبعي خبره ده چې د توکو تقاضا زياته شي توليدي ماشينونه خپل توليدي فعاليتونو ته ادامه ورکوي ، له همدې کبله صنعتي هېوادونه او صنعتي موسسې د لا زياتې شتمنۍ او نويو مصرفوونکو د پيدايښتاو په پخوانيو سيالانو د برلاسي لپاره نوې تبليغاتي تګلارې ازمايي.(٧: ٨٥)

په عربي نړۍ کې تېل د نړۍ په صنعتي هېوادونو کې دې شتمنۍ ته د رسېدو لپاره تور ښاماران وزېرول، په ډول، ډول نومونو يې خوځښت پيل کړ له همدې کبله اندېښنې منځته راغلې.

په کال ۱۹۷۳ م کې عربو له اسرائيلو سره جګړه کې دغه تجربه و ازمايله او تيل يې د فشار د وسيلې په توګه وکارول اروپا د انرژۍ له بحران سره مخ شوه او په دې کارسره يې، سر عربو ته ټيټ کړ په غبرګون کې په ډېره ارامۍ عرب له دې وسيلې څخه خلاص کړل؛ په خپلو هېوادونو کې يې لويې، لويې ذخيرې جوړې کړې؛ له تېلو څخه يې ډکې کړې، چې اوس په دې سره د فشار وسيلې هم شنډې شوې.

له بل لوري دوی په دې سره وکولای شول دغه ذخيرې د تېلو په بازارونو او بيو کې برلاسې کړي او د تېلو قيمتونه دومره کم شول، چې چا يې ګومان هم نه کاوه؛ د دې تر څنګ که کوم هېواد د دوی غوښتنه ونه مني؛ ځي له بل هېواد سره د تېلو قرار داد کوي او په دې ډول سزا ورکوي. (٢: ٩٢ )

په ټوليزه توګه سياسي،مذهبي اواقتصادي تبليغات دټولو تبليغاتو بنسټ جوړوي؛ مګر د نړۍ اوسنيو حالاتو، غوښتنو او اړتياوو ته په کتو سره يې په څرګنده توګه نه شو په ګوته کولای، چې په پوره ډول دا سياسي، اقتصادي او يا مذهبي تبليغ دی.ځکه په اوس وخت کې سياست، مذهب او اقتصاد په يو بل کې داسې د متجانس مخلوط په شان سره ګډ شوي، چې توپير يې يو له بله ګران دی. اوسنی تبليغ يا د نن ورځې تبليغ ظاهراً که په هره کتګورۍپورې تړاو ولري؛ ټاکل شوو موخوته د رسېدو لپاره درې واړه تبليغات په ګډه،دتبليغ ترسرليک لاندې وګړي ددې پديدې دکارونې وړ ګرځي.

سياسي تبليغات:

سیاسي تبلیغات د انسانانو له قبیلوي ژوند څخه د بیانونو، خبرو، افواهاتو د خپرولو او قدرت څرگندولو په موخه ترسره کېږي. نو ویلای شو چې سیاسي تبلیغ د یوکس یا گروپ له لوري په سیاسي چاروکې د نفوذ ټینگښت او سیاسي قدرت پراخوالی یا بر عکس کورنیو او بهرنیو دښمنانوکمزوري کولو او مخنیوي لپاره کاریږي.

سیاسي تبلیغ له قبیلوي ژونده را په دې خواد بیانونو په ورکولو، وینا، افواهاتو په خپرولو او نورو بېلا،بېلو ډولونو د حکومتونو، سازمانونو، ډلو له لوري په راز، راز بڼو کارول شوی دی. که پاملرنه وکړو د انسانانو له قبیلوی ژونده تر اوسه چې دولتونه په کوم مفهوم او پراختیا را منځته شول؛ ځینې مهم او برخلیک ټاکونکي بدلونونه یې له ځانه سره راوړل، چې کولای شو له جملې څخه یې د ملي گټو یادونه وکړو، چې له اورده او پېچلي بهیر وروسته ملي گټې تعریف شوې. دولتونو او دولت مشرانو د ملي گټو د ساتلو او پراختیا په موخه په وار او د وخت په نظرکې نیولو سره سیاسي تبلیغات په سیستماتیک ډول وکارول او له لومړیو تر ننه یوازې دسیاسي تبلیغاتو بڼې بدلون وموند. (۵: ۹۱، ۹۳ )

د موضوع د لاروښانه کولو په موخه کولای شو هېوادونه په پرمختللو، پرمختیایي یا مخ پروده او وروسته پاتې هېوادونو ډلبندي کړو.اوس یو څه په اسانۍ کولای شو، چې سیاسي تبلیغات په یادو هېوادونو کې د څرنگوالي له اړخه مطالعه او و ارزوو. لومړی خو بې له شکه چې د سیاسي تبلیغ د پراختیا اندازه، قوت او اغېز د هېوادونو پاسني وېش ته په کتو توپیر لري. هغه هېوادنه چې د پرمختللو هېوادونو په کتار کې راځي د پرمختیایي او وروسته پاتې هېوادونو په نسبت یې په تبلیغاتو کې پراختیا،قوت او اغېزمنتیا زیاته ده او له دې لارې ټاکل شوو گټورو پروژو ته لاره په اسانۍ پرانیزي.

سیاسي، اقتصادي او مذهبي تبلیغات د ټولو تبلیغاتو اساس جوړوي. په یویشتمه پېړۍ کې داسې تبلیغات نه شو په گوته کولای چې په بشپړه توگه سیاسي، مذهبي او یا اقتصادي وي؛ ځکه چې په اوس وخت کې مذهب، اقتصاد او سیاست یوله بل سره داسې پېیل شوي، چې یوله بله یې توپیرکول خورا سخت کار دی.

له رومانیانو او یونانیانو څخه راپاتې شوې سترې ودانۍ، د القابو کارونه او ځانگړو سمبولونو کارول چې د سیاسي تبلیغ مادي وسایلوته یې پراختیا ورکړې یادونه کولای شو. په همدې ډول لوی اختراعات لکه خط، چاپ او انځورونه د سیاسي تبلیغ د منځته راتگ اوپراختیا مهم لاملونه بللی شو. ډلې، حکومتونه، سازمانونه او لویې کمپنۍ د خپلو سیاسي تبلیغاتو په لړ کې یو شمېر موخې لري، چې له مخکې پلان شوې ستراتیژي(اوږدمهاله پلان)چې درې متمایزاړخونه یانې سیاست، مذهب اواقتصادپه کامل ډول پکې شامل دي په دې تگ لارې سره بېلا،بېلې موخې په پراویز ډول ترلاسه کوي؛ دغه موخې په گران هېواد افغانستان، منځني ختیځ اومالي کې له رڼو بېلگو سره وړاندې کولای شو:

- ✓ د پخواني شوروي اتحاد او انگرېزانو راتگ موخه گران هېواد افغانستان ته، چې سیاسیون، تاریخ لیکوالان، مدني فعالان، رسنۍ او سیالې یې ډلې په گوته کوي؛ د وخت د دواړو لویو ښکېلاک گرو ځواکونو موخې، له طبعي زیرمو او بشري ځواک څخه د خپلې پراختیا لپاره بې له کوم ډار په بې رحمانه توگه گټه اخېستل، له یوه لوري هندوکش او بل لوري گرمو اوبو ته ځان رسول وو.
- ✓ د منځني ختیځ  په هېوادونو کې بې ثباتي د تورې طلا( نفت) شتون چې کولای شو ډېر مثالونه یې راوړو: په کال ۱۹۷۲ م کې کله چې د بعث حکومت د عراق نفت ملي اعلان کړ بې له کوم ځنډه عراق د تروریزم په تور لېست کې شامل شو. لیبیا چې د نفتو له اړخه یو غني هېواد دی د لیبیا هېوادمشر وژنې او د حکومت رانسکورونې د نفتو په وړاندې پراته خنډونه له منځه یووړل.

✓ د امریکا جوړولو دوه غټ کسان هریو الکساندرهمیلټن او جیمیس مډیسن د غټ ځناور (ولس) ښخه وېره لرله؛د دې لپاره چې له دې غټ ځناور یانې ولس ښخه ځان وساتي. د هر حکومت دنده داشوه چې غت ځناور تابع کړي د دې کار لپاره د اوږد مهال لپاره د پروپاګند غټې موسسې رامنځته شوې. لومړی په برتانیه کې د مالوماتو وزارت، ورپسې امریکا کې د اته ویشتم ولسمشر پوهاند ووډرا ویلسن په دوره کې د عامه معلوماتو کمېټه رامنځته شوه، چې د هغوی کاري تلنلاره د نازي المان، شوروي اتحاد، جنوبي افریقې او امریکا د دفاع وزارت لپاره مهمې شوې.درنالد ریګن په دوره کې د عامه دیپلوماسۍ دفتر په دې موخه رامنځته شو چې په لاتین امریکا کې د خپلو ناوړه عملیاتو لپاره د امریکې دملت ذهن برابر کړي.(۴: ۱۴۵، ۱۴۶، ۱۴۷).

په ۲۰۰۱ لومړي کال، اکتوبر په میاشت کېد یو اخبار په رپوټکې راغلي وو، چې د امریکا دفاع وزارت کابو د څلورسوه زره (۳۹۷۰۰۰) ډالرو په لګښت دجان دبیلو رنډان سره یو څلور میاشتنی تړون وکړ، د دغه تړون موخه داوه، چې د رنډان ګروپ په نوم کمپنۍ به په افغانستان کې د امریکا جنګي تبلیغات چلوي. (۴: ۱۵۲، ۱۵۳، ۱۵۴، ۱۵۵).

دتبلیغ وسیلې:

ډلییزارتباطي وسایل ټول دتبلیغ لپاره موثرې وسیلې بلل کېږي؛ همدارنګه دانساني اړیکو ټول وسایل دتبلیغ لپاره چوپړ کولی شي. لکه :

۱ – اشارې ۲- علامې ۳-نښې ۴- جنډې۵- الفاظ ۶- فکري جنګ ۷- افواه ۸- سوړجنګ ۹- اصول اوقوانین ۱۰- راپورونه ۱۱- سروې ۱۲- پمفلټس ۱۳- مجلې ۱۴- اعلانونه ۱۵- رسامۍ ۱۶- کارتون ۱۷- رادیو ۱۸- فلمونه ۱۹- تلویزون ۲۰- انټرنیټ ۲۱- موبایل تلیفون ۲۲- اس .ایم .اس ۲۳- ایم .ایم .ایس ۲۴- ډرامې۲۵- ثقافت ۲۶- نندارتون ۲۸- سیاسي ادب ۲۹- سیاسي اوملي سندرې، مجلسونه، مناظرې،مظاهرې او نور.

له دې علاوه کارتونه،سفارتي اداري،تجارتي علامې،پوسته خانې، ټیکټونه، یادښت کتابچې،کلیزې، ودانیو عکسونه، اوبو بندونه، نړیوال انعامونه،فلسفې اوداسې نورهم د تبلیغ لپاره استعمالیږي، چې ځینې نظامي او استخباراتي ګروپونه له دې ډول وسایلو کره او په وخت کار اخلي.

د تبلیغ نوموتې وسیلې:

۱ – ورځپاڼې ۲- مجلې،جریدې، کتابونه ۳- رادیو ۴- تلویزیون ۵- تقریرونه ۶- فلمونه ۷- کارتون او کریکاتور ۸- انټرنېټ ۹- موبایل تیلفون ۱۰ - موسسې او تعلیمي ادارې.

دتبلیغ ډولونه:

تبلیغ اوس په نړۍ کې داغېز له مخې په دریو ډولونو پېژندل کیږي .

۱ . سپین تبلیغ.

۲ . تورتبلیغ .

۳ . خړ تبلیغ (معتدل تبلیغ)

۱: سپین تبلیغ(White Propaganda)

سپین تبلیغ ته مثبت تبلیغ هم وایي. په دې کې مبلغ ته دتبلیغ د منبع(Source) په هکله کره معلومات وي،چې تبلیغ کوونکي څوک دی او د کومو اهدافو لپاره تبلیغ کوي.

په دغه ډول پروپاګند کې عموماً ګټورپیغام ورکول هدف وي.له دې امله د عامه افکارو ( ټولنو) لپاره خطرناک نه ګڼل کیږي؛ که دېته رواو اسلامي تبلیغ ووایو هم بده به نه وي. (۸۱۳:۴)

۲ : تور تبلیغ(Black Propaganda)

تورتبليغ دمنفي کړنو لپاره استعماليږی، چې د سپين تبليغ په ضد دی. لکه چې له معنی څخه يې څرګنديږی؛په دې ډول تبليغ کې د مبلغ منبع (Source) پټ وي.د دې ډول تبليغ اهداف منفي کړنې وي. هېڅ ګټورکارنه ترسره کوي،عموماً دا د اوسني عصردظالموحکومتونو له خوا د مظلومو ملتونو د چور، وژنې او طبيعي زېرمو دلاندې کولو لپاره مختلف ناروا او مضر پروګرامونه جوړوي، چې مليونونه انسانان يې د اهدافو لپاره قرباني کيږي. لنډه داچې دغه ډول تبليغ بالکل ناروا او په لاره اچوونکو ته يې لوی خدايجستر عذاب ورکوي.

۳ : خاکي رنګه (خړ)تبليغ(Gray Propaganda)

دې ډول تبليغ ته معتدل تبليغ هم وايي؛ هدف ورڅخه داسې تبليغ دی،چې نه منفي هدف لري اونه هم د مثبت کار لپاره کارول کيږی.

دغه ډول تبليغ ته معتدل يااعتدال خوښوونکی(Moderate)/ منځګړی تبليغ هم وايي. په دې ډول تبليغ کې ځينې وختونه د تبليغ (Source) دمبلغ په هکله معلومات وي اوکله کله بياد منبع(Source)په اړه معلومات نه وي،نو ځکه سړی شکمنوي چې دا افواه ته ورته يو عمل دی. داسې تبليغ دمنفي اومثبتو کارونواو حالتونو لپاره استعماليږي.

دتبليغ اصول:

هر علم ياهنرځانګړي اصول او قواعد لري،چې دهغو په مراعاتولوسره يې انسان په منظم ډول هدف ته رسيږي. د تبليغ عالمانو هم دتبليغ لپاره ځينې اصول ټاکلي، چې که له هغو څخه سم کار واخېستل شي، مبلغ خپلې موخې ترلاسه کولای شي؛چې په لاندې توګه ترې يادونه کولای شوو.

تبليغ بايد عام فهمه (واضح) وي:

دهر مبلغ تبليغ بايد تل عام فهمه وي؛ساده او لنډوي؛څو دهدف وړ ټولنې په افکارو کې په اسانۍ سره ځای پيداکړي. که چېرې د تبليغ پيغام مغلق او پېچلی وي؛ نو بيا په عادي ټولنه کې مؤثر نه شي تمامېدلی. مثلا زموږ ملي دښمنانو په هېواد کې د جنګ د دوام لپاره زموږ بې سواده ټولنې ته داسې ساده ولې منطقي تبليغات کوي.(په افغانستان کې جهاد روا دی؛ ځکه خارجيان په جماتونوکې له ښځو سره يو ځای لامبي) د وزيرستان ديو اوسيدونکي وينا. يا افغانستان دارالحرب دی او داسې نور.

تبليغ بايد تسلسل (دوام) ولري :

دعلماوو له قوله تبليغ بايد دوامداره وي؛ څو يې تاثير زيات او مقابله ټولنه ژر تر اغېز لاندې راولي. که تبليغ مسلسل نه وي نو د کره موخې هيله مه ترې لرئ.

تبليغ بايد رښتينی وي :

په اصل کې اوسنی نړيوال تبليغ دروغ په رښتيا بدلوي؛ ولې بياهم څومره چې امکان لري بايد له رښتيا څخه کار واخېستل شي؛ ځکه که تبليغ رښتينې بڼه ونه لري؛ نو مبلغ بالکل خپل حيثيت او ارزښت له لاسه ورکوي .

تبليغ بايد يو جانبه وي:

په تبليغاتو کې ديو شي مثبت او منفي اړخونو بيانول مناسب او وړ کار نه دی. مثلا که په سياسي ډګرکې ديو چا حمايت کوې؛ نو دهغه منفي نقاط بايد پټ وساتې؛ څومو تبليغ د باور وړ وګرځي او برعکس که د چا مخالفت کوې دهغه مثبت ټکي بايد پټ وساتې او منفي اړخونه يې څرګند کړې؛ څو ته لوړ دباور خاوند او مقابل لوری ټيټ بې باوره او ضعيف معرفي شي.(وګورئ

پاکستان چې هېڅ اسلامي قوانین یې په دولتي ادارو کې شتون نه لري؛ټول د انګرېز اصول چلوي؛ خو موږ ته نعوذ بالله ځان د اسلام پربښتې معرفي کوي.)
دتبلیغاتو منبع (ماخذ) باید پټ وي:
که چېرې خلک دمنبع لټون پیل کړي اوتبلیغ دروغ ثابت شي؛نو ممکن له غبرګون سره مخ شي او هم به دتبلیغ اغېز او ارزښت له منځه لاړشي .
دتبلیغاتو تکتیکونه (Techniques of Propaganda):
څرنکه چې تبلیغ نن په نړۍ کې دیو علم حیثیت غوره کړی دی؛ څکه دنړۍ څواکمن هېوادونه دهېواد دپولیسو په اکاډمیو، نظامي څواکونو په روزنه، جرمونو دله منځه وړلو او نورو مهمو ادارو کې د ځانګړي مسلکي مضمون په حیث تدریسوي .
دتبلیغ عمل د رسنیو له لارې سرته رسیږي؛ څکه چې عامه رایې یوازې د رسنیو په وسیله لاسته راوړل کیږي؛ څکه خو دنړۍ ډېری هېوادونه د رسنیو له لارې په خارجي ژبو مختلفې خپرونې کوي؛ څو د هغه غریبو هېوادونو خلک تر خپل اغېز لاندې راولي. دوی دهدف وړخلکو په ژبه داسې اطلاعاتي، معلوماتي، تحلیلي او تفریحي مواد په یوځانګړي تکتیک په تصویرونو، الفاظو او حرکاتو کې وړاندې کوي، چې زموږ ساده خلک یې تر ډېرو کلونو پورې د تبلیغ په بڼه نه شي درک کولی. ښې بېلګې یې ددوی درسنیو خپرونې دي؛ همدارنګه هغه خارجي موسسې، چې دلته کار کوي، داسې کسان په اداره کې شاملوي، چې د دوی تر اغېز لاندې ژر راشي او همدارنګه نور خلک د ښکلا، لیاقت او څېرې له کبله ورته متوجه شي په ځانګړي ډول ښکلې څوانې نجونې، ښځې او څوان هلکان .
څرنګه چې د عامه رایو په تعمیر،پارونه، ه٫مغړۍ، تخریب، تغییر او تشکیل کې تبلیغ ترټولوموثره وسله ده،چې په وسیله یې د ټولنو افکار تر اغېز لاندې راځي نو د همدې موخې لپاره مبلغین بېلابېل تکتیکونه کاروي،چې مهم یې په لاندې ډول دي.
۱: نوموونه:
دتبلیغ پوهان خپل مخالفین په داسې نامه یادوي،چې خلک ورته د شک په سترګه وګوري؛ لکه مورکه چاته دتروریست یا اورپکي، داعشي، ترهګر، مخرب او... خطاب وکړو، نو ضروریې خلک په اړه شکمن کیږي، په داسې حال کې چې ډېر خلک ممکن ددوی طرفدار وي.
لکه زموږ په پارلمان کې د وکیلانو یا نورو چارواکو ترمنځ هغه ویناوې چې یو دبل په مقابل کې یې تبادله کوي، چې دا د فلاني هېواد جاسوس دی؛ لنډه دا چې په دې برخه کې مخالف لوري ته داسې نوم ورکوي چې خلک ورته د کرکې په نظر ګوري او هدف وړ ټولنه، شخص یا ډله بده معرفي کړي.
۲: شعارونه:
په دې تکتیک کې دلومړي تکتیک په خلاف دتبلیغ پوهان خپل پلان ته داسې بڼه ورکوي،چې له یوه ښه والي سره یې پیوندوي؛ کوم څه چې په عاموخلکوکې محبوبیت ولري اوخپل مقصدله یوه داسې نوم سره تړي چې په خلکو کې ډېرپه زړه پورې وي. مثلاً دوی وایي چې د دې ګوند کړنلاره دخلکو حقوق خوندي ساتل دي؛په دې تکتیک کې آزادي، پرمختګ، رښتینولي،اسلام اودهېواد پالنې په څېر کلمې کارول کیږي. لکه د ډاکتر محمد اشرف غني شعار چې هېڅ افغان له بل افغان لوړ نه دی! ولې اوس په اداره کې د افغانانو ترمنځ ډېر تفاوتونه لیدل کیږي،قانون په غریب تطبیق کیږي او لوی د واسطو والا خلک مزې کوي. حال داچې افغانان ټول یو دي ولې بې واسطې او غریب قانون ته وړاندې کیږي او واسطو والا ګرځي .

۳: نښلونه:

مبلغین کله،کله خپل مقصد،فکر یا عمل له داسې ملي مشر او عزت مندې هستۍ سره نښلوي چې خلک یې منلوته قایل شي.

مثلاً: یو ګوند تل دا وایي چې موږ د غازي امان الله خان یا شهید سردارمحمد داود خان پالیسي او پروګرامونه پلي کوو. که څوک دغازي امان الله خان او داود خان د پالیسۍ طرفدار وي؛نو موږ ته دې رایه راکړي او یا د هېواد دنورو مشهورو څېرو نومونه یادوي هدف یې فقط دا وي، چې له دې نومونوګټه واخلي او خپل مطلوب هدف ته ځان ورسوي.

په پاکستان کې چې کله جنرال مشرف دخپل قدرت دبقا لپاره ځان ته رسمي ګوند جوړاوه نو دنوازشریف په خلاف یې دمسلم لیګ( ق )ګوند جوړ کړ؛ څو د مسلم لیګ د ګوند خلک دده خواته لېوالتیا پیداکړي.

۴: دمشهورو څېرو ښودنه

یوبل تکتیک چې په تجارتي تبلیغ کې ګټل کیږي اوپه خدمتونو، صنعتي او سوداګریزه پرمختیا کې کار ترېاخېستل کیږي، هغه دادی چې پېرودونکوته بیا بیا ویل کیږي، چې فلانکی شی دهېواد مشهور اونامتوشخصیت کاروي؛ نوتاسې یې هم وکاروئ.

مثلاً: نبي عیسی خېل ماشومانو ته دپولیو واکسین ورکوي؛ حمید حسن اوشاپورځدراڼ وایي زه وطني جوس څښم؛ نو په دې تکتیک سره په خلکوکې دا احساس راپیدا کیږي، چې فلانی ملي لوبغاړی وطني جوس څښي؛ نو زه هم باید وطني جوس وڅښم. همدارنګه د نشه يي توکو په خلاف دملي لوبغاړو مبارزه ډېره موثره تمامیږي؛په نشه یې توکو روږدي کسان ددوی په لیدلو سره دا احساس کوي، چې زه ولې له دې نعمت څخه ځان برخمن نه کړم.

۵: په حکومت کې شاملونه:

په نړۍ کې یوبل تکتیک دتبلیغ په برخه کې، چې سیاست وال ترې کاراخلي هغه داده، چې حکومت له دې څخه عام اولس ته دا ذهنیت ورکوي، چې حکومت ستاسو دی. نن سبا په سیاست کې داترسترګو کیږي چې سیاستوال خلکوته د ټاکنیز کمپاین پر مهال په کوم شکل ورځي؛ نوهغه څېره بیا د دوی په ورځني ژوند کې نه تر سترګو کیږي. لکه د ډاکټر عبدالله د ټاکنو شعارونه او اوسني کارونه.

۶: هڅونه:

په پای کې یوډېرمؤثر تکتیک اوهغه دادی چې له شخص څخه غوښتنه کیږي، چې کله ټول خلک فلانی کار کوي نوته یې ولې نه کوې؟

لنډیز:د تبلیغ د تکتیکونو په لوستلو او پوهېدلوسره موږ کولی شو،چې د دښمنانو دهغو پټو او مضرو پروګرامونو مخنیوی وکړو چې زموږ د ټولنې او هېواد دتخریب لپاره یې کاروي. همدارنګه د هغوی د اهدافو د له منځه وړلو لپاره مقابل پلان جوړکړواوددوی جوړ کړی پلان له منځه یوسو. خپله مظلومه او ناخبره ټولنه ددښمن له پلانونو خبره او بر عکس د ټولنې افکار دښمن په خلاف وکاروو.

په چاپي رسنیو کې د تبلیغاتو تکتیکونه:

په رسنيو کې دتبليغ تکتيکونه ممکن د مختلفو هېوادونو ملي پاليسيو په نظرکې نيولو سره توپير ولري ولې بياهم هغه پاليسي چې په نړيواله کچهپه مطبوعاتو کې پلې کيږي، په لنډ ډول توضيح کوم.

۱: News Feed(هغه خبرونه چې پخپله  د مطبوعاتو ادارې ته راځي) ( 732:4)

داهغه خبرونه دي چې د رسنۍ د اداري کارکوونکو له کړاو پرته ادارې ته راځي. دا ډول خبرونه اکثره وخت د باور وړ نه وي؛ دشخصي روابطو، مسيج، تليفون، فاکس، فېسبوک او نورو تکنالوجيکي وسايلو په مټ دفتر ته راځي.  په دې ډول خبرونوکې دمخالفينو تبليغ ځای پر ځای وي؛ نړيوال خبري اژانسونه دا ډول خبرونه هېڅکله نه خپروي. ځکه باور يې په نړۍ کې کميږي دا ډول خبرونه تل په شخصي ګټو ولاړ وي.ممکن دخبريال ګټه پکې وي يا د خبر ورکونکي ګټه پکې وي يا د خبري وسيلې ګټه پکې وي يا د کوم سياسي ګوند ګټه پکې وي او يا هم کېدای شي د امتياز خاوند ګټه پکې وي.

د خبريال يا د امتياز خاوند ګټه: کله،کله خبريال يا د رسنيو مسؤلين داسې خبر جوړوي اوخپروي يې، چې د دوی شخصي ګټه پکې وي. مثلا د حکومت يا ګوند داسې پرېکړه يا خبر، چې شخصاً د دوی په زيان وي په داسې ډول عواموته وړاندې کوي، چې په دې کې د عوامو زيان دی، داسې کالمونه او تبصرې خپروي، چې د حکومت يا دې ګوند په دې فيصله کې عامو خلکوته تاوان دی؛ حال داچې هغه به د عوامو په ګټه او دده په زيان وي.

۲: درسنۍ ګټه:

يوه خبري اداره له مختلفو سرچينو څخه خبرونه راټولوي؛ اداره تل هڅه کوي له داسې سرچينې خبر واخلي چې دوی ورسره شخصي رابطه لري؛ ځکه هغه دوی ته هغه خبر ورکوي چې د  دوی له پاليسۍ سره سم او ګټه يې پکې خوندي وي او تل هڅه کوي چې خپل مخالف بدنام کړي څو د نورو باور پرې کم شي.

دخبري سرچينې ګټه: نن د مطبوعاتو ترمنځ درقابت او مسابقې وخت دی هره رسنيزه اداره په دې لټه کې ده چې جالب،نادر، مهم او با ارزښته خبر ژر او په وخت خپورکړي. ولې له دې سره سره د ټولنې په منځ کې د يوې باوري  سرچېنې په توګه مطرح کېدل هم وساتي؛ څو خلک پرې اعتماد وکړي. ددې هدف لپاره دوی له مختلفو مهمو لوړ پوړو چارواکو سره اړيکې لري؛څو د ځينې مهمو پېښو له پېښېدو مخکې ټولنه خبره کړي. دلته خبري سرچينه پېښې ته له داسې زاويې رنګ ورکوي چې دوی خپلې موخې او ګټې پکې خوندي وساتي. اصلا د پېښې اړخ بېل وي، ولې دوی بل رنګ ورکوي

۳: دسياسي ګوندونوګټه :

سياسي ګوندونه دخپلو ګوندي ګټو او رسنۍ  داقتصادي ګټو په خاطر يو له بل سره داسې جوړجاړی کوي چې د دواړو ګټې سره خوندي شي.سياسي ګوند خپل مخالف ټکوي؛ بدناموي يې؛ په ټولنه کې يې باور کموي او رسنۍ د ژورناليزم د اصولو خلاف مسلکي اخلاق تر پښو لاندې کوي او خاص مادي ګټه په نظر کې نيسي. (۴۵۷:۵)

:Salanted news

داهغه ډول خبر دی چې خبريال په خبرکې خپل نظرشامل کړي،په پېښه کې حقايقو او شمېرو ته تغير ورکړي او خپل نظر ته پکې ځای ورکړي. سلنټ خبر ډېری وخت د خبر په اخر کې راځي، چې د خپل نظر موافق دخبر ځانګړې زاويه کې خپل نظر شامل او په خپله ګټه يې وڅرخوي.

د خبريال ګټه:

دخبريال کار دخبر خپراوی دی ولې ځينې وخت د خپلو موخو لپاره خبر په بېل طرز سره خپروي. نوموړی دخبر هغې برخې ته ډېر کم ارزښت ورکوي، چې دده دګټو خلاف وي. که خبر دتشريح او تفصيل وړ هم وي، دی هيڅ تشريح نه ورکوي؛بلکې د يو عادي خبر په څېر يې تېروي. برعکس دخبر هغه برخه چې دده ګټه پکې نغښتې وي؛ اګرکه عادي خبر وي په ډېر تفصيل سره يې خپروي؛ حال داچې هغه ته هيڅ ضرورت نه وي. مثال په ۲۰۱۵کال کې د امريکا غږ راديو يو خبر دوه درې ځلې په پښتو ژبه خپور کړ چې موږ (د اسيا خلکوته ) يې هيڅ ارزښت نه درلود، هغه خبر داسې ؤ چې (( په امريکا کې ديو ماشوم په روزنه په کال له ۸۰۰۰زرو څخه تر ۱۲۰۰۰زرو ډالرو پورې مصرف راځي.)) نو ما ته په همغه ساعت دا فکر را ولاړ شو، چې دا خبر په موږ پورې څه تړاو يا ارزښت لري.

کله چې خبريال وغواړي په هره طريقه د خبر بڼه بدلولی شي. ځکه سياسي ګوندونه وکيلان او...ډيری وخت خپلې شخصي رسنۍ جوړوي اوياهم د نورو رسنيو له مشرتابه سره تړونونه لري چې د مختلفو سياسي مسايلو د رامنځته کېدو په هکله له دوی سره مشورې، تبصرې او ويناوې برابروي؛ څو دوی خپل مخالفين له همدې لارې وټکوي.

دمسؤل مدير ګټې:

مسؤل مدير خبرونه اداره کوي؛ چاڼوي يې اود خبرونو هغه برخې چې دده په ګټه يا زيان وي، ځواکمنولی ، لوړولی او کمزورې کولی شي. هغه خبر چې ددوی د پاليسۍ خلاف وي، بالکل نه خپروي اوکه خپور يې هم کړي داسې پيکه يې خپورکړي چې د خبر مهم اعضايې ټول ترې غوڅ کړي وي، چې له دې کبله دخبر ارزښت له منځه تللی وي؛ نو څوک ورته د خبر په سترګه هم نه ګوري. ( دسنبلې دمياشتې په ۱۷ نېټه د پکتيا جانيخېلو ولسوالي حکومت ونيوله؛خو د قول اردو قوماندان يوازې د طلوع تلويزيون خبريال له ځان سره جانيخېلو ته يوړ)

درسنيزې ادارې دپاليسۍ ګټې:

دخبري ادارې پاليسي مستقيما په خبرونو اغېزلري عموما په خبر کې دحقايقو د له منځه تلو او دخبر دخبري کمښت سبب ګرځي. اګرچې خبر به حقيقت ولري ولې حقايق په داسې ډول بيانيږي چې مسح شوې بڼه ولري؛ ځکه دوی د خپلې پاليسۍ تابع وي نه د خبر دصحت همدغه ټکی دی،چې نن رسنيو په نړيواله کچه باور بايللی دی.ځينې رسنيزې ادارې د هغه چا خبرې او پاليسي پالي چې اداره يې په لاس کې وي يا هغوی پيسې ورکوي اوياهم ديو ځانګړي هدف وي.

که دحکومت خلاف رسنۍ يوخپور شوی خبر داسې مسح کړي چې ( د خبر اصلي بڼه: دملګرو ملتونو اداره وايي چې په حکومتي زندانونو کې بنديان بې ځايه ځورول کېږي او دوسيې يې په وخت نه خلاصيږي.)

( په مسح شوې بڼه : امنيتي ځواکونه له بنديانو سره دپلټنې او څېړنې په وخت کې دومره زور زياتی کوي چې ډېری بنديان مري او که ژوندي هم پاتې شي؛ نو ديو ژوندي عادي انسان په شان ژوند نه شي کولی) دا ډول خبرونه دحقايقو په له منځه وړلو اود ارزښت په کمولو کې لوی لاس لري .

Disinformationيا Mis Informatin دا هغه خبر ته وايي چې اصلا هيڅ حقيقت نه لري دځانګړو ډلو او ټپلو دشخصي ګټو لپاره دخاصو موخو لپاره په يو مشخص ځای اوسيمه کې په لاره اچول کيږي . دوی په سيمه کې افواه خپروي چې دتبليغ يوه ځانګړې بڼه ده عمر يې کم دی او ډېر ژر له منځه ځي. دوی ځکه دا کار کوي چې د يوې مشخصې پېښې يا موضوع په هکله د ټولنې افکار معلوم کړي؛ ځينې پوهان دې ته پټه سروې هم وايي.

:News Budgeting Agend Setting

دا په خبر کې داسې پرېکړه کوي چې کوم خبر په کوم ځای کې ولې او څنګه چاپ شي .(۷۳۵:۵)

ځوک کوم خبر یا پېښه ریپوټ کړي ددې پېښې ځومره خبرونه په ورځپاڼه کې  په لومړۍ ورځ، ځومره په دوهمه ورځ  او همدارنګه د کوم ګوند  خبر په کوم ځای کې څنګه د ځومره خبرونو ځای ورکړل شي .
ښه ګټه یې داده چې موږ د دښمن  دتبلیغ تر اغېز لاندې نه راځو  او خپلې ملي ګټې او منافع ښې پېژندلی شو.

داچې تبلیغ په اوسنۍ نړۍ کې د افکارو دروزلو،پارولو همغږي کولو، تخریبولو او اساسي موخو ته درسېدو لپاره دومره لوړه او با ارزښته وسیله ده نو زموږ حکومت،چارواکي،مفکرین،علما او پوهان باید دخپل ګران هېواد او هېوادوالو دټولو ملي او معنوي ګټو دساتنې لپاره له دې مهمې وسیلې څخه په عاقلانه تدبیر ،هنر اوحکمت کار واخلي  څو زموږ دښمنان  زموږ د  مظلومې ټولنې له ساده افکارو مضرانه ګټه وانخلي  او بالمقابل موږ خپل ملي منافع ساتلي  او سالمه دفاع مو ترې کړې وي .

د تبلیغ بېلا،بیل حالتونه : سوړ جنګ،فکري جنګ،افواه.

تبلیغ اصلا د انسان د  ژوند له  پیل  سره سم پیل شوی دی؛ځکه هر پیغمبر د تبلیغ په وسیله انساني ټولنه،  الهي احکامو او او امرو ته رابللې ده.ولې په اوسنۍ جنګي نړۍ کې چې د افکارو، عقایدو، اقتصاداوسیاست لپاره کوم تبلیغات درسنیو له لارې خپریږي ، ځانګړی اهمیت  او ارزښت  لري  چې هر یو یې  د استعمال ځانګړی ځای لري.

د عامه افکارو د هواري،جوړښت او بدلون له کبله ، ډله ییزو ارتباطي وسایلو تبلیغ  ته په نړۍ کې د یو علم حیثیت ورکړی دی  چې  په لاندې  توګه  هریو یې په جلا،جلا توګه څېړل کیږي.

۱- افواه:

افواه دتبلیغ داسې بڼه  ده، چې په بې سواده  ټولنو کې یې شتون حتمي دی؛دانساني ټولنو په مختلفو وختونو کې یې بېلګې لیدلای شو. د افواه دخطرپه هکله اللهج ټول مسلمان ملت مامورکړی، چې بایدورته متوجه وي.

د افواه د شتون په اړه یوه معتبره سرچینه، چې موږ یې په لاس کې لرو هغه قرآن کریم دی. په قرآن کریم کې د افواه په اړه ګڼ شمېر آیتونه شته. همدارنګه هغه افواوې چې د مختلفو پیغمبرانو په خلاف جوړې شوې دي په قرآن کریم کې یې یادونه شوې ده.

که چېرې مسلمان امت د افواه په اړه پوره معلومات ولري اوپه ارزښت یې پوه شي، چې د اسلام او قرآن له نظره څه خطرونه او اغېز لري، نو هېڅ ډول افواه به د مسلمانانو ترمنځ  وده ونه کړي او دا امت به یو نه ماتېدونکی فکري حالت ولري. ولې د مسلمانانو دعلمي ضعف له کبله ټوله اسلامي نړۍ پردي تبلیغ له معنویاتوبې برخې کړه او ورځ په ورځ د اسلامي هېوادونو ملي شتمنۍلوټیري چې بېلګې یې عراق،لیبیا او نوره عربي نړۍ ده .

دا چې افواه څه شی ده؟ ولې، څنګه اود چا له خوا رامنځته کېږي؟ څنګه یې مقابله کولی شو؟ دا هغه پوښتنې دي چې باید ځواب شي.

ما دتبلیغ په دې برخه کې هڅه کړې ، چې  د افواه په اساسي ځانګړنو پوه شو؛ ډولونه یې وپېژنو او دمختلفو پوهانو له علمي او اساسي نظریاتو څخه ګټه پورته کړو. ددې لپاره چې د موضوع بیخ ته ورسیږو، نو اصل موضوع ته راځو.

د افواه پېژندنه او  تعریف



http://anthropology.ir/article/9086

افواه د فوه جمع او د عربي ژبې کلمه ده، چې د خولې په معنی ده. په فارسي او دري ژبه کې د (شایعه) په نامه یادیږي او په انګلیسي ژبه کې ورته (Rumor) وایي. په پښتو ژبه کې ورته د اوازې یا ډنډورې کلمې استعمالیږي. (٤:٩٢٦) لیکي : اوازې د انسانانو په خولوکې سفرکوي په هغو ټولنو کې ژرخپریږي چې مختلف قومونه، نژادونه او مختلف افکار یا د ډلو طرفدار وي په ځانګړي ډول په ګڼ نفوسه، له تمدن لرې بې سواده پرتو سیموکې ډېره خپریږي.

افواه دانسانانو شفاهي او یا هغه لیکلې خبرې دي چې اسناد او مدارک نه لري. له رښتیا او دروغو څخه ترکیب شوې وي او په ډېره چټکۍ خوله په خوله د خلکو ترمنځ خپریږي. د ډله ییزو رسنیو له راتګ سره د افواه خپرېدل تېز او له خطره ډک شوي دي ولې دځواکمن دولت او حکومت په درلودلوسره کېدای شي چې د افوه مخنیوی وشي ولې داددې لپاره، چې د افواه د جوړېدو خطر له منځه یوسو، نو کله چې یوه مبهمه مسئله یا پېښه رامنځته کیږي، باید د هغې په اړه په چټکۍ کره معلومات خلکو ته وړاندې کړو. په رسنیو کې سانسور کېدای شي، چې د افواه د رامنځته کېدو لامل شي.

افواه هم د نورو اجتماعي علومو په څېر داسې ثابت تعریف نه لري ولې ما دمختلفو علماوو له اثارو څخه هغه تعریفونه را ټول او لیکلي دي چې نوي ،جامع او د افواه په اصلیت باندې بناوي او دهغو عالمانو له تعریف څخه تېر شوی یم چې د افواه له اصلیت سره اړخ نه لګوي یا یې هم داثر دلیکلو څو لسیزې تېرې شوې دي .ځکه چې د وخت نوي علمي اثار وي نو زړوته ضرورت نشته .

په ګڼ مېشتو ، له تمدن لېرې او لېرې پرتو سیمو کې آوازه ډیره ژر خپریږي ،همدارنګه په هغو ټولنو کې چې د بیان د آزادۍ حق نه لري هلته آوازه ډېر ژر اغېز کوي ځکه خلک مؤثقو خبري سرچینو ته ضرورت لري کله چې خلک له یوې معتبرې سرچینې څخه خبر ترلاسه نه کړي نو ملي دښمنان سمدستي په افواه لاس پورې کوي څو د حکومت په ضد عامه افکار راوپاروي او خپل شوم اهداف لاس ته راوړي .

زابر بدر لیکي: (افواه یا آوازه د فکري جګړې له مهمو وسیلو څخه ګڼل کېږي. سیاسي مخالفین او دښمنان هڅه کوي چې په سیمه کې اندیښنې، ډار او غوغا رامنځته کړي. (٩٢٥:٩)

- پال بي پارټن په خپل اثر ( جوړښت ) کې ليکي: اوازه هغه تېز حرکته خبر يا راپور دی چې صحت يې نه تصديقيږي .( ۸۹۲:۱۰)
- افواه له  هغه نا تائيد شوي خبر يا اطلاع  څخه عبارت ده چې د يوې ځانګړې ډلې د توجه وړ وي او معمولاً د نورو د باور حاصلولو لپاره له يوه شخص څخه بل ته په شفاهي ډول انتقاليږي. (۱۸۷:۱۶)
- افواه د داسې خبر له خپرولو څخه عبارت ده چې تل شکمن وي.
- د «آلپورت» او «پستمن» په نظر افواه يوه ځانګړې موضوع ده، چې د نورو د باور لپاره جوړه وي؛ له يوه کس څخه  بل کس ته انتقاليږي او معمولاً دا انتقال شفاهي وي، پرته له دې چې د موضوع په اړه ډاډمن شواهد او اسناد موجود وي.
- د «نپ» په خبره افواه هغه موضوع ده، چې د نورو د باور لپاره مطرح کيږي، پرته له دې چې په رسمي ډول تائيد شي.
- د «پيترسون» او «ګيست» په باور افواه نا تائيد شوی بيان او شرح ده، چې د يوې ځانګړې پېښې، مسئلې او يا شي په اړه چې د ټولو د توجه او اندېښنې وړ وي له يو کس څخه  بل ته انتقاليږي.

تي شيبوتاني په دې اړه وايي: افواه هغه خبر دی، چې په تحريف شوې بڼه د ډله ييزو بحثونو په پايله کې منځته راغلې وي.

لکه څرنګه چې معلوميږي پورتني تعريفونه تقريباً ټول له يو بل سره ورته دي؛ نو ويلی شو، چې افواه د يوه شخص يا مهمې مسئلې په اړه (په هماغه وخت کې) ناتائيدشوي معلومات دي،چې مخکې (هغه وخت چې ډله ييز ارتباطي وسايل نه وو) له يو کس څخه بل کس ته په شفاهي ډول او اوس ډېری د ډله ييزو ارتباطي وسايلو له لارې خپريږي.په ځانګړي ډول هغه ځواکمن هېوادونه چې قوي تبليغاتي ادارې لري له دې وسيلې څخه په زړه پورې ګټه پورته کوي لکه امريکا، روس، اسرائيل، فرانسه، هند، پاکستان، انګلستان او....

د افواه ارزښت

شکل: (۲)



ځرنګه چې افواه دتبلیغ یوه مهمه برخه ده اود خلکو ترمنځ په چټکۍ سره خپریږي ، پر افکارو ژور اغېز کوي نو په دې توګه د افواه ارزښت له ورایه معلومیږي. د خلکو د افکارو د بدلون تعمیر او غولونې لپاره تر ټولو غوره وسیله بلل کېږي. همدارنګه په نورو باندې د خپلو افکارو د منلو ښه، آسانه او ارزانه لاره ګڼل کېږي.

دځواکمن حکومت مخفي اداروپه شتون اودرسنیو په سالمه رهبرۍ کې افواوې د ملت د روحیې د سمون له پاره لوړ کردار ادا کولی شي .

حکومتونه د ملت د فکري رغونې اوغښتلتیا لپاره باید درسنیو له لارې او دملي امنیتي مسؤلینو په مشوره داسې پروګرامونه په کار واچوي چې د ټولنې افکار او وجود د دښمنانو له دسیسو او افواه څخه وژغوري او ملت ته سالمه روحیه ورکړ ي څو د د ښمن له بې ځایه تبلیغاتو څخه په امن وي او د دښمن ټولې توطیې شنډې کړای شي.

محمد زابر بدر په دې هکله لیکي : چې اوازې په عواموپورې اړه لري، ددې په خاطر چې خلکو کې بې علمي،ډار ،بې باوري ،وهم او خوف منځته راوړی ،خو دا ټول د رسنیو د مسؤلیت نه درک کولو له کبله منځ ته راځي؛ که دوی خپل مسؤلیت درک کړي نو ټولنه نا پوهه او جاهله نه پاتې کېږي اونه هم دښمن ته دا فرصت په لاس ورځي چې په ټولنه کې تخریبي اعمال تر سره کړي .(۸۹۲:۵)

همدارنګه د جنګ په وخت کې کولای شو، چې له رادیو ګانو څخه د افواه په وسیله د خپلو عسکرو او نورو نظامي ملي امنیتي پرسونلو مورال داسې لوړ کړو، چې د دښمن ټول پلان اساساً له منځه یوسو اوبر عکس ددوی مورال قوي کړو.

د افواه موخې:

ځرنګه چې افوه دتبلیغ یوه بڼه ده نو دتبلیغ موخې دافوه موخې دي ولې بیاهم ځینې ځانګړې موخې لري چې عبارت دي له:

- ✓ :دانساني فکردغولونې لپاره خپریږي؛ څوافکارجامداوله حرکته ولویږي.
- ✓ : دټولنې دافکارو د تیتولو او غیر منظم کېدو، بغض او عناد لپاره خپریږي؛څو په همدې وسیله مشکل منځته راوړي.
- ✓ :افکار یو نامعلوم او شکمن راتلونکي ته تحریکوي.
- ✓ :په افکارو کې ملي احساس له منځه وړي.
- ✓ :رعیت په خپلو ملي اشخاصو بې باوره کوي.
- ✓ :ټولنه بې مسؤلیته خبروته هڅول، چې په زیان او ګټه یې نه پوهېږي.
- ✓ : ډېری وخت افوه رواني تخریب او بې باورۍ رامنځته کوي.
- ✓ : ډیری افواوې کومه ځانګړې موخه نه لري او بې له کوم هدف څخه جوړې او خپریږي، خو ځینې آوازې د یوې موخې په اساس جوړیږي.
- ✓ : د افواه موخه د خامو حقایقو خپرول دي.
- ✓ د افواه مهمه موخه داده، چې د یو هېواد په داخل کې د کینې او دښمنۍ د خپرولو په خاطر جوړیږي، څو نوموړی هېواد په آسانۍ سقوط وکړي.
- ✓ په احساساتي مسایلو راڅرخیږي.
- ✓ هغه وخت را پیداکېږي، چې کوم مشکل حالت منځته راشي.
- ✓ اوازه پخپله مري ولې خپروونکي ژوند ورکوي.
- ✓ همدارنګه د دښمن د مورال ضعیفول، د خپلو ځواکونو د مورال لوړول، د دښمن د ځواک اټکل، د دښمن په صفونو کې د تفرقې اچول، پاڅون ته د خلکو هڅول، د خپل اقتصادي، سیاسي او

اساسي رقیب له منځه وړل، د ټولیزې توجه جلبول، د بهرني احساس او اړیکوتقویه کول، د ښکاره او پټې دښمنۍ خپرول، تهدید، د افکارو فریب او انحراف د هغو اهدافو له جملې څخه دي چې افواه خپرونکي تل د هغو په لټه کې وي او بالاخره  هغه کسان چې افواه خپروي غالباً دوه هدفونه به لري:

لومړی دا چې د افواه د خپرولو له امله به دوی ته ګټه رسیږي.

دوهم داچې دټولنې په ګډوډولوسره به غواړي،چې دخلکوذهنونه مشوش کړي او په دې توګه خپلو موخو ته ورسیږي.

ددې مسئلې د ډېرې روښانتیا لپاره غواړو د سقراط د ژوند یوه واقعي کیسه راوړو.

یوه ورځ د سقراط یوملګری په ډېرې وارخطایۍسره نوموړي ته راغی او ویې ویل:سقراطه! پوهېږې چې ستادیوشاګردپه اړه مې څه واورېدل؟

سقراط وویل: صبر وکړه! مخکې له دې چې ته ماته څه ووایې زه غواړم چې ماته د دریو پوښتنو ځواب راکړې.

سړي پوښتنه وکړه: درې پوښتنې؟

سقراط وویل: هو مخکې له دې چې زما د شاګرد په اړه له ما سره خبرې وکړې، لومړی زه له تا څخه ستا د خبرو په اړه درې پوښتنې کوم.

١: آیا په دې پوره ډاډه یې هغه خبرې، چې ماته یې وایې حقیقت لري؟

سړي ځواب ورکړ: نه یوازې اورېدلې مې دي.

سقراط وویل: ډېر ښه، ته په رښتیا نه پوهېږې چې  داخبرې رښتیا دي او که  دروغ.

٢:آیا هغه څه چې ته غواړې زمادشاګرد په هکله یې ماته ووایې ښه خبر دی؟

سړي ځواب ورکړ: نه، برعکس...

سقراط وویل: ته غواړې زما د شاګرد په اړه بد خبر ووایې حال دا چې د هغه په رښتینوالي باندې ډاډه هم نه یې؟

سړی یو څه پریشانه شو ...

٣: هغه څه چې  ماته یې زما د شاګرد په اړه وایې ګټه لري؟

سړي ځواب ورکړ: نه، واقعاً...

نو سقراط داسې نتیجه ګیري وکړه: که چېرې غواړې ماته داسې څه ووایې چې نه حقیقت لري، نه ښه دي او نه هم ګټه لري بیا نو ولې غواړې چې ماته یې ووایې؟

نو ډېری افواوې داسې بڼه لري.

افواه کېدای شي چې په مختلفو وختونو کې په بیلا،بیلو ټولنو کې په یوه لویه  ستونزه بدله شي.

د افواه ( اوازو) ډولونه:

د روسي ټولنپوه «باسیاو» له نظره افواه مختلف  ډولونه لري. نوموړي دغه وېش د وخت په اساس کړی دی.

١ـ خوځنده (متحرکه) افواه:

دغه ډول افواه په ډېره ارامۍ د خلکو ترمنځ خپریږي او د راز دارۍ له احساس څخه ډکه وي؛ عموما په خفیه  ډول رشد کوي؛ څو د وخت په تېرېدو سره ټول هغه ځوک  خبر شي چې په دې اداره یا ځای کې اوسیږي.

په دولتي مقاماتو پورې تړلې افواوې، يا د ډېرو لويو غميزو پېښو پر وخت افواوې او يا هم د قانون خلاف لوی کارونه ددغه ډول آوازو له بېلګو څخه دي. دښمنانه او مضرې افواه هم له دې جملې څخه حسابيږي.

د بېلګې په ډول: کله چې محصلان په ليليه کې سره راټوليږي، نو يو بل ته د رخصتۍ ،درس يا امتحان په شپوکې د امتحان او استاد د چلند په هکله بې اساسه خبرې کوي؛داخبرې تيتيږي؛په لنډه موده کې په ټوله ليليه کې خپريږي؛ په ځانګړي ډول په هغو شپاو ورځوکې چې اختر، روژه يا بله کومه لويه خبره وي، دوی يو بل ته وايې چې ځو فلانی پوهنتون رخصت دی، معمولا د رخصت ،امتحان نمرو او...خبرې دوی ته جالبې وي.

متحرکې (خوځنده) افواوې تل دپټ او سرسخته دښمن له خوا په لاره اچول کېږي. افواه هغه وخت خطرناکې وي چې د يوه سازمان، ښار او هېواد د ځانګړو ډلو او خلکو په منځ کې بدګماني او دښمني پيداکوي. نو په همدې دليل که چېرې خلک له يوې ځانګړې ډلې سره مخالف وي يا له هغوی سره دښمني ولري؛ نو په هغه ډله پورې تړلې آوازې ډېرې ژر قبلوي، باور ورباندې کوي او نورو ته يې هم انتقالوي. دا ډول افواه تل د ځانګړو دښمنانو له خوا خپريږي.

۲ـ اور لرونکې افواه:

دې ډول افواه ته توندې يا تېزې اوازې هم ويل کيږي، چې عموما لوی خطراو فوري وعدې په لمن کې رانغاړي. دا اوازې دهغه اور په شان دي،چې د غنمو درمند سوځوي ، په چټکۍ او ډېر کم وخت کې په ټولنه کې خپريږي. ځنګه چې دا ډول افواوې په ژورو او سختو احساساتو ولاړې وي؛ نو اکثره وخت د وارخطايۍ، قهر او ناڅاپي خوشحالۍ او ډار سبب ګرځي؛ نو له دې کبله سخت غبرګون له ځان سره لري.

دغه ډول اوازې معمولاً د جنګونو، تعرضونو،فاجعو او بحرانونو په وخت کې منځته راځي. په لومړي او دوهم نړيوال جنګ، ويتنام جنګ، عراق ، سوريې ، ليبيا او فارس خليج په جنګونو کې له دې ډول افواه څخه ډېره ګټه اخېستل شوې ده.

۳ـ لامبو زنه افواه:

دغه ډول افواه چې ورته «پايداره يا پنځېدونکې» افواه هم وايي له پيدايښت وروسته ترېو وخت پورې دوام کوي، خوله په خوله انتقاليږي، وروسته ورکيږي اودخوړلن اورپه شان له ايرولاندې اور باندې بدليږي، هر کله چې مناسب وخت، محيط اوشرايط برابر شي بيا خپل هدف ته ځان رسوي او خپريږي، چې ډېرې خطرناکې پايلې هم لري. نمونه يې د لومړي او دوهم نړيوالو جنګونو افواوې دي، د هغوی د رواني توپيرونو پرته، ډېرې له يو بل سره ورته وې. له لومړي نړيوال جنګ وروسته په ۱۹۱۸م کال کې ورکې يا پټې شوې خو د (۱۹۳۹ ـ ۱۹۴۵م )کلونو کې چې کله زمينه ورته برابره شوه، يو ځل بيا مطرح او خپرې شوې.

۴ـ وېره اچونکې افواوې:

دا ډول اوزې د خلکو د پرېشانۍ، وهم او ډار له امله په زياته چټکۍ خپريږي او پراخيږي؛ ځکه په هر ځای کې اوربدل کيږي. خلک معمولاً له ځينو بدو او ناوړه کارونو وېريږي، نو له همدې امله د ځينو اوازو منلو ته چمتووالی ښيي اوباور پرې کوي. له همدې کبله په چټکۍ د خلکو په منځ کې خپريږي او د رښتيا باور پرې کوي .

وېره اچونکې افواوې چې دډار او وحشت په اساس په خلکوکې رواج پيدا کوي او د هغې په رامنځته کولو کې هېڅ ډول علاقه او ميل ځای نه لري، نو له همدې کبله ځينې علماء ورته دشيطاني اوازو نوم ورکوي. (۱۰۸٤)

د امریکا اوعراق د جنګ په  پیل کې ټولې نړۍ دا باور درلود چې صدام حسین کیمیاوي وسلې لري؛ ولې وروسته دا ثابته شوه، چې امریکایانو دنړۍ دغولولو لپاره هسې  اوازې خپرولې، چې نړۍ له ځان سره ملګرې کړي. همدارنګه دایران او عراق په جګړه کې  داسې آوازه خپره شوه چې عراق به د ایران د ښارونو ورانولو لپاره له کیمیاوي بمونو ګټه واخلي. ډېرو خلکو ددې ډول افواه په مقابل کې خپله وېره څرګندوله، نو له همدې امله یې ددې ډول افواه  منلو ته غاړه کېښوده.

۵ـ خیالي (رؤیایي) افواوې:

خیالي اوازې د هیلو او آرزوګانو له امله منځته راځي او د خلکو د ډېرې خوشحالۍ سبب ګرځي؛ څو راتلونکي ته ډېر هیله من و اوسیږي. دغه ډول افواوې د هیلو او ارزوګانو بیانونکې وي او د افواه خپرونکو له خوشحالۍ څخه کېسه کوي. خلکو ته ډاډ او د ښې راتلونکې زیرى ورکوي.

۶ـ (احساساتي)هیجاني افواوې:

دا ډول افواه د یوې موضوع په اړه د خلکو د احساساتو راپارولو یا له منځه وړلو لپاره استعمالیږي. ددې موضوع ریښه د ټولنیزو اړتیااوو له امله د یوې موضوع په هکله د افکارو داحساساتي کولو په خاطر رامنځته کیږي. بې سواده او نا اهله ټولنه هېڅ فکر نه کوي، چې موږ څه کوو؛  د څه  لپاره او ولې؛ څه ګټه به ولري ؟ ژوندى مثال یې دبرق په هکله د هزاره ورڼو مظاهره وه، چې په پایله کې دځان مرګي برید له کبله څومره کسان هسې مړه شول یا په خوست ولایت کې د وکیلانو مظاهرې چې په لسګونو خلک پکې مړه شول او دوى مزې کوي.

۷ـ وحشت لرونکې افواوې:

دا ډول افواوې یا آوازې د خلکو ترمنځ د حرکت لامل ګرځي او هغوى تحریک ته مجبوروي. په دې ډول آوازه کې خطر رښتینى او فوري دى. اورېدونکي ډېره علاقه لري چې د هغې پر وړاندې یو کار سرته ورسوي. لکه  په هېواد کې له پښتنو یا هزاره وو سره ظلم کېږي.په پایله کې خلک را پاریږي او یو حرکت ته دوام ورکوي بالاخره یو لوى خوځښت  منځته راځي .یا په هېواد کې د داعش را ټوکېدل او په مقابل کې په ټول هېواد کې خلک را پورته  په دولت یې غږ وکړ چې باید دا لوی وحشت په هر قیمت چې کیږي له منځه لاړشي  ظاهر قدیر یې په مقابله کې قومي ملېشه جوړه کړه مخامخ جګړه یې هم وکړه .

په داسې حالت کې افواه د لیونتوب خاصیت په خلکو کې پیدا کوي او خلک هم له رواني پلوه په دې وخت د هر څه منلو ته تیار وي. دوى هڅه کوي، چې د خپل کور مهم وسایل له ځان سره واخلي او له خپلو کورنیو سره له سیمې لرې لاړ شي؛ څو د دښمن له ضرر څخه په امن وي. ددې خلکو دا ډول حرکت په خپله په افواه بدلیږي او څرنګه چې نور خلک هغوى د تېښتې په حال کېویني؛ دا آوازه رښتیا ګڼي او  باور ور باندې کوي. دوى هم له دښمن څخه د لرې کېدو په موخه اقدام کوي. په نتیجه کې په خلکو وحشت مسلط کیږیاو دښمن هڅه کوي ځینې داسې اعمال په خلکو هم وګوري لکه داعش به چې خلک حلالول او بیابه یې ویډیوګانې خلکو ته ښودلې .

۸ـ ټاکلې  افواوې:

دا ډول افواوې ټاکل شوى عمر لري او له خپرېدو وروسته یې تاریخ او نښې له منځه ځي.لکه په ټاکنو کې د لنډ وخت لپاره د یو کاندید په  مخالفت یا طرفدارۍ  تر سره کیږي  له ټاکنو وروسته پخپله له منځه ځي.

۹ـ غیر ټاکلې افواوې:

دا ډول افواوې معلوم او ټاکل شوى وخت نه لري او امکان لري تر ډېرې مودې د خلکو په منځ کې رواج ولري او تر ډېر وخت پورې خپل اغېز له لاسه ورنه کړي.په ځانګړي ډول په بې سواده ټولنه

کې  دیوې عقیدې بڼه غوره کوي او د ډېر عمر لپاره پاتې کېږي.  دا ډول افواوې د جنګ، بحران پېښېدو یا هم ټاکنیزو سیالیو په وخت کې صورت نیسي؛ په نا آرام ډول اوربدل کیږي .

همدارنګه د تهمت په ویلو، بدو خبرو او د کرکې وړ خلکو باندې د حملې سره ملګرې وي.

«ج.ا.ایرونیګ» کاناډایي اروا پوه او محقق، په خپل هېواد کې د جنګ په وخت کې خپرې شوې آوازې د موضوع په  اساس څېړلې دي او ددې خپرو شویو افواوو په اړه یې په کاناډا کې د جنګ پر مهال شپږ اصلي موضوع ګانو ته اشاره کړې ده او داسې یې په ګوته کړې دي:(321:6)

۱ـ وحشت، کرکه او مړینه.

۲ـ مصرف او بڼه وخت تېرول.

۳ـ نظامي یرغل، حمله او د امنیت په خطر کې لوېدل.

۴ـ انګلیسي ضد احساسات.

۵ـ د جنګ په اداره کولو کې مهارت او تجربه نه لرل.

۶ـ د خوړو له بندولو څخه د دولت موخې، مالي مسایل او د سرتېرو نیول او ځورول.

د افواه ځانګړتیاوې:

دتبلیغ  هره بڼه جلا ځانګړتیاوې لري،  ما د ځو عالمانو له علمي اثارو څخه د افواه مهمې ځانګړتیاوې را چاڼ کړې دي او دادي ستاسو دپوهېدو لپاره یې وړاندې کوم. پوهاند مسکین علي حجازي،پوهاند افتخارحسین او ندیم الحسن د افواه په لاندې ځانګړتیاوو سره موافق دي .(471:28)

- سرچینه یې نامعلومه  وي.
- خواره واره او ډول، ډول مخاطبان لري.
- د انتقال رسمي او غیررسمي مجراوې لري.
- د خپرولو نا پایداره او ژر له منځه تلونکې شبکې لري.
- په چټکۍ سره خپریږي.
- موضوع یې همېشه نوې وي.
- کم لګښت لري.
- د منلو قابلیت یې ډېر دی.
- د مقابلې وسایل یې له محدودیت سره مخ دي،خو بیا هم ځینې لارې شته،چې کولای شودهغوپه وسیله ددې خطرناکې وسیلې مخه ونیسو.
- د خبر بې باوره بڼه ده.
- کنټرول یې ډېر سخت وي.
- د تبلیغ له ډولونو څخه ده.
- آسانه تولیدیږي.
- غبرګون یا انعکاس یې د اټکل وړ نه وي.
- مبارزه یې پر وړاندې ډېره پېچلې وي.
- افواه خپرونکي د هېڅ ډول ګناه احساس نه کوي.
- د اټکل خلاف، غیر عادي او توطیه اچونکې وي.
- هېڅ ډول سند نه لري.
- له ابهام سره مله وي.
- د جدي توب درجه او د خپرېدو وخت یې د اټکل وړ نه وي.
- ډېری وخت ژر تېرېدونکې وي.

• ډېرې وخت په شفاهي ډول انتقاليږي.
ولې دپورته ذکرشويو عالمانو په ځانګړتياوو کې د نيوکې ټکي شته چې بايد ذکر شي:
- کله اوازې خپرونکی شخص يا اداره اوازه خپروي ضرور څه احساس لري د همغه احساس له مخې دغه کار کوي.
- د افواه مخه نيول کيږي په هغه صورت کې چې د هېواد حکومت ځواکمن مطبوعات تقويه کړي څود دښمنانو پلانونه او دسيسې رسوا ، په مقابل کې يې ټولنه هوښياره او پوه کړي په مناسب وخت کې هغه لازم معلومات ورته ورسوي چې ټولنه له شک او مجهولتياسره مخ کوي.
- امکان لري، چې په زړو او نويو دواړو موضوعاتو پورې تړاو ولري.
- امکان لري،چې ځينې وخت يې سرچينه هم معلومه شي لکه دښمن هېواد يا هغه هېوادونه اوګروپونه چې په نړۍ کې د خپل سياسي نفوذ ساتنې او بقا لپاره مختلف ناروا او ظالمانه پروګرامونه پلي کوي.

د کومو انګېزو لپاره له اوازو څخه کار اخېستل کيږي،په اوسني دورکې ډېرې اوازې دسياسي ،اقتصادي اوياهم نظامي اهدافو لپاره په لار اچول کيږي؛ ولې د دښمنۍ د پټ ساتلو ، شومو ناروا موخو د لاس ته راړلو اوياهم د دښمن يا دوست دتابع کولو او تسليمي لپاره کېدای شي دمختلفو موخو لپاره له اوازو څخه کار واخېستل شي چې پوهانو لاندې موخې په ګوته کړې دي.

۱ـ د يوې ډلې د توجه جلبول:

د افواه يوه ځانګړنه داده، چې يوې ځانګړې ډلې ته ډېر اهميت او ارزښت لري؛ ځکه هغوی يې ديوې خاصې موخې لپاره کاروي.

دا بايد ومنو چې د يوې افواه انتقالونکې کله چې د نورو د توجه د جلبولو لپاره يوه موضوع تکراروي،نو داسې احساسوي چې نوموړی د يوه مهم خبر سرچينه ده يعنې خپله هم ډېر مهم او د توجه وړ کس دی.

ددې لپاره چې د نورو دپام وړ وګرځي؛ نو له همدې لارې کار اخلي ، چې افواه يا آوازې جوړوي او نورو ته يې وايي. دا کار هغه کسان کوي چې په نفس باور نه لري او په ځانګړې توګه هغه کسان چې د هغوی بدن له بد نظر او حقارت څخه ډک وي. کېدای شي چې يوه ښه انګېزه او مهمه لاره وي څو په دې وسيله نوموړی د نورو د توجه وړ وګرځي. دغه کسان نه شي کولای په غونډو،کنفرانسونواومېلمستياووکې خپله وړتيانوروته څرګنده کړي څو د نورو د توجه وړ وګرځي، نو مجبور دي په افواه جوړولو او خپرولو لاس پورې کړي.

۲ـ خوښي او خفګان:

ډېری کسان کله چې د افواه خپرولو سرچينه ګرځي لامل يې دادی، چې د يوې افواه موضوع يې د خپلو داخلي کشمکشونو او مشکلاتو سره يو شان وي او يا هم دا چې هېڅ ښه احساس نه لري او نشي کولای چې خپل احساسات او فکري تمايلات پټ وساتي. ددې لپاره چې د نورو د فکري تمايلاتو او فکري تګلوري څخه خبر شي، نو افواه خو، څو ځله تکراروي. دغه کسان پرته له دې چې خپل احساس او نفساني تمايلاتو ته ځواک ور وبښي بله انګېزه نه لري فقط په هسې چټياتو بوخت وي. ولې کله کله سياسي مخالفين د دښمن د احساس او فکري ځواک د معلوملو لپاره له دې ډول اوازو کار اخلي او بالمقابل داسې پروګرام په لاره اچوي چې دده دپرمختګ لاره ډب کړي.

۳ـ خپلې هيلې او اميدونه د بل چا په ژبه بيـانول:

د خدايج په ځمکه داسې انسانان هم شتون لري، چې دومره بې ژبې او نا اهله وي چې خپلې غوښتنې په خپله خوله نه شي مطرح کولی،بلکې غواړي خپل تمايلات، غوښتنې، هيلې او اميدونه

د دریم کس په ژبه بیان او ووایي. فلاني داسې وویل، هغه ویلي ؤ او... خبرې بیانوي یا هغه خپروي.خپل ځان ځکه نه شي ظاهرولی چې خلک پرې باور نه کوي او دی دا فکر کوي چې زما خبره خلکوته نه منونکې ده.

یوه ورځ یو مشر راغی ویل یې چې زه فلاني را لېږلی یم او راته یې ویل چې تاسو له فلاني دفترسره ښې اړیکې لرئ،نو په دې مورد به هغه له تاسو سره همکاري وکړي.دلته اساسي خبره دا وه چې کار ټول ددې کس ؤ،چې داوینایې کړې ده؛ولې په ده چاباور نه کاوه؛نوځکه یې زه ورته پلمه کړم او هغه کس یې ماته راولېږه څو دده خبره زما په سر با وري شي.

۴ـ دقت او پلټنه:

ډېری وخت،ځینې کسان چې د افواه خپرولو هېڅ نیت او قصد نه لري یوازې ددې لپاره چې وپوهیږي دا خبر د نوموړي په شخصي، کورني او ټولنیز ژوند څه اغېز لري. هڅه کوي چې په ډېر دقت او پلټنې سره او د هغې په تکرارولو سره د مختلفو اشخاصو ترمنځ (ځینې خلک چې باوري دي دده له نظره) د هغې رښتینوالی او یا هم دروغ والی معلوم کړي او د مختلفو خلکو نظرونه او مشورې ترلاسه کړي. کله کله ځینې اداري هم ورته کار کوي څو خپل ارزښت او باور په ټولنه کې معلوم کړي او بیا د ضعف او قوت په ټکو له سره غور وکړي .ددې ډول افواه اغېز ښه وي ځکه چې اکثره وخت دیو ښه کار د کره توب لپاره په لاره اچول کیږي.

دغه کسان په ناغوښتلي ډول د هغې د رښتینوالي دمعلومولولپاره په ډېر دقت سره پلټنه کوي چې په نتیجه کې د اوازو په خپرولو مشغولیږي.

ددې لپاره چې هغه یوازې وغواړي د شکمنو اطلاعاتو رښتینوالی وڅیړي او د افواه خپروونکو سره هم لاسی نه شي باید خپل اطلاعات یوازې او یوازې د خبر رسولو د رسمي سرچینو او یا هم له باوري وګړو اوکارپوهانو سره شریک کړي.

۵ـ د نویو دوستانو پالل او هغوی ته د تفریح زمینه سازي:

ځینې کسان یوازېله نویو دوستانو سره د اړیکو د ټینګښت او خبرو د پیل او یا هم دوستانو د تفریح لپاره په ځانګړو محفلونو، غونډو، مېلمستیاوو، کورسونو،مدرسو، ادارو، پوهنتونو او... کې هڅه کوي د ناتائید شوو او مهمو خبرونو (اوازو) سره میدان ګرم وساتي او خپله ګټه هغوی ته وړاندې کړي.

دغه کسان ددې لپاره چې خپلو دوستانو ته د ویلو او د هغوی د خوشحالولو لپاره یو څه له ځان سره ولري مجبور دي، چې د بېلا،بېلو مهمو خبرونو او افواوو په لټه کې شي؛ نو ځکه خارجي رادیوګانو او خبري سرچینو ته د مهمو خبرونو ترلاسه کولو په موخه غوږ نیسي او دا خپله ورځنۍ دنده بولي. په همدې دلیل نوموړي کسان په ټولنه کې د بې بنسټه خبرونو په خپرولو مصروف وي.

۶ـ ښکاره او پټه دښمني:

د افواه جوړولو او خپرولو اصلي انګیزه د خلکو، ډلو او هیوادونو سره د ځینو اشخاصو پټه او ښکاره دښمني ده. یا په بل عبارت غیر منطقي انګیزې او هدفونه کولای شو د افواه خپرولو اصلي عامل وبولو.

د خلکو د حقوقي او حقیقي شخصیت، ډلو، بنسټونو او هېوادونو د تخریب په موخه د افواه خپرول اوږده مخینه لري او د انسان د ټولنیز ژوند له تاریخ سره برابریږي. په حقیقت کې دښمن ته د خپل رقیب د تخریب لپاره یوه مهمه وسیله ګڼل کیږي. نن ورځ د ورانوونکو اوازو ځینې طراحان ، ډلو او هېوادونو سره له دښمنۍ پرته بله موخه نه لري او د خبري سرچینو ، ډله ییزو ارتباطي وسایلو څخه په ګټې اخېستنې سره کولای شي په څو دقیقو کې د فکري جګړې په لیکه کې د نړۍ د خلکو او ډلو ذهنونه او افکار په لوړه کچه اغېزمن او مشغول کړي، چې اوسنۍ رسنۍ یې ښې نمونې دي .

په دې ترتیب اوسنیو شرایطو او تکنالوژیکي جنګ ته په کتو سره د چارو پوهان مسؤل دي؛ ځو د دقیقې خبر رسونې، خلکو د رواني او ټولنیز امنیت ساتنې په موخه هر ډول شک او بدبیني له منځه یوسي، چې د بشریت له دښمنانو سره د مقابلې لپاره غوره لاره ګڼل کیږي.ددې کارونو د سرته رسولو ښې وسیلې رسنۍ دي چې په ځو ثانیو کې له ټولو موانعو څخه تېریږي او انساني اذهان تر اغېز لاندې راولي .

دخبررسونې ټولې وسیلې مسؤلې دي؛ځوخلکوته ددقیقو او رښتینو خبرونو په رسولو کې نه ستړې کېدونکې هڅې وکړي. ځکه د ځینو خلکو، ډلو او هېوادونو د افواه له خپرولو څخه یوازینۍ موخه د شخصیتونو، حکومتي چارواکو،تخریب،دخلکودحیثیت په اړه د خلکو په شک کې اچولو سره خپلو سیاسي، اقتصادي، نظامي او ټولنیزو موخو ته رسېدل دي.

۷ـ تهدیدول: ځینې وخت د داسې افواوو د خپرېدو شاهدان یو، چې د خلکو له تهدید څخه پرته بله انګېزه نه لري. ځینې خلک او ډلې د خپل قدرت ښودلو لپاره غواړي، په مستقیم او غیر مستقیم ډول د افواه په جوړولو او خپرولو سره اشخاص او ډلې تهدید او له رواني ستونزو سره یې مخ کړي.دهغوی روحیه ضعیفه کړي؛ځوخپلوموخوته نږدې شي،د هېواد ملي امنیتي ځواکونو ته دطالبانو تهدید او وژل له همدې ډول څخه دي.

۸ـ فرېب او د افکارو تحریفول:

ځینې افواوې یوازې د افرادو او ټولنې د ذهنونودتحریفولو په موخه جوړیږي او خپریږي. په دغه فرېب ورکوونکو افواوو کې ظاهراً تهدید او دښمني نه ښکاري. ددې ډول افواوو خپرېدل د نورو معمولو لارو تر څنګ، په ډېره ځیرکۍ سره د ورځپاڼو له لارې صورت نیسي او څرګنده خبره ده چې له دې لارې به یې د رواني تخریب قدرت او انحراف نور هم زیات وي، دا کار امریکایي ورځپاڼې ډېر په دقت او غور سره کولی شي.

د افواه رامنځته کېدو علتونه:

مخکې مو په دې هکله مفصل معلومات ولیکل،چې کومه اداره چې په مناسب اولازم وخت کې ټولنې ته لازم معلومات خپاره نه کړي؛ نو دښمن له دې فرصت څخه ګټه اخلي او مختلفې مضرې اوازې خپروي چې په پایله کې خلک په ناپوهۍ کې غرقیږي،دموضوع په اړه اصل هدف له لاسه ورکوي نو حکومت، ادارې او مسؤلینو ته لازمه ده، چې هر ډول حالاتو کې دښمن ته دا وخت ورنه کړي چې د خلکو له افکارو بده ګټه پورته کړي ځکه داسې حالاتو کې دوی ته زمینه مساعدیږي؛ ځو ټاکلی ناوړه هدف لاس ته راوړي، دا کار د ټاکنو پروخت د سیالو ډلو د فشار، یا د ناخبرۍ په وخت کې د دښمن د تخریب لپاره، د خپلو ملګرو روحیې ته د ځواک او د د ښمن د روحیې د کمزوري کولو لپاره خپریږي. په دې اړه د نظر د خاوندانو ټینګار او تاکید دادی، چې افواه په داسې شرایطو کې د یوې موضوع په اړه خپریږي چې عامه افکارو ته مهمه وي، او په هکله یې معلومات ونه لري او شته اطلاعات او معلومات مبهم، ناقص او نیمګړي وي. د افواه د رامنځته کېدو لپاره کولای شو لاندې فورمول ولیکو:

افواه = ابهام + اهمیت

که چېرې په یوه ټولنه کې مهمه مسئله رامنځته شي،خو هغه مبهمه او وپوښل شي او د هغو په اړه صحیح او کره معلومات ور نه کړل شي؛ نو د هغې اهمیت، ارزښت او ابهام عامه افکار دې ته مجبوروي چې د کره معلوماتو او حقایقو په لټه کې شي. په دې صورت کې ټولنه داوازو خپلولو ته غاړه ږدي.

نو په دې وخت کې فرصت طلبه خلکو ته ښه زمينه مساعديږي، چې له دې وضعيت څخه پوره ګټه واخلي ځکه چې د مهمو پېښو په اړه د خلکو بې خبري د افواه رامنځته کېدو ته لاره برابروي او ددې سربېره په ټولو پېښو او بحرانونو کې افواه وجود لري او ډېرى هغه عوامل چې د اوازو د منځته راتلو سبب ګرځي په لاندې ډول دي:

۱ـ د خبر په بڼه:

ددې لپاره چې افواه خبر دى او يوه غير عادي او د توقع خلاف موضوع انتقالوي، مخاطبان او اورېدونکي ځانته را جذبوي. تر هغه وخت پورې چې خبر نه وي موجود افواه صورت نه نيسي او ترڅو چې افواه صورت ونه نيسي، لوستونکي او اورېدونکي هغه نورو ته نه انتقالوي. څوک چې افواه اوري په ډېره چټکۍ سره يې نورو ته انتقالوي. ته به وايې چې د افواه خپرول يې ديني او اخلاقي دنده ده. کله کله ځينې هېوادونه د خپل ځواک د ښودلو او ددښمن د ډارولو او ورخطا کولو په خاطر ځينې افواوې سرته رسوي څو مقابل طرف له صحنې لېرې کړي .

۲ـ له فشار څخه خلاصون:

کله چې خلک، غمجنې افواوې اوري له ډېر سخت رواني فشار سره مخ کيږي، هغه فشار چې له بې خبرۍ څخه منځته راځي. په دې حالت کې اورېدونکي د فشار څخه د خلاصون په موخه د افواه په خپرولو لاس پورې کوي. هغه په دې توګه غواړي چې په خپل خفګان او پرېشانۍ کې نور هم ورسره شريک کړي . دى فکر کوي که چېرې دا خبره (افواه) دروغ وي خلک به يې په اثبات ورسوي او که چېرې رښتيا وي خلک به يې د حل په اړه فکر وکړي. ښه مثال يې په ۲۰۱۴ کال کې د امريکايانو افواوې وې چې ويل يې : که امريکايان له افغانستانه لاړشي نو افغانستان به له لوى مشکل سره مخ شي . خو کله چې امريکايان لاړل موږ ته هيڅ مشکل نه وو.

۳ـ د نورو خلکو خوشحالول:

ډېرى خلک د نورو د خوشحالولولپاره افواه يو بل ته انتقالوي. ډېرى افواوې ددې لپاره چې جالبې دي او د نورو د تفريح لامل کيږي خپريږي او څوک چې افواه خپروي د نوموړې افواه په محتوياتو باندې باور نه لري، خو په دې باور لري چې په هغه کسانو باندې چې دده شاوخوا ته راټول شوي دي پر هغوى اغېز کولاى شي. په دې ډول افواوو کې رښتيا او دروغ دواړه وجود لري چې ټول خلک يې د اورېدو مينه وال وي.

۴ـ د چوپتيا ماتول:

د افواه د خپرولو بل لامل په محفلونو او مجلسونو کې د چوپتيا ماتول دي. کله چې دوستان او ملګري له يو بل سره يو ځاى کيږي او د ويلو لپاره څه ونه لري؛ نو د افواه په خپرولو سره ځانونو ته د تفريح زمينه برابروي. په مختلفو مجلسونو په ځانګړي ډول د خوښۍ او خوشحالۍ په ورځو شپو کې د دوستانو ملګرو او همځولو تر منځ ناستې د دې ډول افواه ښه زمينه مساعدوي .

افواه جوړونکي او خپرونکي کسان:

دښمنان، منافقان،انتخاباتي،تجارتي، اقتصادي رقيبان او نور د افواه په جوړولو کې فعاله ونډه لري او د افواوو ډېرى برخه د نوموړو کسانو له لوري جوړه او خپريږي. د افواوو ډېرې بېلګې کولاى شو چې په اوس وخت کې دنړۍپه مختلفو سازمانونو، شرکتونو، کمپنيو، مؤسسو، حکومتونو او نورو کې ووينو.ولې د اوسني دور ډېرى حکومتونه او سياست پوهان له افوه څخه ګټه پورته کوي .

د اسلام په تاریخ کې هم مونږ د دروغو د داسې خبرونو شاهد یاستو چې د مسلمانو د روحیې او مورال د کمزوري کولو لپاره ترې ګټه اخېستل شوې ده. بیلا،بیل تورونه او دروغ یې د اسلام په پیغمبرص او د هغه په صحابه وو پسې ویلي دي، چې د هغو د جملې څخه یو هم عبدالله ابن ابی. سلول رئیس المنافقین دی. د جهالت په وخت کې عبدالله ابن ابی په مشرکینو کې ځانګړی مقام او منزلت درلود، خو کله چې حضرت محمد ص په پیغمبرۍ باندې مبعوث شو په دې وخت کې عبدالله ابن ابی رئیس المنافقین خپل مقام له لاسه ورکړ. ددې لپاره چې یو ځل بیا خپل له لاسه وتلی مقام او نفوذ ترلاسه کړي او خلک د تېر په څېر یو ځل بیا په نوموړي باندې راټول شي.

نو په دې وخت کې ده او نورو منافقانو د مسلمانو پر وړاندې په فکري جګړه لاس پورې کړ او هڅه یې کوله، چې د مسلمانو ترمنځ اختلاف رامنځته کړي. دوی همدارنګه د افواوو په خپرولو سره خپلو موخو ته د رسېدو په لټه کې وو.

اوس هم د کفري نړۍ استخباراتي ډلې د اسلامي نړۍ په مشرانو مختلف تورونه لګوي، بد نامول یې، په خپله ټولنه کې یې بد معرفي کوي څو دخلکو باور پرې کم شي، ښې بېلګې یې دافغانستان په پخواني ولس مشر د خارجي نړۍ له خوا مختلف تورونه دي چې پرې لګول به یې، دده ورور احمد ولي کرزی، د تره زوی یې حشمت کرزی مړینه ټول دنورو د لاس وهنو او بد نامۍ لارې اوچارې دي چې دغریبو مظلومو او بې سواده ملتونو لپاره یې با قدرته هېوادونه جوړوي.

دافوه ( اوازو) اروایوهان وایی چې:

- ✓ هغه څوک چې د قهر،غوسې او د غچ اخېستلو په حالت کې دی، د نورو پر ضد په افواه جوړولو لاس پورې کوي. نوموړی په داسې اندازه په بې فکرۍ او بې توجهۍ سره په دې کار لاس پورې کوي، چې هېڅ پولې او حدود نه مراعاتوي. یعني نوموړی دومره د غچ اخېستلو په فکر کې وي، چې له هر څه تېریږي او خپلې موخې ته ځان رسوي. دیني، کلتوري، اخلاقي او نور ټول ارزښتونه شاته پرېږدي او په دې ډول خپل غچ له نورو څخه اخلي.(454:28)
- ✓ هغه څوک چې ژبه یې د عقل له اختیار څخه ووځي او د شیطاني او نفساني غوښتنو پر اساس ناروا خبرې کوي.

  هغه څوک ( چې غیبت، تهمت او بد ویل یې عادت ګرځېدلي وي.) په دې اړه هېڅ سرحد ونه پېژني او په افواه جوړولو لاس پورې کړي.
- ✓ هغه څوک چې خپله عیب جن وي، دا خوښوي چې خپل عیبونه یې خپاره شي او په دې تمه خپل غیبونه نورو ته وایي چې دده په څېر نور خلک په ټولنه کې پیدا شي. که چېرې دا افواه جوړونکې له دې لارې د ځان په څېر خلک پیدا نه کړي، نو ددې لپاره چې په ټولنه کې په خیالي او تخیلي ډول خپل ځان ثابت کړي؛ نو د افواه په جوړولو لاس پورې کوي.

امیر المؤمنین حضرت عمررض په دې اړه داسې فرمایلي دي، چې «ذووالغیوب یحبون اشاعه معایب الناس لیتسع لهم العذر فی معایبهم».

ژباړه: معیوب یا غیبجن انسان دا خوښوي چې د خلکو غیبونه په ټولنه کې خپاره شي یا وویل شي ترڅو ده ته هم عذر په لاس ورشي (نورو ته ووایي چې یوازې زه خو نه یم چې په دې مرض باندې اخته یم او خطا مې کړې ده).

- ✓ هغه څوک چې خپل ځان ورته په ده باندې د نورو د لوړوالي له امله سپک ښکاري او د حقارت احساس کوي، نو د هغه پر ضد په افواه خپرولو او د دروغو په نشرولو لاس پورې کوي.
- ✓ هغه څوک چې د یو چا پر وړاندې کینه او حسد لري د هغه پر خلاف افواه جوړوي.
- ✓ څوک چې دشیطان په منګولوکې بندپاتې وي اوتل دشیطان خبره مني.

✓ هغه څوک چې اهل شر دی یا شر زېږونکی دی افواه خپروي.
همدارنګه ځان غوښتنه، یوازیتوب، شک او دوه زړي او دښمني هم د افواه جوړونکو او خپرونکو له ځانګړتیاوو څخه ګڼل کیږي.

د افواه مرحلې :

د افواه مرحلې درې دي چې عبارت دي له: د افواه زېږېدل، ژوند او مړینه

۱ـ زېږېدل: دا د افواه لومړنۍ مرحله ده، په دې مرحله کې افواه منځته راځي یا جوړیږي. د افواه زېږېدل ممکن د لاندې کسانو په واسطه صورت ونیسي:

- رسمي دښمن (په جګړو کې)
- د جاسوسي او استخباراتي سازمانونو له خوا
- پنځم ستون(ډله)(د یوه هېواد په دننه کې د نورو دولتونو یا هېوادونو مزدوران، جاسوسان او منافقان)
- د خبر خپرولو سرچینې او خپلواک یا ځاني خبریالان (چې په کومه رسنۍ پورې تړلي نه وي)
- رواني ناروغان او ضعیف النفس خلک (د نورو د توجه د جلبولو، د نورو پر وړاندې د حسد او کینې د ښکاره کولو په موخه).

دغه کسان چې کله هم مناسب وخت پیدا کړي نو د فتنې، فساد او پرېشانۍ تخم کري. همدرانګه د خلکو د مورال د کمزوري کولو او د قومونو ترمنځ د اختلافونو په پیدا کولو لاس پورې کوي. کله چې خلک د دقیقو او کره معلوماتو په لټه کې وي او لاسرسی ورته پیدا نه کړي؛ نو د افواه جوړونکي په دې وخت د تحریف شوو او غلطو معلوماتو د خپرولو اقدام کوي.

۲ـ د افواه ژوند او پراخوالی:

د افواه خپرېدل د یوه ځانګړي قانون تابع دي. د دغه قانون پر اساس د افواه رواج د موضوع اهمیت او ابهام یعني په هره اندازه چې د یوې موضوع اهمیت د لیدونکي یا اورېدونکي لپاره ډېر وي او د موضوع په اړه ډېر ابهامات یا ګونګوالی موجود وي، د افواه د ژوند د پرمختګ چانس هم ډېریږي. د بېلګې په توګه: که چېرې په بانکونو کې د سود د کمښت آوازه شي، نو هغه کسانو ته به هېڅ ارزښت ونه لري چې دوی په بانک کې پیسې نه لري او هېڅکله به ددې افواه په خپرولو لاس پورې نه کړي. همدارنګه دا ډول مسئلې د بانک په مسؤلینو او کارکوونکو ډېر اغېز نه لري؛ ځکه هغوی په بانکونو کې د سود له اندازې څخه خبر دي.

۳ـ د افواه مړینه:

دا مرحله د افواه د عمر وروستۍ مرحله بلل کیږي، چې بالاخره په دې مرحله کې افواه له منځه ځي. کېدای شي ځینې افواوې څو ساعته یا څو ورځې دوام وکړي. همدارنګه داسې افواوې هم شته چې کال یا کالونه او حتی تر پېړیو پورې دوام کوي. ځینې افواوې داسې هم شته چې د یو څه وخت لپاره پټې وي؛ خو کله چې زمینه ورته برابره شي بیا سر راپورته کوي او خپریږي.

د افواه طبیعي مړینه هغه وخت صورت نیسي چې د افواه د دوه مهمو عناصرو ابهام او اهمیت څخه یو له منځه لاړ شي. ابهام هغه وخت له منځه ځي چې صحیح خبر رسونه ترسره شي او خلک په ډله اییزو رسنیو او خپلو مسؤلینو باندې پوره باور ولري. په ټولنه کې ځینې غیر مؤثق او غیر مستند مطبوعات هم کولای شي چې د افواه په جوړولو کې مهم رول ولوبوي. د جنګونو او بحرانونو پر وخت رسنۍ سانسور ته مجبوریږي نو طبیعي خبره ده چې افواوې ډېر رواج پیدا کوي.

په افواه باندې حاکم اصول او قوانین:

له شک پرته افواه یوې ټولنې ته ملي  اهمیت لري ، چې هر سالم ملت باید په اتفاق سره د هغې د له منځه وړلو لپاره کوښښ وکړي. هغه څه چې د افواه په څیړنه کې یې د څیړونکو او پوهانو توجه ځانته را جلب کړې ده هغه په افواه باندې حاکم اصول او قوانین دي. ټول انسانان دا خوښوي چې د دوست او دښمن ترمنځ توپیر وکړي، چې دا یو رواني اصل دی.

افواه هغه وخت خپریږي او چټکوالی یې زیاتیږي چې د همفکره او همنظره خلکو ترمنځ نفوذ وکړي. یعني مطرح شوې موضوع د هغه ډلې ټولو یا ډېرو افرادو ته ډېر اهمیت ولري او همدارنګه ابهام هم د افواه د جوړولو او پراخولو اصلي شرط بلل کیږي. د افواه په موضوع کې د مخاطبانو د جذبولو لپاره د حقیقي او رښتیني خبر یوه برخه هم په کې ځای پر ځای کیږي، خو له یوه کس څخه بل کس ته د لېږد په وخت کې دوی په خپله خوښه په هغه کې بدلونونه راولي حتی تر دې پورې د افواه پر موضوع سیوری غوړوي، چې د حقیقت او دروغو توپیر په کې له منځه ځي یعنې د واقعیت او دروغو ترمنځ تشخیص یې ډېر ستونزمن کیږي.

دغه تغییر او بدلون یو ځانګړی قانون دی چې پر افواوو حاکم دی، یعني کله چې افواه له یو کس څخه بل کس ته لېږدول کیږي،نو په هغه کې درې جریانونه او پروسې رامنځته کیږي،چې عبارت دي له برابرولو، لوړولو او ورته کولو څخه،چې په پایله کې په افواه کې موجود حقیقت له منځه ځي.

د روان شناسانو څیړنو دابښودلې ده چې ټولنیز اوکلتوري لاملونه د انسان په ادراک باندې ډېراغېز لري،نوپه همدې دلیل دمختلفو فرهنګونو انسانان د افواه په څېر پدیدو سره په چلند کې متفاوت درک لري.

البرت او پستمن باور لري، چې پورتني یاد شوي اصول یوازې په افواوو پورې محدود نه دي، بلکې ډېر پراخه او لوړ استعمال لري او د انساني اړیکو ټول ډولونه په غېږ کې نیسي.

افواه د جوړېدو له لومړیو مرحلو څخه تر نسبتاً یو ثابت راپور باندې د بدلون لپاره، لاندې درې مرحلې ترسره کوي:

۱: برابرول(Leveling):

په دې مرحله کې ځینې جزیات لېرې کیږي، چې د افواه د خپرونکو له نظره ډېر اهمیت نه لري یا په بل عبارت هر څومره چې افواه ډېره خپره شي په هماغه اندازه  لنډه او مختصره کیږي.(683:5)

۲: ډېر اهمیت ورکول (Sharpening):

په دې معنی چې د افواه د لېږد په جریان کې ځینې جزیات ډېر برجسته او ډېر ارزښت ورکول کیږي یعني د افواه تر ټولو مهم ټکي وي.

۳: ورته کول (Assimilation):

په دې معنی چې د افواه خپرونکي د خپلو ګټو پر اساس د افواه موضوع جوړه وي.

د لېږد په وخت کې د پیغام تحریفول:

څېړونکي د پیغام د انتقال په وخت کې دې پایلې ته رسېدلي دي، چې د انتقال په وخت کې درې ډوله تحریف رامنځ ته کیږي:

الف: تقلیل (کمول): خلک د یوې صحنې یا پېښې خبرې په دې اندازه لنډوي،چې یوازې دیو شعار په ډول پاتې شي.(ټاکنې/موږ عدالت غواړو).

ب:تشدید یا سختول:په پېښه کې د ښکېلو عناصرو او پیغام محتوا او ځینې وخت کلمې، اصطلاحات او پېښې چې په اصلي پیغام کې نه وي ډېرې غټې ښودل کیږي.(سړکال /په لکونو خلک مړه شول)

ج: تشبیه:خلک اصلي پیغام تر لاسه کوي؛ خو معنی او مفهوم ته یې بدلون ورکوي. لکه هغه عناصر چې مهم نه دي د هغوی لېږې کول او د ځینې عناصرو غټې ښودنه. خلک هغه خبرې چې ورته جالبې نه وي لېږې کوي او هغه څه چې دوی ته ښه معلومیږي ور زیاتوي او لا نور یې هم تقویه کوي.(مورحق غواړو/حبیب الله دې ملي مشر ومنل شي)

افواه د قرآن کریم په رڼا کې:

افواه داسې مهمه مسئله ده، چې په سیاسي موضوعاتو او فکري جګړه کې ورڅخه ډېره ګټه اخېستل کیږي. قرآن کریم د افواه په اړه ډېر مسایل مطرح کړي دي او ډېر مهم بحث دی. که چېرې مسلمان امت د افواه په اړه پوره معلومات ولري او د هغې په مهم والي باندې پوه شي، چې د اسلام او قرآن له نظره کوم خطرونه او اضرار لري؛ نو هېڅ ډول افواه به د مسلمان امت ترمنځ وده ونه کړي او دا د امت یو نه ماتېدونکی حالت پیدا کوي. یعني هر ډول پرېشاني، وېره او نور... به په مسلمان ملت باندې هېڅ تاثیر ونه لري. که چېرې وغواړو چې امت نه ماتېدونکی وي؛ نو باید د افواه مسئله په ژوره توګه وڅېړل شي. د افواه کلمه یعني یوې خبرې ته تقویت ورکول تر هغې اندازې پورې، چې هغه په ټولنه کې ډېر قوت پیدا کړي.

افواه جوړول یوه مهمه ټولنیزه او اخلاقي مسئله ده. افواه په جنګي حالاتو کې ډېره مهمه ده همدارنګه په سیاسي مسایلو کې ډېر اهمیت لري او په ټوله کې ډېره دځواک نقطه ګڼل کیږي.

الله ج د النساء په سورت کې داسې فرمایي: «وَ إِذا جاءَهُمْ أَمْرٌ مِنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذاعُوا بِهِ وَ لَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَ إِلى أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذينَ يَسْتَنْبِطُونَهُ مِنْهُمْ وَ لَوْ لا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَ رَحْمَتُهُ لاَتَّبَعْتُمُ الشَّيْطانَ إِلاَّ قَليلاً»(نساء/86).

ژباړه: او کله چې راشي دوی ته د امن او خوف څه خبر راشي؛ نو هغه خوروي، حال داچې که دوی هغه رسول او ذمه دارانو ته سپارلی؛ نو د هغوی نه د تحقیق صلاحیت لرونکي به د هغې ښېځ ته راسېدلي وای او که د الله ج فضل او د هغه رحمت په تاسو نه وای؛ نو د څو کسانو نه پرته به تاسو ټولو د شیطان تابعداري کړې وای.

یعني له کوم ځای څخه چې دوی ته خبر ورسیږي، نو ښایي چې لومړی یې خپل مشر او د هغه مرستیالانو ته ووایي کله چې دوی د خبر په اړه تحقیق وکړي، نو د دوی د وینا سره سم باید هغه بل چا ته وکړي.

کله چې خلکو ته یو پیغام راشي، په ډېره چټکۍ سره یې خپروي. اوس دا خبر به څه شی وي چې خلک ورته خوشحاله کیږي. په هغو کې به امنیت وي یعني امنیتي خبر وي چې دښمن ماته خوړلې ده، دا خلک بد خلک دي، چې په همدې وخت کې دوی ته یو پیغام راشي، که امنیتي یا د خطر په اړه وي، هغه فوراً خپروي. هر چا چې خبر واورېد رسولص ته د مراجعه وکړي یا هم د وخت خلیفه ته.

په پورتني آیت شریف کې دریو ټکو ته اشاره شوې ده:

۱ـ د آیت لومړی کرښه شکایت کوي، او وایي کله چې خلکو ته یو خبر راشي. که هغه د امن خبر وي یا که د وېرې خبر وي فوراً او په چټکۍ سره یې خپروي او دا خلک بد خلک دي چې افواه خپروي.

۲ـ وروسته قرآن کریم دې خبرې ته د حل لاره ښیي،تل چې کله چې قرآن کریم په یو شي باندې نیوکه کوي نو سالمه لاره هم ښیي. قرآن کریم په دې اړه دا لاره ښودلې ده، چې که چېرې یو څوک داسې خبر واوري نو هغه باید رسول یا د وخت خلیفه ته وروړي.

په ضمن کې په دغه آیت کې راډیو او تلویزیون ته هم یوه لارښوونه شته، چې کومه خبري مرجع یو خبر اعلانوي باید یوه داسې ډله موجوده وي، چې هغه خبر وسنجوي او ریښتین والی او دروغ یې ثابت کړي. کوم خبر چې صحیح دی خپور دې شي او کوم چې دروغ او غلط دی له خپرولو څخه دې

لرې شي. په يوه رسنۍ کې بايد د خبر پېژندونکو او خبري کارپوهانو يو مرکز موجود وي، چې لومړی ټول خبرونه هلته وکتل شي او وروسته ټولنې ته د ملي ګټو په رڼا کې وړاندې شي.
۳ـ مونږ په خپلو خبرو کې وايو چې په قرآن کريم کې اخلاقي، ټولنيز، سياسي، فرهنګي، نظامي او نور مسايل شته،که چېرې يو څوک پوښتنه وکړي چې د قرآن کريم يوه ټولنيزه مسئله څه شی ده؟ بايد په ځواب کې يې وويل شي چې د قرآن يوه ټولنيزه مسئله داده، چې خبرونه بايدژر خپاره نه شي لومړی بايد هغه و څېړل شي او جالبه خبره خو لا داده چې که چېرې يو څوک غلط خبر خپور کړي نو هغه د شيطان په نوم سره نومولی شوی دی.

همدارنګه په مختلفو وختونو کې د الله ج د استازو (پيغمبرانو) پر وړاندې کفارو او مشرکينو بېلا،بېلې افواوې جوړولې او خپرې کولې. په دوی باندې د دروغجنو، جادوګرانو، شاعرانو، لېونيانو او نور نومونه اېښودل شوي دي، تر څو د هغوی مخه ونيسي. د قرآن کريم په بېلابېلو آيتونو کې هغوی ته اشاره شوې ده او د هغوی موخې بيان شوي دي.
الله ج په قرآن کريم کې فرمايي:
إِنَّ الَّذينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشيعَ الْفاحِشَةُ فِی الَّذينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذابٌ أَليمٌ فِی الدُّنْيا وَ الْآخِرَةِ والله يعلم وانتم لاتعلمون.(النور ايت ۱۸)
ژباړه: (هغه کسان چې دا خوښوي، چې د با ايمانه خلکو ترمنځ زشت او بد اخلاقۍ خپروي، د دوی لپاره دردناک عذاب په دنيا او آخرت کې ټاکل شوی دی او اللهج په هغو رازونو خبر دی چې تاسې پرې خبر نه ياست).

پورتنی آيت ټولنې او خلکو ته ځانګړی پيغام لري، چې ځينو برخو ته اشاره اړينه ده. د بنی مصطلق په غزا کې مشرکينو او کفارو غوښتل، چې د مسلمانانو د برياليتوب خوشحالي له منځه يوسي، نو د يوې افواه په جوړولو يې لاس پورې کړ، خو د دوی افواه د پورتني آيت په واسطه له منځه ولاړه، د پورتني آيت د نازلېدو څخه مخکې د افواه جوړولو د منع لپاره کوم څه نه وو راغلي، نو افواه جوړونکي د حضرت محمدص له خوا د نيوکې او انتقاد لاندې راغلل. له پورتني آيت شريف څخه لاندې  مهم ټکي په لاس راځي:
۱: افواه خپرول حرام دي اودهغې عاملينوته په اسلام کې جزاورکول کيږي.
۲: نه يوازې دا چې افواه جوړونه حرامه ده، بلکې د افواه خوښول، د بد عمل خپرول او له افواه جوړونکو څخه ملاتړ هم حرام دی.
۳: د افواه خپرونکي جزا يوازې په دې دنيا کې نه ده، بلکې د دغه عمل په ترسره کولو سره په آخرت کې هم ورته سخته جزا ټاکل شوې ده.
٤: د افواه جوړونکو او د دروغ ويونکو پر وړاندې د شديد عمل څخه يوازې الله ج خبر لري، ددې څخه معلوميږي چې دا مسئله په اسلام کې ډېر اهميت لري او د خلکو عزت او آبرو ته په احترام قايل دی.
٥: که چېرې افواه جوړونکي د خپل تهمت او افواه د اثبات لپاره څلور عادل شاهدان و نه لري، نو سزا به ورکول کيږي.
٦: د افواه اورېدونکي دنده داده، چې نوموړی بايد د افواه جوړونکي څخه د هغه مسئلې په باره کې د شاهدانو غوښتنه وکړي او د شاهدانو شمېر بايد د څلورو کسانو څخه کم نه وي که چېرې کم  ؤ؛ نو نوموړی شخص دې د افواه جوړونکي په توګه نورو ته ور وپېژني.
٦: د افواه حد هماغه د قذف حد دی اود  قذف حد په اسلامي فقه کې د تهمت حد دی  چې(اتيا دُرې) دي.

۷: له پورتني آيت څخه معلوميږي، که څه هم چې په پيل کې د افواه جوړونکی يو کس وي او وروسته نور خپرونکي يې هم د افواه جوړونکو له ډلې څخه ګڼل کيږي.
۱ـ د پيغمبرص د جادوګر او شاعر بللو افواه:
په لومړي سر کې يو څو کسانو د پيغمبرص د جادوګری، شاعرتوب او نورې افواوې جوړې کړې او نورو ددې افواوو په اورېدو سره په چټکۍ سره د خلکو ترمنځ خپرې کړې. دا آوازې دا ډول خپرې شوې، چې کفارو په خپله هم پرې باور وکړ او پيغمبر ص يې ساحر، شاعر او لېونی وباله.
۲ـ د خيانت افواه:
د بدر د غزا په غنيمتونو کې د وربښمو سره ټوټه هم وه، دغه ټوټه ورکه شوه، ځينو دا افواه جوړه کړه، چې خپله پيغمبر ص دا ټوټه اخېستې ده. دا افواه د خلکو ترمنځ خپره شو او وروسته دا ايت شريف نازل شو.
وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَغُلَّ ۚ وَمَن يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ ثُمَّ تُوَفَّىٰ كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ (۳:۱٦۱)
ژباړه: هېڅ پيغمبر لره نه ښايي چې خيانت وکړي او هر چا چې په يو شي کې خيانت وکړ هغه به د قيامت په ورځ له ځان سره راوړي او وروسته به هر سړي ته د خپل عمل جزا ورکړل شي او په هېچا به هم ظلم ونه شي.
د قرآن کريم ځينو نورو مفسرينو د دې آيت د نزول سبب بل ګڼي او وايي، چې د احد په غزا کې د کنډو ساتونکو داسې افواه خپره کړه، چې که هر چا په خپله د ځان لپاره غنيمتونه وانه خېستل، نو د پيغمبرص څخه د د غنيمتونو د ترلاسه کولو هيله نه کوي. کله چې پيغمبرص دا افواه واورېدله ځواب يې ورکړ. «ګمان کوئ چې زه به له تاسو سره خيانت وکړم او له غنيمتونو څخه به  تاسو ته برخه در نه کړم».
۳ـ د پيغمبرص د بې انصافی په اړه افواه:
بل ډول افواه چې د حضرت محمد ص شخصيت يې په نښه کړی ؤ. د حضرت محمدص د«بې عدالتی» په اړه وه. دحنين دغزاڅخه وروسته منافقانو داسې افواه خپره کړه،چې پيغمبر ص د غنيمتونو په وېشلو کې بې عدالتي کوي.
وَمِنْهُم مَّن يَلْمِزُكَ فِي الصَّدَقَاتِ فَإِنْ أُعْطُوا مِنْهَا رَضُوا وَإِن لَّمْ يُعْطَوْا مِنْهَا إِذَا هُمْ يَسْخَطُونَ (۹:۵۸)
ژباړه: او ځينې له دوی څخه تا د صدقو په تقسيمولو کې په بې عدالتۍ تورنوي، که چېرې دوی ته ورکړل شي نو خوشحاله کيږي او که دوی ته ورنه کړل شي نو په غوسه کيږي.
۴ـ د ژر باور کولو او ساده والي افواوې:
دا افواه د منافقانو په وسيله جوړه او خپرېدله. په دې اړه په قرآن کريم کې الله ج داسې فرمايي:
وَمِنْهُمُ الَّذِينَ يُؤْذُونَ النَّبِيَّ وَيَقُولُونَ هُوَ أُذُنٌ ۚ
ژباړه: ځينو  د دوی به پيغمبرص ته آزار ورکولو او ويل به يې چې هغه د هر چا خبرې ته غوږ ږدي.
ب: هغه ډول افواوې چې د رسول اللهص کورنۍ به يې آزاروله لکه د عايشېرض د بې وفايۍ افواه چې تفصيل يې مخکې وړاندې شو.
ج: هغه افواوې چې د حضرت محمدص د شهادت، د اسلامي لښکرو د ماتې او د ځينو صحابه وو د شهادت په اړه وې لکه: د احد په غزا کې د حضرت محمدص دشهادت افواه، همدرانګه د تبوک په غزا کې د اسلامي لښکرو د ماتې آوازه.
د افواه منفي اغېزې:

افواه یا آوازه ځینې خلک نېک نام او ځینې نور هم بدنام کوي، جنګ جګړو ته لاره هواروي. د جګړې په وخت کې د افواه خپرول د خلکو مورال کمزوری کوي او ملي امنیت په خطر کې اچوي. د نظامي اطلاعاتو ساتنه له ګواښ سره مخ کيږي. له ټولو بده خو دا چې د ټولنې د مختلفو قومونو ترمنځ د دښمنۍ اور بلوي، چې دا کولای شي د ماتې خوړلې مورال، بې تفاوتۍ او د داخلي ګډوډيو سبب شي. د افواه ځواک او قدرت د هغې ماهيت، پراخوالی او د اغېز قدرت د خلکو د مختلفو ډلو ترمنځ په دې ډول دی، چې کولای شي ټولنیزه پرېشاني ډېره، د تولید کچه کمه او د هېواد اقتصاد فلج کړي. د خلکو ترمنځ  بې باوري، سستي او بدبیني په ټولنه کې رواج پیدا کړي.

فکري جګړه، پرېشاني او اندېښمنتوب په يوه ټولنه کې د افواه له بدو اغېزو څخه ګڼل کيږي، چې لاندې پايلې لري:

- ✓ د خلکوپه منځ کې دکينې،حسد، دښمنۍ، بې اتفاقۍ او تضاد زیاتېدل  او رامنځته کېدل.
- ✓ د بد اخلاقۍ زیاتېدل لکه: غيبت، دروغ، افترا او نور.
- ✓ دبدغوښتنې دمورال راڅرګندېدل اودغچ اخېستلودروحيې تقويه کېدل.
- ✓ د خلکو د حريم نه ساتنه، د خلکو د احترام نه ساتنه او اخلاق تر پښو لاندې کول.
- ✓ د ټولنيز نظم په خطر کې لوېدل.
- ✓ د یووالي، یو بل څخه د ځان قربانولو، دوستۍ او ورورولۍ د روحيې کمزوري او بې باورۍ رامنځته کېدل.

له ټولنیزې افواه سره د مقابلې څرنګوالی:

افواه یو داسې عمل ده، چې پر وړاندې یې مقابله له ستونزو سره مخ ده اوپه ډېرې سختۍ سره کنترولیږي؛ خو بیا هم ځینې لارې چارې شته، چې د هغو په واسطه کولای شو د افواه مخه ونیسو او یا یې هم کمزورې کړو.

۱. د خلکو د مختلفو قشرونو خبر ساتل:

له مختلفو پېښو څخه د خلکو خبرونه، چې د هغوی د نظره مهم او د اهميت وړ وي او د دوی د ورځني ژوند، راتلونکي مسلک او کسب سره اړيکه ولري. په بل عبارت د ټولنې د نظام تقويه کول، ټولنې ته صحیح او په وخت خبر رسول. د دولت د اقتصادي، فرهنګي او اجتماعي مسؤولوينو دنده ده، چې خلک د هېواد په دننه کې د وروستيو مهمو اقتصادي، سیاسي او فرهنګي تحولاتو او بدلونونو څخه پر وخت خبر کړي او رښتيني خبرونه خلکو ته ورسوي. په دې صورت کې د دولت او ملت ترمنځ د باور فضا رامنځته کيږي او د دولت اخبار او رسمي بيانيې خلکو ته د معلوماتو د ترلاسه کولو تر ټولو مؤثقې سرچينې بلل کيږي.

۲. د اندېښنو او پرېشانيو د له منځه وړلو هڅې:

دښو ټولنیزو شرايطو برابرول د افواه خپرولو په کموالي کې مرسته کوي.

۳. د عامه پوهاوي د کچې لوړول:

د افواه تخريب کوونکي ماهيت ته په کتو سره باید، خلکو ته د زده کړو د پروګرامونو جوړول، په مستقيم او غير مستقيم ډول د هنري او سينمايي فعالیتونو په واسطه خلکو ته معلومات ورکول، د مختلفو مطالعاتي اثارو ژباړه او تألیف، خلکو ته د افواه په اړه د معلوماتو ورکولو لپاره د لازمو زده کړو د زمینې مساعدول، د مشکوکو خبرونو د صحيح والي ثابتول، کوچنيانو، ځوانانو او بوډاګانو ته د افواه سره د مقابلې د څرنګوالي زده کړه ورکولای شي، چې د افواه په کنترول کې مؤثر واقع شي. که مونږ ټول خپلو زامنو او شاګردانو ته دا ور زده کړو، چې کله مونږ مشکوک خبر واورو نو باید د خبر له ویونکي څخه په ډېره زړورتيا سره دا پوښتنه وکړو، چې تاسې د دې خبر په اړه څه شواهد لرئ؟ آیا

کولای شئ چې د خبر صحیح والی ثابت کړئ؟ دا خبر مو له کومې باوري سرچینې څخه اورېدلی دی؟ ددې خبر د تائید لپاره کوم اسناد لرئ؟ نو په دې ډول به په ښکاره او آسانه توګه د افواه له خپرولو څخه مخنیوی وشي.

۴ـ د خبر په رسولو کې همغږي او ثبات:

دباوري سرچینو په واسطه خلکو ته د خبر رسول به د افواه په مخنیوي کې ډېر اغېزمن ثابت شي. دیوې باوري او قوي رسنۍ شتون، د یوه قدرتمند، زړور، صادق او ملت ته محبوب نطاق شتون، د عامه اړیکو په دفترونو، وزارت خانو، خلکو ته د باوري خبرونو د رسولو په موخه په لنډ وخت کې په فصیحو الفاظو او دقیقو کلمو سره کولای شي، چې د افواه مخنیوی وشي.

د یادولو وړ ده چې په دې اړه لوی مسئولیت د رسنیواو ډله ییز ارتباط د مسئولینو او همدا شان د مسجدونو د امامانو دی،چې باید خلکو ته د باوري معلوماتو په رسولو کې هڅه وکړي.

۵ـ د افواه شنډول:

ددې لپاره چې د افواه د ځواک او د تخریب کچه کمه شي نو باید لاندې ټکو ته پاملرنه وکړو.

الف: کمزورو افواوو ته توجه نه کول او د افواه د تکرار مخنیوی:

د افواه د خنثی کولو او له منځه وړلو تر ټولو مؤثره لاره افواه ته توجه نه کول دي.دیوې مسئلې دومره واړه ښودل چې خپل ارزښت له لاسه ورکړي.

ب ـ د حقایقو تائیدول:

که چېرې په افواه کې ځینې حقایق شتون ولري، نو دا حقایق باید د باوري سرچینو له لوري تائید شي،چې په دې سره کولای شو د افواه رښتین والی او غلط والی ثابت کړو.

ج ـ د رسمي بیانیې صادرول:

د افواه د مخنیوي لپاره ځینې وخت لازمه وي، چې د چارواکو له خوا یوه لنډه رسمي بیانیه خپره کړل شي. د یادولو وړ ده چې د دا ډول بیانیو په متن کې باید هېڅ ډول ابهام یا ګونګوالی موجود نه وي. که چېرې دا توضیحات یا بیانیه مبهمه او دوه طرفه وي نو امکان لري افواه نوره هم تقویه شي. د یادولو وړ ده د افواه د مخنیوي لپاره د مسئولینو له خوا د رسمي بیانیو، او لنډو څرګندونو خپرول د یوې ډلې، یوې سیمې او یا هم د ټول هېواد د خلکو لپاره وي. د بیلګې په توګه که چېرې افواه یا آوازه په الف، ب یا هم د ج په ځای کې خپره شوې وي. نو مسئول چارواکي شاید لومړی د همدغو سیمو د خلکو لپاره بیانیه او لنډ توضیحات ورکړي.

د ـ د غونډو جوړول او مخامخ خبرې اترې:

ځینې وخت دا اړینه بلل کیږي، چې د افواه د ناوړه اغېزو د له منځه وړلو لپاره د نظام چارواکي او د خبر رسونې سرچینې له خلکو سره نږدې خبرې وکړي،چې دا هم د خلکو د مورال لوړولو او د افواه د مخنیوي لپاره اغېزمن ثابت کېدای شي.

۶ـ قانوني کړنې:

کله چې د نظام چارواکو او مسؤولینو ته د افواه اصلي سرچینه او د هغې دلېږدعوامل په ښه توګه معلوم شول،نودخلکودرواني او اجتماعي حق څخه د دفاع په خاطر دې غیر متعهد او خیانت کوونکي کسان د قانون منګولو ته راکش او په خپله جزا دې ورسوي.

د افواه د کنټرول لارې چارې:

۱ـ له خپرېدو وړاندې اقدام:

د هرې افواه له خپرېدو مخکې باید د هغې خطرونه او پایلې خلکو ته تشریح شي. افواه خطرناک مرض دی، چې په ډېرې چټکۍ سره له یو کس څخه بل کس ته انتقالیږي. خلک، ټولنې او حتی مختلف هېوادونه تر خپل ژور اغېز لاندې راولي. په قرآني او نبوي ارشاداتو کې هم د تهمت، غیبت او دروغو خبرونو د خپرولو له امله خبرداری ورکړل شوی دی. نو باید په اسلامي ټولنه کې خلک د مستندې او کره خبرې په لټه کې وي. رسنۍ هم باید له باوري سرچینو پرته د خبر له خپرولو څخه ډډه وکړي،ترڅو ټولنه د افواه د خطر څخه وساتل شي.

۲ـ درملنه:

هر وخت چې افواه صورت ونیو، نو لاندې اقدامات باید ترسره شي:

- د سرچینو او افواه جوړونکو خلکو پېژندنه.
- د سرچینې بې باوره کول او خلکو ته دهغې د هویت وربېژندل .
- هغه خلک چې هغوی د افواه تر تاثیر لاندې راغلي وي، هغوی ته د کره معلوماتو ورکول .
- افواه ته ډېره توجه نه کول او هغو ته غیر مستقیم ځواب ورکول .
- د افواه ځواب په افواه باندې، چې په فکري جګړو کې د دښمن په خلاف استعمالیږي.

د افواوو د لاښه کنټرول لپاره مناسبه ده، چې د افواه د مطالعاتو تر نامه لاندې یو مرکز جوړ شي،ترڅو د دې موضوع علمي څېړنه او افواوو ته د حل لاره پیدا کړي. عمومي زده کړې هم د دغه مرکز له دندو څخه شمېرل کیږي. (۱: ۴۵)

د مطبوعاتو په وسیله باندې د افواه مقابله د لومړي ځل لپاره له یوه کلینیک څخه پیل شوه. ښاغلي (و.چ.کاوین) د عملي روانشناسانو او د پوه خلکو په واسطه سره یوه اونیزه چاپ او نشر ته وسپارله. په نننیو عصري جګړو کې، په داخلي جبهه کې د افواه پر وړاندې دفاع د خارجي جبهې سره مشابهت لري، چې هغه د دښمن په خلاف د افواه له خپرولو څخه عبارت ده. ښه مثال یې د نازي المانیانو فکري جګړه وه . دوې ځانګړتیاوې درلودې اول دا چې تفرقه واچوه او حکومت وکړه او دوهم دا چې په خلکو کې وېره او وحشت رامنځته کول ؤ، چې دا دواړه پرمختللي تکتیکونه یې د افواه پر مټ ترسره کول.

د افواه د مخنیوي کنجي په سرچینو باندې باور او اعتماد دی، ځکه چې افواه په رسمي خبرونو باندې د نه باور له امله رامنځته کیږي او که چېرې خبري سرچینه بې باوره وي، نو د هغې اغېز په ډېره اوږده موده هم له منځه نه ځي. په خبر رسونه کې باور، روښوالی او چټکوالی کولای شي، چې د افواه په مخنیوي کې اغېزمن تمام شي او ترڅو چې د یوې پېښې په اړه څېړنې بشپړې شوې نه وي هېڅ اقدام دې نه کیږي او ټول اطلاعات باید د خبریالانو او رسنیو په واک کې ورکړل شي تر هغه وخت پورې، چې څېړونکي نهایي پایلې لاسته راوړي.

د خلکو په ذهن کې چې کوم انځور وجود لري هغه باید همغږي ولري ترڅو د افواه د رامنځته کېدو مخنیوی وشي. د خپرېدونکي اخبار کیفیت باید لوړ شي او د دغه اخبار په وړاندې باید د خلکو باور هم پورته کړل شي. د جنګي تبلیغاتو د فلسفې پر اساس د حقایقو په خپرولو سره د افواه خفه کول ښه دي په نسبت ددې چې د هغې دروغوالی مطرح شي او یا خبرې ورباندې وشي؛ ځکه چې په دوهم ډول کې پرته له کوم دلیل څخه افواه خلکو ته تبلیغ کیږي.

د افواه سره د مقابلې لپاره ترڅو د هغې د تخریب قوه کمزورې شي کولای شو په لاندې توګه عمل وکړو:

۱: کمزرو افواوو ته نه پاملرنه او د افواه د تکرار مخنیوی .

۲: د خلکو ترمنځ د مسؤولو چارواکو شتون او د غونډو جوړول .
۳: له بې عمله شعارونو څخه ډډه کول .
٤: د خبرونو پر وخت وړاندې کول او په خبر رسولو کې له سانسور څخه ډډه کول .
٥: په هېواد باندې د حاکمو شرایطو شننه او تحلیل او له خلکو سره د ستونزو شریکول .
٦: د حقایقو تائیدول .
۷: قانوني کړنې .
لکه څرنګه چې افواه غیر رسمي او نا تائید شوې خبرې دي، او په شفاهي توګه له یو کس څخه بل کس ته انتقالیږي. له یو کس څخه بل کس ته د انتقال پر مهال په هغې کې تحریفات صورت نیسي، چې کېدای شي له څو ځلې انتقال وروسته د هغې اخري نتیجه د لومړۍ خبرې په خلاف وي. کله چې خلک د یوې خبرې په لټه کې وي، خو ونشي کولای چې له باوري منبع څخه کره خبر ترلاسه کړي، نو د افواه منلو ته مجبوریږي. که چېرې خلک دا افواه توجیه کړي شاید چې نوره هم پراختیا ومومي.
ځینې حل لارې چې دارتباطاتو پوهانو وړاندې کړې دي په لاندې ډول دي:
۱ـ په ملي کچه له ټولنیزو مسایلو څخه د خلکو خبر ساتل، پر وخت او کره خبر رسونه چې کولای شي د دولت او ملت ترمنځ د باور فضا رامنځته کړي او کولای شي د ډېرو غلط فهمیو مخه ونیسي.
۲ـ د خلکو د پرېشانیو له منځه وړل، د افواه په کنټرول کې مهم ګام ګڼل کیږي داسې ویل کیږي،چې د وضعیت د بهبود په وخت کې د افواه د رامنځته کېدو زمینه ډېره کمه مساعدیږي.
۳ـ درسنیوله لارې د مختلفوخپرونوپه واسطه خلکوته معلومات وړاندې کول ترڅو د عامه پوهاوي کچه لوړه شي او د خلکو فکري ځواک ته قوت ورکړل شي. د دیني اخلاقو تر چتر لاندې د منطقي فکر ایجادول د افواه د کنټرول لپاره مناسبه کړنلاره ګڼل کیږي.
ځینې نور بیا په دې باور دي چې افواه تل بده نه وي. کله، کله له داسې واقعیتونو پرده پورته کوي، چې په ښکاره توګه نه ویل کېږي. ډله ییزې رسنۍ د ځینو مصلحتونو پر اساس د ځینو واقعیتونو له بیان څخه ډډه کوي، چې په دې وخت کې افواه ته اړتیا پېښیږي. خو دلته بیا هم د سرچینې پیدا کول او د پیغام لېږل اړین دي.
د افواه سرچینې :
د افواه او جعلي خبرونو سرچینه تل نامعینه او پټه وي او د افواه اصلي انتقال د ژبې او فردي محاورې له لارې صورت نیسي، چې په جدي او هېجاني ډول سره ویل کیږي. افواوې په ځانګړي زمان، مکان او موجوده شرایطو کې د پرېشانه انسانانو د ذهن تخلیق دي.
د ډاکټر افروز له نظره د افواه د خپرېدلوسرچینه ښایي په لاندې ډول وي.
الف: دافواه دخبر،موضوع اومحتوا اهمیت د اورېدونکي او ویونکي لپاره.
ب: په ټولنه کې ابهام او ګونګوالی.
ج: ټولنیز او شخصي کړاوونه او پرېشانۍ.
د: استعداد منل، چې تل د ساده او ژر باوره خلکو ترمنځ د افواه بازار ګرموي.
هر کله چې په ټولنه کې مهمې پېښې رامنځته شي او د هغو په اړه خبرونه او معلومات نیمګړي او یا هم د هغه موضوع له ابهام سره مخ وي، نو په دې وخت کې افواه رواج پیدا کوي، چې دغه ابهام کېدای شي د پېښې له مبهم رپوټ د اورېدونکي په واسطه د متناقض خبر اورېدل یا له خبر څخه د اورېدونکي مفهوم په سمه توګه نه اخېستلو له امله وي.
افواه د هغه ډول خلکو له خواجوړیږي، چې له لېرې څخه هڅه کوي ترڅو حقیقت ترلاسه کړي او له هغو پوښتنو څخه ګټه اخلي چې د خلکو ترمنځ مطرح کیږي او بې ځوابه پاتې کیږي. ډېری افواوې د

غلطو پېښو له رامنځته کېدو وروسته کيږي  خلک د مناسب ځواب په هڅه کې وي خو د مسؤلينو له لوري رسمي ځواب ته لاسرسی نه لري، نو په  نتيجه کې افواه رامنځته کيږي اوپه حقيقت کې افواه توراطلاعاتي بازار رامنځته کوي، نوپه دې لحاظ دکنجکاوۍځانګړنه د افواه په رامنځته کولو کې برخه لري.

افواه او رسنۍ:

رسنۍ د افواه دمخنيوي  په کنټرول کې  مهمه ونډه، او په عامه افکارو مستقيم اغېز لري.

څرنګه چې د رسنيو اساسي دنده خلکو ته د کره او باوري خبر رسول دي، چې کولای شي د افواه د لاملونو په هکله خلکو ته معلومات ورکړي او د يوې افواه مقابله وکړي، خو دا کار هلته کيږي چې درسنيو اداره او کارکونکي ملي او مسلکي  حس ولري. د افواه په مقابل کې د رسنيو مسؤوليت هغه وخت په ډاګه کيږي، چې ټولنه له يوې مهمې موضوع سره مخ وي.په اوس وخت کې رسنۍ دعامه افکارودتشکيل،تخريب، همغږي اوتيت کېدولويه وسيله ده. دا فرهنګي وسيله،بايدسالمه ټولنيزه سياسي او فرهنګي فضا د نظرونو او مناسبې خبر رسونې په اړه په ټولنه کې پيدا کړي. له بل لوري په اوس وخت کې تريخ حقيقت دی، چې رسنۍ د بحران په جوړولو کې مهمه ونډه لري، چې د افواه او د دروغو د خبرونو د خپرولو په واسطه د خلکو عامه افکار تر تاثير لاندې راولي.

د افواه او افواه خپرولو منفي کړنو د رسنيو په واسطه د عامه افکارو لويه برخه تر تاثير لاندې راوستلې ده او ټولنيزو، فرهنګي، سياسي او اقتصادي بحرانونو د منځته راتلو سبب ګرځېدلې دي. رسنۍ د فکري جګړې، تبليغاتو، افواه جوړولو او خپرولو له لارې د خلکو اذهان تر تاثير لاندې راوستلي دي او رسنۍ د عامه افکارو په مينځلو کې مهم رول لوبوي. په اوسنۍ نړۍ کې افواه په يو رسنيز بحران بدله شوې ده، چې په ډېر قدرت سره په عامه افکارو باندې اغېز لري. رسنيز بحران د اقتصادي، سياسي او ټولنيزو بحرانونو تر څنګ هم د اهميت وړ دی.

ګالتونګ په دې باور دی، چې په رسنيو کې افواه په لاندې مواردو کې کولای شي، چې عامه ذهنونو ته انحراف ورکړي.

۱- د عامه افکارو تر منځ افواه د فکري جګړې، تاوتريخوالي او سمت پالنې سبب کيږي او په دې اړه غير منطقي ګامونه کولای شي، چې موضوع لا نوره هم خطرناکه کړي.(۲۴۵:۱۲)

۲- په رسنيو کې افواه کولای شي، چې عامه افکار يا عامه ذهنونو کې دوه زړيتوب رامنځته کړي.

۳-  په رسنيو کې افواه کولای شي، چې يو لوری ښه او بل لوری بد خلکو ته ور وپېژني.

۴- د رسنيو له لارې افواه کولای شي، چې عامه افکار يو نه جبرانېدونکي جنګ ته را وبولي، چې هېڅ د حل لاره هم ونه لري.

۵- په رسنيو کې د افواه شتون کولای شي، چې په عامه افکارو کې يو ډول ابهام رامنځته کړي، چې دا رسنيز جنګ ته زمينه برابروي.

۶- په رسنيو کې افواه يو فکري جګړه ده، چې عامه افکار تر اغېز لاندې راولي، چې په مخاطبانو ډېر منفي اغېز لري په نتيجه کې د مخاطبانو حقوق د افواه د پای ته رسېدو وروسته ناديده نيول کيږي او رسنۍ وروسته د دغه زيان په هکله هېڅ ډول معلومات او توضيح نه ورکوي او نورې رسنۍ د فکري جګړه په ارامولو کې هېڅ ډول اقدام نه کوي.

۷- په حقيقت کې په عامه افکارو باندې د افواه او فکري جګړې د اغېز په هکله رسنۍ هېڅ ډول توضيحات نه ورکوي.

د داخلي او بهرنيو رسنيو له لارې د افواه خپرول په يوه ټولنه کې د عامه افکارو د تخريب او پرېشانۍ سبب کيږي او په عامه افکارو کې دغه پرېشاني د رسنيو له لارې د سياسي، اقتصادي او

ټولنیزو مسایلو له امله رامنځته کیږي. د افواه بحران د رسنیو له لارې هغه ډول اقداماتو او فعالیتونو ته ویل کیږي، چې د ځانګړو وسایلو څخه په ګټه اخېستنې سره په چټکۍ سره تعادل، د خلکو حوصله، ټولنیزې ډلې او سازمانونو ته ټکان ورکړي او د تخریب سره یې مخ کړي.

افواه د رسنیز جنګ یو له مهمو وسیلو څخه ګڼل کیږي چې د عامه افکارو ترمنځ وجود لري. په رسنیو کې د افواه په وسیله جنګ په وروستیو لسیزو کې له نړیوالو جنګونو څخه شمېرل کیږي، چې هم د صلحې او هم د جګړې په وخت کې د هېواد په داخل او بهر کې په غیر رسمي ډول ادامه لري. په واقعیت کې افواه د هر هېواد په داخل او بهر کې د هغه ټولنې د رسنیو له لارې چې د مختلفو ډلو او ګوندونو په لاس کې دي د خپلو موخو د لاسته راوړلو لپاره پر مخ وړي. رسنیز جنګ د افواه په ښکاره توګه د راډیوګانو،ټلویزیونونو،مطبوعاتي شنونکو، خبریالانو، خبري آژانسونو، خبري شبکو او انټرنیټي شبکو ترمنځ جریان لري.خو واقعیت دادی چې دغه رسنیز جنګ د رسنیز سیاست په نوم دمختلفو اړخونو له خوا په مستقیم او غیر مستقیم ډول حمایه کیږي.

د افواه په رشد کې د رسنیو رول

شکل (۳)



http://anthropology.ir/article/9086

پورته تصویر په ټولنه کې د افکارو تر منځ دافواه د خپرېدو جریان ښی یی چې د ا د هغو کارپوهانونظر بیانوي چې د رسنیو له رامنځته کېدو څخه مخکې یې د افواه مهمه وسیله «ژبه» بلله نن ورځ د افواه د تشکیلېدو او خپرېدو عمده وسیله ډله ییزې رسنۍ بولي، خو د هغې شدت د آژانسونو، مطبوعاتو، سایټونو او وبلاګونو کې یو تر بله توپیر لري. دا نورې رسنۍ د انټرنیټي سایټونو په پرتله ډېرې باوري دي په ځینو سایټونو کې داسې شیان خپریږي، چې حتی خپرونکي یې هم پوهیږي چې دروغ دي، نو له دې څخه معلومیږي، چې دوی قصدا دا کار کوي.

ځینې کارپوهان په دې اړه مشترک نظر لري، چې افواه په هغه وخت کې رواج پیدا کوي، چې خلک په خبرونو پسې سرګردانه وي خو هغه خبر یا معلومات له باوري سرچینې څخه پیدا نه کړي. کله چې دوی له یوې رسنۍ څخه خبر واوري نو د هغه موثق والي ته نه ګوري او فوراً یې له نورو سره هم شریکوي؛ نو په دې توګه کله چې دیوې پېښې اوخبرترمنځ فاصله ډېره شي یعنې کله چې پېښه پېښیږي اودرسنیو له لارې په چټکۍ‌سره خپره نشي؛ نود هغه ځای افواه نیسي،چې بیا وروسته دسم خبرپه خپرولوسره هم د هغې مخه نشي نیول کېدای.

کله چې یوه پېښه پېښیږي او هغه د رسنیو له لارې په سمه او پر وخت خپره شي. نه یوازې دا چې افواه ته به د پای ټکی کېښودل شي، بلکې د لویو افواوو له منفي اغېزو څخه به خلک هم په آمان کې وي. د یادولو وړ ده، چې په ټولیزه توګه نشو ویلای چې ټولې رسنۍ د افواوو په خپرولو کې لاس لري. ځینې رسنۍ چې د وخت څخه ګټه اخلي او د خلکو افکار تخریبوي،د ځانګړو ډلو او هېوادونو او بېلا،بېلو استخباراتي سازمانونو سره اړیکه لري.

د افواه خپرېدل په هغه ټولنو کې چې د پرمختګ په حال کې دي، د حکومتي مسؤولانو پر وړاندې یو طبیعي امر دی. په داسې ټولنو کې د افواه خپرېدل د حکومت دښمنانو او مخالفانو ته دا زمینه برابروي ترڅو خپلو موخو ته په آسانۍ سره ورسیږي.

ولې خلک افواه قبلوي؟

هره افواه د خپرېدلو او منلو لپاره مخاطبینو ته اړتیا لري. د انسان هره اړتیا کولای شي،چې افواه ته لا نور هم تحرک اوانرژي ورکړي. دبېلګې په توګه یو کارګر چې له ګرانۍ څخه په تنګ راغلی وي دخپلې اقتصادي وضعې مربوطې افواوې خپروي. هغه عوامل چې د افواه په خپرولو اومنلو کې اغېزمن تماميږي په لاندې ډول دي

۱ـ کرکه او نفرت :

کرکه او نفرت کولای شي چې د افواه د منلو او خپرولو لامل شي. یو کس چې له بل چا څخه کرکه لري او تل یې د هغه په اړه نیت بد او خراب وي او د هېڅ دلیل پرته د هغه په اړه منفي خبر قبلوي. په واقعیت کې افواه د داسې کس لپاره غچ اخېستونکې جنبه لري. د بېلګې په توګه یو شاګرد، چې د مکتب د مدیر څخه کرکه لري، د هغه په اړه افواه جوړوي او خپروي یې او هم د هغه په اړه افواه په چټکۍ سره او بې له کوم دلیله مني.

۲ـ د افواه منل د خپل ځان د توجیه لپاره:

کله چې د نورو په اړه د بدو خبرونو د اورېدو په تمه اوسو، نو په حقیقت کې د خپل ځان د توجیه په لټه کې یو، خو که چېرې ځانونه مقصر وبولو هغه وخت به ډېر لږ د افواه منلو ته چمتو شو. په امریکا کې یو تحقیق ښیي، کوم خلک چې په نژادي تبعیض باندې باور لري، په چټکۍ سره د تور پوستکو په اړه جوړې شوې افواوې خپروي()

۳ـ د چوپتیا ماتول:

افواه ځینې وخت دچوپتیادماتولو لپاره هم په کاروړل کیږي.د بېلګې په توګه کله چې یوه مېلمستیا کې ګډون کوئ، هغه وخت چې ټول مېلمانه نه وي راغلي،څو کسان راټول شوي وي او هېڅ خبرې نه کوي یا د خبرو لپاره څه نه لري، نو د دغه چوپتیا د ماتولو لپاره او یا وغواړي چې دغه چوپتیا ماته کړي؛ نو وایي چې آیا اورېدلي مو دي؟ په دې توګه به د افواه بازار ګرم شي او هر څوک به په هغه باندې یو څه ور زیاتوي، نو په دې توګه ګرم بحث صورت نیسي حتی چې د وخت تېرېدل هم په کې نه احساسیږي.

۴ـ د واقعیتونو تحریفول:

کله چې افواه خوله په خوله له یو کس څخه بل کس ته انتقالیږي نو د لومړي لاس خبرې د څووم لاس خبرو سره ډېر توپیر پیداکوي. په داسې ډول چې که چېرې دا افواه لومړني جوړونکي ته ووایې، هغه به خپله دغه تحریف ته حیران شي. په یوه تحقیق کې چې په دې اړه ترسره شوی دا ثابته شوې ده، ددې تحقیق د ترسره کولو لپاره یوه کیسه یا داستان په څو کسانو باندې ویل شوی دی او دا څرګنده شوې ده چې څرنګه په دغه داستان یاکیسه کې تحریف منځته راغی. ډېر مطالب له دې

داستان څخه حذف اونورمطالب پرې ور زیاتیري.که څه هم چې دغه تحقیق د حافظې په اړه ترسره شوی وو؛خو څرګنده شو چې حافظه هم د افواه په انتقال کې ډېر اهمیت لري.
د افواه لېږوونکو،خپروونکو او منونکو خلکو ځانګړتیاوې:
په ټوله کې د پورتنیو ذکر شویو خلکو ځانګړتیاوې په دې ډول دي:
۱ـ ساده والی او ژر باور کول.
۲ـ نا امني.
۳ـ غورې کول او مبالغه .
۴ـ دروغ ویل او په نفس بې باوري .
۵ـ په خپل ځان تکیه او غلط فکر کول .
افواه په هغه ځای کې رامنځته کیږي، چېرې چې خبر نه وي او یا هم خبر له مؤثقو او باوري سرچینو څخه خپور نشي. لومړي عناصر چې د افواه په بحث کې مهم ګڼل کیږي، د افواه موضوع، ځای او وخت دی. یو ماهر افواه جوړونکی په دې ښه پوهیږي، چې دده په افواه کې باید داسې موضوع را واخېستل شي، چې په ځانګړي ځای او وخت کې په ټولنه باندې اغېز ولري. د موضوع، ځای او وخت ترمنځ اړیکه پیداکوي، چې د افواه په خپرولو کې په ښه توګه درک او احساسیږي.
د افواه په خپرېدلو کې یو بل مهم عامل هغه څوک دی، کوم چې مونږ د هغه د خولې څخه افواه اورو. د افواه اورېدل د یو وزیر، د پوهنتون د استاد او یا هرې بلې باروي سرچینې څخه د یو ټکسي چلونکي په پرتله افواه ته ډېر قوت او قدرت وربښي او خلک یې په آسانۍ سره مني.
په دې ځای کې د وخت څخه مطلب دادی، چې په کوم وخت کې د افواه خپرول ډېر اغېز او تاثیر لري او همدارنګه د افواه لوړ اغېز په هغه وخت کې وي کله چې د خلکو احساسات اوج ته رسېدلي وي. کله چې افواه له خپل وخت څخه مخکې او یا هم وروسته خپره شي، نو په هماغه اندازه خپل اهمیت او نفوذ له لاسه ورکوي.
د افواه مخاطبان:
د ارتباطاتو پوهانو د افواه مخاطبین په څو طبقو باندې وېشلي دي،چې په لاندې ډول دي:
۱ـ لومړۍ طبقه هغه خلک دي،ددې پرځای چې پیغام په وخت سره ترلاسه کړي او یا هم د هغه د سموالي په اړه پلټنه وکړي، هماغه شی چې اورېدلي یې دي نورو ته هم انتقالوي او طبیعي خبره ده، چې په هغه کې به یو څه کموالی او زیاتوالی راځي.
۲ـ دوهمه طبقه هغه خلک دي، چې د موضوع په اړه د درک صلاحیت او وړتیا نه لري،خو د کارپوهانو په نظرونو باندې تکیه کوي او په حقیقت باندې د پوهېدلو هڅه کوي.
۳ـ دریمه ډله هغه کسان دي، چې د افواوو څخه په شدت هرکلی کوي او ځان د افواه خپرونکو خلکو سره ګډوي او خپله هم د افواه له جوړولو او خپرولو څخه دریغ نه کوي.
۴ـ څلورمه ډله باخبره خلک دي، چې نه یوازې په آسانۍ سره هره خبره نه مني، بلکې د افواه خپرولو د مخنیوي په هڅه کې هم دي.
په جګړه کې د افواه استعمال:
جرمني په دوهم نړیوال جنګ کې د افواه څخه د ګټې اخېستنې له نظره ډېره برتري درلودله. په دې جنګ کې څرګنده شوله، چې په دښمن باندې د اغېز له نظره افواه د قوي حملې په توګه شمېرل کیږي. افواه د اورېدونکي غوږونو ته رسیږي او داسې عمل کوي چې ګواکې دده په بدن کې داخلي قوه نوموړی په حرکت راولي. هره خبره چې په جرمني کې به خپرېدله یا هم د جرمني د یوې ورځپاڼې له خوا په یوه بې طرفه هېواد کې خپرېدله، نو ټولو خلکو به داسې فکر کاوه چې ګواکې د

دښمن له خوا خپره شوې ده. په داسې حال کې چې جرمنیانو د خپل ځان په ګټه د تبلیغاتو لپاره خپرولې.
په حقیقت کې د افواه اوربدونکي نشي کولای، چې د دا ډول خبرو په اړه دلیل وغواړي؛ ځکه کوم څوک چې دا خبرونه خپروي مدعي نه بلل کیږي، بلکې له پیل څخه وایي چې دا هغه شی دی، چې اوربدل شوی دی او په دې توګه هغه تکراروي. په داسې حالاتو کې د خبر تائیدول د هغه د دروغ والي په پرتله آسانه دي. په ځانګړې توګه په هغه وخت کې چې له افواه سره هیلې، ډار او وحشت مله وي.
په ټوله کې د افواه څخه په جنګ کې د ګټه اخېستلو لپاره کولای شو لاندې نقطې ذکر کړو:
۱ـ له افواه څخه د نه همغږي لپاره ګټه اخېستل:
چې په دې توګه کولای شي، مقابل ځواکونه تیت پر ک او له منځه یوسي. المانیانو په دوهم نړیوال جنګ کې د فرانسویانو د مورال د کمزوري کولو لپاره له افواوو څخه ګټه واخېسته. په معمولي ډول سره په دې ډول کړنلاره کې تبلیغ کوونکي د داسې افواوو په خپرولو سره پیل کوي، چې د متحدینو ترمنځ د بې باورۍ او د هېواد د ننه د بې اتفاقۍ سبب ګرځي. افواه نوی شی نه رامنځته کوي، بلکې کوم څه چې شتون لري هغو ته په لارښوونې سره بې باوري رامنځته کوي.
۲ـ له افواه څخه د دود د پردې په توګه ګټه اخېستل:
دا کړنلاره په دې تکیه کوي، چې افواوې کولای شي حقیقت پټ کړي. المانیان په دې ډول کړنلاره کې ډېر ماهر وو. د آلمان له داخل څخه به یې نورو هېوادونو ته ضد او نقیض خبرونه لېږل، چې موخه یې په خلکو کې د پرېشانۍ رامنځته کول وو.
۳:له افواه څخه دخبري سرچینودبې ارزښته کولولپاره ګټه اخېستل:
ددې کار لپاره ځانګړې طریقه شتون لري. په دوهمه نړیواله جګړه کې انګلیسانوهڅه وکړه ترڅو دبرلین ریل بمبارد کړي او له منځه یې یوسي، خو په دې کار کې بریالي نشول. په دې وخت کې المانیانو داسې خبر خپور کړ، چې ګواکي انګلیسان په دې هڅه کې بریالي شوي دي. دا خبر په چټکۍ سره انګلیستان ته ورسېد او د ټولو خلکو ترمنځ خپور شو. په دې وخت کې دآلمان دتبلیغاتو وزارت څو تنه امریکایي ورځپاڼه لیکونکي د برلین د ریل پټلۍ ته بوتلل ترڅو د انګلیس د رادیو دروغ په اثبات ورسوي. په دې توګه المانیان وتوانېدل، چې د انګلیس حکومت تر نیوکې او تحقیر لاندې راولي ځکه چې دروغ خبر یې خپور کړی ؤ.

۴ـ له افواه څخه دواقعیت د معلومولو په موخه کار اخېستل:
په دې اړه ښه بېلګه په دوهم نړیوال جنګ کې د جاپانیانو له خوا د افواه خپرول ؤ. جاپانیانو غوښتل، چې د امریکا د سمندري پوځ د تلفاتو په اړه معلومات ترلاسه کړي، څرنګه چې دوی د دښمن د زیانونو څخه خبر نه وو او په دې توګه یې امریکایان وهڅول ترڅو خپل واقعي زیانونه خپاره کړي.
نو په دې توګه بریالي شول ځکه چې په هغه وخت کې افواه د خلکو پر روحیه باندې ډېر اغېز درلود. د امریکا حکومت مجبور شو ترڅو د خپلو خلکو د مورال د ساتلو لپاره دقیق اوښتي زیانونه خپاره کړي او په دې توګه جاپان خپلو مهمو موخو ته ورسېد.
لنډه داچې:
افواه دیو کس یا مهمې مسئلې په اړه ناتائید شوي معلومات دي،هغه وخت چې ډله ییز ارتباطي وسایل موجود نه وو په شفاهي ډول له یو کس نه بل کس ته انتقالېده؛خوپه اوس وخت کې،چې

ډله ییز ارتباطي وسایل منځته راغلي دي؛ نو افواه هم له دې لارې په لږه شېبه کې تر مخاطبانو رسیږي.

افواه دتبلیغ یومهم ډول دی،دخلکو د افکارو تر اغېز لاندې راوستلو یوه اسانه،ارزانه اواغېزناکه وسیله ده،چې دمقابلې وسایل یې د محدودیت سره مخ دي یعنې تر اوسه داسې اغېزمنه لاره نشته، چې د افواه مخنیوی پرې وکړو؛ خو بیا هم ځینې لارې شته، چې کولای شو د هغو په وسیله د افواه خطر څه نا څه راکم کړو لکه: د افواه په واسطه د افواه مخنیوی، افواه خپرونکو ته جزا ورکول او تر ټولو مهمه داچې، باید خلکو ته د یوې پېښې په اړه ژر او کره خبر ورسوو.

د افواه موضوع همېشه نوې وي او هر وخت ددې امکان شته، چې د یوه شخص،پېښې اومسئلې په اړه افواه جوړه شي،خو دجوړېدو او خپرېدو امکان یې هغه وخت ډېریږي، چې په ټولنه کې د یوې مهمې مسئلې یا پېښې په اړه ابهام او ګونګوالی موجود وي او رسنۍ او مسؤل چارواکي ونشي کولای د هغې پېښې په اړه خلکو ته ژر او کره معلومات ورکړي.

په قرآن کریم کې هم د افواه په اړه ګڼ شمېر ایتونه شته، همدارنګه د مختلفو پیغمبرانو په وخت کې چې د هغوی د قومونو په واسطه مختلفې افواوې جوړې شوې،زمونږ د خوږ پیغمبرص په وخت کې په نوموړي پسې ډېرې آوازې او افواوې جوړې شوې دي، چې دوی ته یې لویې ستونزې پیدا کړي، همدارنګه په قران کریم کې افواه خپرونکو ته د سختې سزاحکم هم شوی دی.

د افواه ځواک او قدرت د هغې ماهیت، پراخوالی او د اغېز قدرت د خلکو د مختلفو ډلو ترمنځ په دې ډول دی، چې کولای شي ټولنیزه پرېشاني ډېره، د تولید کچه کمه او د هېواد اقتصاد فلج کړي. د خلکو ترمنځ بې باوري، سستي او بدبیني په ټولنه کې رواج پیدا کړي.

عامه رایې(Public Opinion):

له عامه رایوڅخه هدف دخلکو رایې دي، عامه رایې دخلکوپه مشکلاتو باندې دخلکودرایو غورچاڼ دی. له عامه رایو څخه مقصد یوداسې عمل چې په وسیله یې ډېری خلک دیوې مسئلې یامعاملې په اړه خپل نظرڅرګندوي اوپه ځینومخصوصو الفاظوکې خپل فکراواحساس بیانوي عامه رایې بلل کیږي اویوټولنیزعمل دی.

دعواموستونزې هغه نه دي، چې خلک تراغېزلاندې راولي،بلکې هغه دي چې ډلې ترتاثیر لاندې راولي.دهرې ادارې اوحکومت داهڅه وي چې دخپل رعیت اوکارکوونکورایې معلومې کړي،اوددوی درایو په رڼاکې خپل اصلاحات راولي اوهم هغه څه پلې کړي، چې عامه رایې یې غواړي ؛ ځکه چې ټولنې ته سالم اومناسب چوپړعامه رایې دڅان په ګټه څرخوي، اکثره حکومتي چارواکي اودعامه رایوپوهان تل عامه رایې د خپلو موخولپاره کارویاو هڅه کوي چې عامه رایې خپلې کړي.

پېژندنه:

By joseph player

عامه رایې ستاسودفکر تبادل دي،چې دمختلفوسیاسي،نظامي، مذهبي ، ټولنیزو اوملي اړینو پېښوپه هکله یې څرګندوی.( ۹:۵۱۴ )

By lord Louis

عامه رایې دخلکو دافکارو اونظریاتوهغه مجموعه ده ،چې د مختلفو ملي مشکلاتودحل په تړاو تر سره کیږي.په پایله اوغبرګون کې یې دټولنې ستونزې له منځه وړل کیږي.( ۹:۷۱۶ )

داسې يوفکر،خوځښت اوپېښه چې په هکله يې دخلکو يوه ډله سر ه موافق وي عامه رايه بلل کيږي.

په يوه سيمه کې ډېرى موجوده رايوته عامه رايې ويل کيږي،چې د مختلفو ملى سياسي مسايلو په هکله سره همغږي او يا مخالفې وي (نيازى).

يا !عامه رايې دحقايقو او خوځښتونوهغه مجموعه ده ،چې پرمټ يې مونږ راټلونکي ټاکو.

هره اداره اوحکومت په دې لټه کې وي،چې دمختلفو مهموجدي مسايلو په تړاو دټولنې دټولوقشرونو،دولتي کارمندانو اوعامه خلکورايه معلومې کړي اوله غورچاڼ وروسته يې دټولنې دټولوقشرونو دافکاروپه نظرکې نيولوسره مشکلات حل اودټولنې د سهولت لپاره مهم اصلاحات راولي.

دخپلې ښې حکومت والى دساتلولپاره دوى هڅه کوي چې دخلکوسره مناسب اولا زم روابط وساتي اوبياله دې لارې څخه ځان پوهوي چې!آيا د دوى فيصلې سمې دي اوکه غلطې.

عامه رايې بايد ټولنيزې رايې وي:

عامه رايې دانه وي چې په يوچا (ډلې) پورې تړاو ولري،بلکې د ټولو خلکو افکار ديوې ځانګړې موضوع لپاره سره همغږې وي؛خو دځينو خلکونظريات مخالف وي ولې بياهم چې کله د دوى نفوس د هغوخلکوپه نسبت چې د دوى مخالف دي زيات شي ، همدا عامه رايې بلل کيږي. نود اکثريت يا زياتو رايو په اساس هغه ګټونکي بلل کيږي ، او ټولې رايې د دوى په لوري څرخي اواصلي ګټه يې ټولوته رسيږي.

عامه ګټې وپالئ:

په عامه رايو کې دشخصي ګټوپرځاى تل ملي ګټې پالل کيږي،چې له کبله يې په ټولنه کې ښه اصلاحات رامنځته کيږي.عواموته دملي ګټودپاللو اوسرښېندنې درس ورکول کيږي په ښه توګه دټولنې اصلاح منځته راځياوخلک دځاني ګټوپر ځاى ملي ګټو ته ژمن پاتې کيږي.

څرګندې رايې وي:

عامه رايې دټولنودګډو غونډو او مؤثقو دلايلوڅخه وروسته منځته راځي اوډېر کوښښ کيږي،چې دغه رايې دجذباتو اواحساساتو ښکار نه شي اونه دچاپه ضد پرته له دلايلواستعمال شي،بلکې په ثابتواومؤثقو دلايلوولاړې وي،دعامه رايو څرګندونه د ډېروغونډو، مشورو اوهر اړخيزه معلوماتواومطالعو څخه وروسته روښانه کيږي.

ژورې فکري رايې وي:

عامه رايې تل له بحث او دلايلو څخه وروسته پلې کيږي اوداهڅه کيږي چې عامه رايې په عقيدوي،سمتي،قومي تعصباتواوجذباتو پورې نه وي تړلې،بلکې په رښتينو،باوري اومعتبرو رايو باندې ولاړې وي.

دعامه رايوڅرګندونه په ټولو مسا يلو له هر اړخيز سوچ او فکر کولو وروسته ترسره کيږي،تل هڅه کيږي چې په سيمه اوټولنه کې دټولو مسايلو په هکله هر اړخيز معلومات، د دلايلو ، شواهدو، اسنادو او اطلاعاتو له راټو لولو وروسته پلې شي.

واضح او روښانه رايې وي:

ځرنګه چې عامه رایې دخلکو دضرورت اوله پلي کېدو وروسته ګام اخېستل کیږي چې په ټولنه کې دراپیدا شویو مشکلاتو او نا امنیو ته دپای ټکی کېښودل شي، نوباید روښانه ،ځلانده اوسمې رایې رامنځته شي اوعموماً بایدلاندې ځانګړتیاوې ولري:

دعامه رایو ځانګړتیاوې:

۱: دعامه رایو موضوعات دعام ولس مسایل دي،ځکه داهرڅه د دوی له کبله رامنځته کیږي.

۲: عامه رایې دولس مشترکې رایې دي.

۳: عامه رایې دیو ې پرنفوسه سیمې دخلکو رایې دي.

٤: دعامه رایو اغېزې په عام ولس اوډلو باندې پرېوځي.

٥: عامه رایې دټولنې دمشترک هدف او ګټولپاره تشکیلیږي.

دعامو رایو ځواک:

عامه رایې ژورې فکري اوشعوري رایې وي،په سیاسي،ټولنیزه ، نظامي اونړیواله کچه لوی ځواک لري او کولی شي چې !

هېوادونه له سیاسي،نظامي،کلتوري،نژادي او اقتصادي بحران څخه دژغورلو اوپه ټولنه کې دنظام د رامنځته کولو،ساتلو اود حکومت دراپرزولو اوتخریبولو ځواک لري.

عامه رایې دحکومتونوپه جوړښت،تشکیل اوتخریب کې نه هېرېدونکی رول اداکوي،چې ښې بېلګې یې په نړۍ کې د جمهوري نظامونو رامنځته کول دي. هغه حکومتونه، چې دعواموپه رایو رامنځته شوې وي تل یې چارې دعواموپه ګټه وي، دسرغړونې په وخت کې له مختلفو غبرګونو سره مخ کیږي.

وګورئ نن سبا دنړۍ په کچه ټول سیاسي، اقتصادي، صحي، نظامي حتی طبیعي پېښې اومشکلات هم دعامو رایو په وسیله حل و فصل کیږي؛ځکه حکومتونه مجبوردي، چې دخپل ملت د رایو احترام وکړي اوسنیو تکنالوجیکي عصري وسایلو ټول نړیوال سره کلیوال کړي دي، دمختلفو کړاوونو په اړوند په نړیواله کچه شریک تصامیم نیسي .....

ټول غټ او واړه ګوندونه دخپلوحقوقو دخوندي ساتلولپاره هلې ځلې کوي،له بلې خوا که مشکلات دولتي وي اویا هم که خارجي وي په هر ځای کې عامه رایو ته ارزښت ورکو ل کیږي، له عواموڅخه پوښتنه کیږي، څو د دوی درایو په رڼاکې ټول مسایل حل کړل شي.

دعامه رایو دځواکمنتیا عناصر:

د دې لپاره چې عامه رایې ښې وځلیږي ،دټولنې لپاره ښې لاس ته راوړنې ولري؛نوضرورده چې ټو لنه یې لاندې ځانګړتیاوې ولري:

۱: بیداري اوځیرکتیا:

انسان دالله ج لویه کارخانه ده، هره پرزه یې بایدپه مناسب ځای کې استعمال شي ،په دې معنی چې انساني دماغ باید د مختلفو مسایلو دحل اوفصل لپاره لازم وکارول شي ،څودخدای ج له دې ستر نعمت څخه په سم اوغوره ځای کې کارواخېستل شي.

په ټولنو کې بېلا،بېل نوښتګر وګړي پیداکیږی،د دوی له افکارو باید سالمه ګټه واخېستل شی هغه انسانان اوټولنې چې هوښیار ،ځیرک او با ابتکار ه وي، دهغوټولې چارې منظمې وي په دې معنی چې دوی ټولې چارې په منظمډول سرته رسوي . کله چې په دقت اوغور یوعمل پیل شي پایله یې قناعت بخش ،غښتلي او ثمره یې خوره وي .

۲ : یووالی اوهمغږي:

عامه رایې په هغه وخت کې وزن اوزور پیداکوي کله چې ټول خلک متحد وي دټولو ملي اونړیوالو مشکلاتو دحل اوغبرګون لپاره سره همغږي اویوشي . کله چې په هر اړخیز ډول په مسایلو رڼا واچول شي ، نو مشکلات پخپله مخې ته راځي اوله ډېرو کره کتنو څخه وروسته په

مختلفومشورو له منځه ووړل کیږي ،خوله هرڅه نه وروسته بیا هم په ټولنه کې ځینې داسې اشخاص پیداکیږي،چې په ټولو مسایلو کې لاسوهنه کوي، دلاریون اوله نورو لارو داختلاف اورته لمن وهي چې ښه مثال یې په اوسني حکومت کې دعبدالله دی،هره ورځ دملي مسایلوپرځای ګوندي او......ګټې پالي.

عامه رایې هغه وخت عمومي حیثیت غوره کوي ،چې متحدې وییعني دملت رایې په یولوري حرکت وکړي او که د دښمن دتبلیغ ښکار شي؛ نو بیا ګډوډي رامنځته کوي ، یو عالم لیکي :په دیموکراتیکو ټولنو کې تبلیغ داسې دی لکه په زورواکو ټولنو کې کوتک .

نو عامه رایو متحدول هوښیار توب دی؛ ځکه عامه ګټې دا ورخطا رمې (بې سواده) سره په ټکر کې دي او دوی یې نه شي کنترولولی .

دټولنې مفکرین تل د ملي یووالي لپاره هڅې کوي،ځکه په ټولنه کې مخا لف خلک هڅه کوي چې د حکومت او ملت دضعف له نقطو څخه ګټه واخلي ،دعامه رایو پوهان ،دې ټکوته متوجه وي دمخنیوي لپاره یې ټولنې ته تل سالمه روزنه ورکوي او پالي یې .

۳ : دمطبوعاتوآزادي:

عامه رایې هغه وخت اغېزناکې ثابتیږي ،کله چې مطبوعات ازادي ولري. عامه رایې هغه وخت ګټورې اومؤثرې وي،چې په خپلواکه توګه مطبوعات کار وکړای شي ،په کومه ټولنه کې چې دمطبوعاتولارویان په ایمان داری اوصداقت سره کاروکړی،نودټولنې افکار به د ټولو مسایلو په هکله روښانه،ځلانده اوځواکمنې وي.

۴:دبیان ازادي:

عامه رایې په هغه وخت کې ښکاره او یا هم چې پاتې کېدلای شي کله چې بحث په پوره توګه ازادوالی ولري ترڅو ښکاره او اعتبار لرونکې دلیلونه مخ ته راشي. هغه ټولنې چې لوړسواد ولري هلته مطبوعات ډېر مؤثروي؛ځکه عوام له کوم مشکل پرته په ټولوملي اوبړیوالو مسایلو خبراوپه اړوندیې خپل نظرڅرګندولی شي په نتیجه کې ټول پټ رازونه څرګندیږي، حقایق رابرسېره کیږي اوبالاخره ټولنه دټولو مسایلو په هکله مناسب تصمیم نیسي.

۵: اقتصادي پیاوړتیا :

په اوسني عصرکې اقتصاد دانساني ژوند دټولو اړتیاوو بنسټ او اساس تشکیلوي،هغه هېوادونه اوملتونه چې غښتلی اوقوي اقتصاد لري هغوی په نورو هېوادونو او ملتونو باندې باداري کوي،دنورو هېوادونوپه داخلي اوخارجي سیاست کې ګوتې وهي دهغوله خامو موادو څخه پوره ګټه پورته کوي اوبېرته یې په دوی په لوړ قېمت پلوري حتی د ضعیفو هېوادنوله طبیعي زېرموڅخه ګټه اخلي حکومتونه یې په مختلفو بانو او لانجوله منځه وړي اوبالاخره یې په ټولو اقتصادي زېرمو خېټه اچوي چې ښې بېلګې یې عراق اوسوریه دي،چې امریکایي هرشی له ستوني تېرکړل او زموږ د هېواد اوسني جنجالونه هم د اقتصاد او طبیعي زېرمو له کبله دي چې دیوې شمېرنې له مخې په اوسط ډول د ورځې۶۰ افغانان خپل خوږ ژوند له لاسه ورکوي.

که د وګړو عادي ژوند ته ځیر شو هغه خلک، چې ښه اقتصاد ولري هغوی وخت لري چې دهېواد اوسیمې په سیاسي مسایلوکې ګوتې ووهي په هکله یې نظرڅرګندکړي، ولې هغه څوک، چې هغه دسهاراو بېګا ډوډۍ نه لري هغوی ته دامسایل هېڅ ارزښت نه لري فقط دخپلې خېټې غم اخېستي وي په اوسنیوحالاتو کې چې زموږ د هېواد د سیاسي مشرانو ترمنځ کومې لانجې دي ،زموږ عوام له دې څخه بې زاره دي او ناړې وهي چې موږله بې کارۍ غرق شو، موږته کار پیداکړئ، دا نه وایي چې فلانی د مشرشي؛ځکه دوی ته زید اواحمد نه دي مهم ،بلکې کارغواړي ،څو کورنۍ ته یوه

مړی ډوډۍ پیداکړي،نوله دې څخه معلومیږي کله چې ټولنه اقتصادي تکیه ولري ،نوهغه په سیاسي مسایلو کې رغنده ونډه لرلی ، لوبولی او د نورو ملتونو غواوې ښې لوشلی شي .
٦ :صبراوسرښېندنه:

که په ټولوانساني ټولنو باالخصوص په اسلامي ټولنوکې خپل منځي ورور ولي،سرښېندنه اویوبل ته تېرېدنه ونه پالل شي ،نوخپل نظریات او احساسات نوروته نه شو رسولای اونه هم یو بل زغملای شو،کله چې یو بل وزغمو مثبت انتقاد ومنو،صبر ولرو اویوبل ته غوږونیسو،نوپه پایله کې مثبت بدلون مومو ،په صبر اوسرښېندنې سره د کړاوونو لوی، لوی سیندونه او غرونه فتحه کولی شو په اسلامي تاریخ کې د سرښېندنې په زړه پورې ځلانده نمونې شته،چې د دوی دسرښېندنې اوقربانیوله برکته د اسلام دسپېڅلي دین رڼا ترمور اوتاسوپورې په سالمه توګه رارسېدلې ده.
٧:دڅرګندو او ناڅرګندو رایو توپیر:

څرنګه چې عامه رایې دخلکو دکړاوونو او دهغو دضرورتونو په اساس تشکیلیږي؛ نوځکه دغه رایې څرګندې اوهم نامعلومې وي. اغېزناکې رایې له تشکیلېدو وروسته عملي ګامونه اخلي ،څو په ټولنه کې راپورته شویو مسایلو او مشکلاتو ته دپای ټکی کېښودل شي او څرګندې عامه رایې دعوامو په مخ کې کېښودل شي. که چېرته نامعلومې رایې په نظرکې ونیول شي دټولنې مشکلات له منځه نه ځي، بلکې نورهم ډېریږي. په تېرو لسو کلونو کې په هېواد کې ډېری سروې ګانې مبهمې (نامعلومې) تر سره شوې ځکه دبعضې مسایلو پایلې هم سرچپه شوې چې زیان اوزور یې نن مور ته راورسېد.
دعامه رایو ارزښت :

اوس مهال دعامه رایو ارزښت ډېر لوړدی، دا د عامه رایو ځواک دی چې د حکومتونو مشران له خپلو نفسي غوښتنو څخه تېروي اونه یې پرېږدي چې د عوامو حقوق پیمال کړي یاپه بل عبارت :

دعامه رایو فشار دی چې دحکومتونو مشران له خپلواختیاراتوڅخه ناروا کارنه شي اخېستلی ،دعامه رایو ارزښت اوځواک دی چې په پارلمانونو کې قوانین جوړوي، وزیرانو ته رایه ورکوي، دسر غړونې په وخت کې دباوررایه ترې اخلي، استسجوابوي یې پوښتنې ترې کوي ،که چارواکي دعامه رایواحترام ونه کړي،نود دوی صلاحیت هم له منځه ځي لنډه داچې دژوند په هره برخه کې عامه رایې ډېر ارزښت لري اونن هر سړی دخپلوحقوقو اومسؤلیتونو څخه خبر دی مختلف لوی اوواړه تنظیمونه هڅه کوي چې خپل حقوق لاسته راوړي.

مشکلات که ملي وي یا بین المللي وي عامه رایو ته ډېر اهمیت ورکوي. عامه رایې دنړۍ په کچه سیاسي ،کلتوري،مذهبي ،نظامي او حتی رواني ځواک اوحیثیت لري،دنړۍ ټول هېوادونه د مختلفو مسایلو دحل اوفصل لپاره له عامه رایوڅخه په زړه پورې کار اخلي خصوصاً په هغو هېوادونوکې چې هلته دمطبوعاتو اوبیان واقعي آزادي وي.

دنړۍ ټول هغه هېوادونه چې دحکومت په جوړښت کې له ټاکنو څخه کار اخلي،په ټاکنوکې دعامه رایوله ځواک څخه په زړه پورې نه هېرېدونکې ګټه اخلي .

په اوسني عصرکې دخلکو درایوارزښت ډېر زیات دی ،ځکه چې همدغه دخلکو د رایو برکت دی چې نن سبا چارواکي له خپل سریو او شخصي ګټو څخه منعه اودملي ګټو پاللو ته یې متوجه کوي،یاپه بل عبارت همدغه دعامه رایو زور دی چې سرکښه اوخودغرضه چارواکي له هغوکړنو او اصولو څخه منعه کوي چې دملي ګټو خلاف وي.
ډېری عامه رایې :

دلته هدف دانه دی ،چې ضروردې ټولې رایې متحدې وي بلکې د مختلفوسیاسي، اقتصادي، مذهبي، کلتوري اواجتماعي مسایلو په هکله اکثریت رایوته احترام په کار دی ،څودټولنې ملي ګټې تامین شي. کله چې داکثریت رایواحترام وشي نوپایله کې دټولنې ټول مسایل په منظم اوسیستماتیک ډول حلیږي،چې په دې حالت کې دمخالفو ډلو مشکل هم له منځه ځي چې همدغه عام مشکل حل کېدل دعامه رایو برکت دی.

دعامه رایو په جوړښت کې رول لرونکي:

هغه خلک چې په عامه رایو د اغېز ښېندلو صلاحیت او ځواک لري فکري لار ښود بلل کیږي.

عموما هغه خلک چې عامه رایی اغېزمنولی شي په سیمه کې ځانګړی لوړمقام او لوړ ارزښت لري دوی ته د ټولو مسایلو په هکله دقومي مسایلو مشر یا Opinion Leader وایي.

په دې فاني نړۍ کې د هرانسان قدر په کار دی ،دعامه رایوپه جوړښت کې عموماً دنړۍ په کچه هغو وګړو ته ارزښت ورکول کیږي ،چې هغه په ټولنه کې منلی،با رسوخه او د یوښه حیثیت خاوندان وي لکه ملي مشهور وګړي،قومې مشران ،متنفذین اوسپین ږیري دوی تل په ټولنه کې دقدر وړ بلل کیږي،ځکه داخلک له ملت سره په یوه رېښه اوتار تړلي وي. دافغانستان په شان ټولنه کې چې ډېری مسایل دقومي مشرانو او سپین ږیرو له لارې حلیږي ،حتی په ملي مسایلوکې لوی رول لري ،د قومونو په منځ کې تړونونه هغه څه دي چې هېڅوک ترې سترګې نه شي پټولای ، بېلګې یې دهېواد په تېر او اوسني وخت کې ملي اوقومي جرګې دي چې مختلفوقومونو مشران دملي مسایلوپه حل کې څومره کردار اداکولی شي.

ددې لپاره چې د عامه رایو لارښود عامه رایې خپلې کړي، د ټولنې مشکلات حل کړي باید لاندې کارونو ته کلکه اوره ورکړي څو یې اعتماد نور هم محکم شي .

۱: دټولنې عامه رایې همغږې او موازي کړي .

۲: دملي ګټو دساتنې او بشپړ تامین لپاره په ټولنه کې سیاسي شعور پیداکړي او د دښمنانو هغه مضر پلانونه ورته په ښنه کړي کوم چې د ملت دپاشلو او نه همغږۍ سبب ګرځي.

۳: دملت او حکومت ترمنځ د جدایۍ او یو له بل څخه د نفرت هغه لاملونه چې د نه همغږۍ سبب ګرځي له منځه یوسي او دواړه د ملي ګټو د ساتنې لپاره یو ځای په یو اواز او اراده کار وکړي.

۴: په هېواد کې د ټولو قشرونو لپاره دښوونې او روزنې زمینه برابره کړي او ددې هدف لپاره له حکومت سره اوره پر اوره کار وکړي ځکه تعلیم ټولنه له ټولو بدبختیو او بد مرغیو څخه ژغوري.

۵: په ټولو ټولنیزو چارو کې باید حکومت او ټولنه اوره پر اوره یو له بل سره ګام واخلي لارښود باید عامه رایې دې ته چمتو کړي چې دهېواد په مادي او معنوي بیا رغونه کې کار وکړي څو د تل لپاره ټو لنه په بنسټیز ډول له کړاوونو څخه خلاصه شي.

۶: دټولنې د مشکلاتو دحل لپاره باید له مختلفو حکومتي او غیر حکومتي ادارو څخه پند واخلي؛څو هغه مشکلات چې ټولنه یې لري حل شي او ټولنه له حکومت شره نژدې شي .

۷: لار ښود باید ټولنه له هغو خطرناکو پروګرامونو او حرکاتو څخه باخبره وساتي چې دښمنان یې زموږ په وطن کې د پلي کېدو اراده لري، څوخلک د هغو له اغېز لاندې رانه شي،په هکله یې باید له علماوو، مفکرینو، روشنفکرانواو په حالاتوله باخبره کسانو سره مشورې وشي څو دهغوی مخنیوی وکړای شي او دهغو دمقابلې لپاره تیاری ونیول شي. (۵:۳۲۱)

محمد افتخارحسین دفکري لارښود په هکله لیکي ! ددې لپاره چې یو مفکر ټولنه ښه رهنمایي کړي باید لاندې ځانګړتیاوې ولري.

۱:په خپل مسلک کې باید ښه ماهر او تجربه ولري.

۲:له مهمو ملي اونړیوالو پیښو باید باخبره  او د لوړ تحلیل خاوند وي .
۳:په ټولنه کې لوړ ټولنیز شهرت او حیثیت ولري.
۴:په ټولنه کې دباور او ښه اعتماد خاوند وي .
۵:په ټولو مسایلو کې بې طرفه  او تل د ملي ګټو طرفداروي.
۶: دټولنې دملي ،عقیدوي اوکلتوري نوامسو پالونکې او ساتونکې وي.
۷:له ملي او نړیوالو قوانینو څخه باخبره وي .
۸:د  موثر پیغام  چمتو کونکې ، د ژبې فصاحت  اوبلاغت  لرونکې  او د وینا کولو صلاحیت درلودونکې  وي .
۹:  دښو اوکره اخلاقو خاوند ، د پراخ نظر، صبر او  زغم  څښتن وي .

که چېرې په یو هېواد یاسیمه کې یو فکري لار ښود ذکرشوې ځانګړتیاوې ولري حتمي ده چې خپله ټولنه به په هره برخه کې لوړو پوړیوته رسوي .( ۳۲۲:۴ )

ارسطووایي چې انسان یوټولنیز موجود دی یوازې ژوند نه شي کولای ځکه چې ټولنیز عمل تل د نوروخلکو په موجودیت کې امکان مومي،په دې توګه هغه په خپل چاپېریال کې دنورو خلکوسره دیوځای کېدو له امله دیوې ډلې په شکل کې اوسیري. یوله بل څخه متاثره وي په دې توګه دیو بل افکار خپلوي. (۶۸۳:۴)

دیوکس په اړه ټولوخلکوته معلومات وي ،چې هغه مکمله ورځپاڼه لولي ځکه چې دهرکس لپاره دا امکان نه لري ،چې ټوله ورځپاڼه ولولي ، بلکې د حالا تو څخه دخبرېدوپه خاطر دغه کس دعامه رایو لارښود یا مشر ګڼل کیږي دعامه رایو مشر دپیښو په اړه زیات معلومات لري .

په دې کې هیڅ شک نشته چې په ټولنه کې داسې خلک وي چې په نوي عصر کې په خپلوکارونوکې دپرمختګ په وسایلوکې په تغییراوتبدیل ټینګار کوي.

ډېری مفکرین باتجربه اوپوه خلک تل دملي مسایلو د ملي کولو او پرمختګ لپاره هڅوي،چې په دوامدار اومسلسل  ډول  داسې خدمت وکړي چې تل یې ګټې عواموته رسیږي ،بېلګې یې دشهید محمد داؤدخان پلانونه اوهمدارنګه داوسني جمهور رئیس محمد اشرف غني ماستر پلانونه دي .

سیاسي مشران او مفکرین:

د دغه قشر خلک دوطن له ټولوملي مسایلوڅخه پوره معلومات لري چې په دغه کې ملي مشران،مبارزین، قانون ساتونکي،قانون جوړوونکي، ژورنالېستان اونورهغه خلک شامل دي چې دوطن له حالاتوخبرتیا اوپه مسلکي بهیر کې په پوره توګه ونډه اخلي .

تعلیم یافته قشر:

په دغه پوړکې هغه خلک برخه اخلي چې نه کوم سیاسي کارکوونکي وي اونه هم دکوم قوم مشر،بلکې دا دیو هېواد هغه روشنفکره طبقه ده چې ټولنې ته دلاسي څراغ اوګروپ حیثیت لري ،دوی دمختلفو علومو ماهرین باتجربه اوپوه خلک دي چې دخپلې پوهې په رڼاکې دټولنې ټولوبرخوته لارښوونه کوي، دوی خپلې تجربې ،علماومسلک له خلکوسره شریکوي، لکه استادان،باتجربه وکیلان،حقوق پوهان، ډاکټران دوی تل دسیاست مدارانو په کړنلارو نیوکې کوي ،هغوی ته نیکې مشورې اوپه بدو چارو یې منعه کوي،داقشر دوطن په سیاسي مسایلوکې زیاته دلچسپي لري، د شته سیاست پوهانوپه کړنواو پالیسیو باندې رڼا اچوي اوعوامو ته یې له تشریح اوتفصیل سره رسوي ، دوی دعامه رایو پروسه پرمخ وړي .

اوکله چې رایې تشکیل شي دوی یې کلکه ساتنه کوي تل دچارواکو پالیسي څاري چې  ایا د دوی پالیسي دعوامو د رایو مطابق چلیږي او که مخالفه ده .

ډله ییز ارتباطي وسایل :

رسنۍ نن سبا دعامه رایو په جوړولو،بدلولو اوهواري کې مهم رول لري چې له رادیو تلویزیون چاپي او اوسنۍ عصري تکنالوجیکي وسیلې انټرنېټ څخه عبارت دي،د دې وسایلو له ارزښت اواغېز څخه دسترګو پټول په انسان دړانده اویا هم جاهل ګومان کېدلی شي ،ځکه د دوی له برکته نن ټوله نړۍ دیو وړوکي کلي په شان غوره کړي ،دانساني نړۍ ترمنځ یې دفاصلې غرونو بحرونواودشتو مشکل له منځه یوړ،له یوې وړوکې کوټې کولی شي چې دنړۍ له لېرې لېرې خلکو سره دمختلفو مسایلو په اړوند خپل فکر شریک کړي ،دهغه غبرګون واوري، مشورو ته یې غوږ ونیسي اوبالاخره تصمیم ونیسي .

نورلاملونه : دعامه رایو دجوړښت اواظهارلپاره نورلاملونه هم وجود لري:

تقریر (وینا):

په سمتي اومذهبي ټولنو کې وعظ یا وینا دټولنې دافکارو د بدلون او خپلولو لپاره ډېر مهم کردار اداکوي، همدا اوس زموږ په ټولنه کې د علماوو، مشرانو اوسیاستوالو ویناوې څومره مؤثرې وي حتی په رسنیو کې مهمو وګړو ته وخت ورکول کیږي څوپه روانو حالاتوخپل نظرله عواموسره شریک کړي.

تعلیمي ادارې:

دښوونې اوروزنې ادارې دیو هېواد دهر اړخیز پرمختګ اساس او بنسټ ګڼل کیږي که چېرته دیوې ښوونیزې ادارې پروګرامونه په رښتیا ژور، ګټوراوکامل وي اوټول هغه مسلکونه، هنرونه، تجربې ، پوهه، عقاید او نظریات چې دښوونې اوروزنې له ادارې څخه زده کیږي په صداقت سره په نظر کې ونیول شي، نو ټولنه  له هره اړخه بسیا اورغولی شي.

ښوونیزې ادارې دانساني ژوند دټولو ضروریاتو او کړاوونو دحل لپاره کیلي بلل کیږي،هغه ډله چې په دې ادارو کې کار کوي، باتجربه، مسلکي اوپه کار پوه خلک وي چې د ټولنې مغز بلل کیږي.

څرنګه چې دمعارف بنسټ دټولنې دراتلونکي سالم ژوندضمانت کوي، نو ځکه دعامو رایو په جوړښت کې لوی لاس لري، په رښتیا هم که حکومتونه غواړي چې هېواد شعوري ورغوي ،نوباید معارف ته جدي پاملرنه ولري، وګورئ په تېرو او اوسنیو وختو کې زموږ د هېواد دښمنانو دمعارف بنسټونه ورانول،لېسې او مکتبونه یې وسوزول چې په بشري چوکاټ کې جواز اوځای نه لري.

دلوړې پوهې خاوندان:

داسې خلک چې دخپلو معلوماتو اوعلم په وسیله له خلکو مخکې شوي وي، دوی یوه کړۍ جوړه کړې وي ،دهېواد دمختلفو مسایلو په هکله نظریات ورکوي، ددې ډلې خبر تل ثابتې او دکاڼي کرښې وي، چې دعامه رایو په جوړښت کې مهم رول لوبوي.

مذهبي ډلې:

دنړۍ ډېری ملتونه دمختلفو مذهبونو پیروان دي ،هر یو یې خپل مذهب او مذهبی مشرانو ته احترام لري، د دوی عقیده اواحساسات له عقیدې سره نه شلېدونکی تړاو لري، مذهبي مشران دوعظ او نصیحت په بڼه په ټولنه کې لوی بدلون راوستلی  شي، نوځکه دوی دعامه رایو په جوړښت او تخریب کې لوی  لاس لري.زموږ دتېر کال ټاکنې یې ښه بېلګه ده، چې د هېواد  ټولوعلماوو په خپلوپیروانو غږ وکړ، چې باید دګران هېواد دامن لپاره ملت ټاکنوته ووځئ چې همداسې وشول.

سیاسي ډلې :

دنړۍ ډېری سیاسي ډلې خپلې شخصي اوګوندي ګټې د ملت په رایو کې لټوي هڅه کوي په داسې په وطن مین، مذهبي غوړو شعارونو او ویناوو په وسیله دناپوهه خلکوله احساساتو څخه ګټه واخلي، هغوی ظاهراً خوښ اوګرم وساتي اوپه حقیقت کې خپل حزبي اهداف لاس ته راوړي، لکه تېر

کال په ټاکنو کې د کاندیدانو غوږ شعارونه ،چې له مخې یې ټاکنې وشوې، دوی هدف ته ورسېدل ولې ددې پر ځای چې وعدې عملي کړي په خپل منځ کې یې په چوکیو لانجه شوه؛ نو اوس څه شول هغه غوږ شعارونه او وعدې، په هرحال سیاسي اصلي مشران دعامه رایو په جوړښت کې رغنده لوی لاس لري چې سترګې ورڅخه نه شي پټېدلی.

دپارلمان او سنأ دمجلس غړي:

په ملي شورا کې دبېلا،بېلو ډلو نماینده ګان وي د مختلفومسایلوپه هکله بحثونه ،ویناوې ،ترونونه ، فیصلې اوقوانین تصویبیږي ،نماینده ګان سیمې ته ځي له خپلوخلکو سره ګوري، دهغوي مشکلات حلوي، په نتیجه کې خلک دپارلمان د نماینده ګانو له خبرو او ویناوو څخه تر اغېز لاندې راځي ،نو له دې کبله پارلمان دسیمې اونړۍ په مهمومسایلو او دعامه رایو په تشکیل او تخریب کې لوی نقش لوبوي.

مختلفې مؤسسې:

ملي اونړیوالې موسسې اوخیریه ټولنې هم د عامه رایوپه تشکیل کې مهم رول لوبوي:لکه مدني ټولنې اوداسې نور......

داشخاصو لیدلوری:

دخلکو شخصي لیدلوری هم دعامه رایو په جوړښت کې مرسته کوي په ټولنو کې بعضې داسې وګړي پیداکیږي، چې لوړه او بهترینه مفکوره ورسره وي دداسې خلکو له تجربو اونظریاتو څخه بایدګټه واخېستل شي،دخلکوځاني کتنې دعامه رایوپه تشکیل کې هم رول لوبوي، وګورئ په اوسني دورکې چې کله هېوادونه له کړاوسره مخ شي ،نوملت ته مخه کړي، پوه او مهم خلک سره راټول اودملي پېښو کړاودحل په هکله له مشورو وروسته ګام پورته کوي،بالا خره دحل لاره مومي.

څوکاله وړاندې دپاکستان اقتصادي حالت سخت متضررشو،چې دحل لپاره یې سرتاج عزیزراوغوښت دهغه پالیسي یې تعقیب کړه اوله کړاوه یې هېواد خلاص کړ.

شهرت اوتجربه:

هغه انسانان چې مختلفې تجربې لري دابتکاراونوښت خاوندان وي، دوی په ټولنوکې منل شوې اومشهورې څېرې وي،په شتویې ټولنه ویاړي، افکاریې ټولني ته منلي اوباوري وي.

دمختلفومسایلوپه هکله له دوی څخه پوښتنې کیږي، دوی ځواب ورکوي ددې وګړو رایې ثابتې وي ټولنه ددوی دافکاروله اغېزلاندي راځي، بالاخره د دوی پلونه تعقیبوي ،نودا ډول خلک درایو په جوړښت کې کره اوګټور کردارادا کوي.

ټولنیز لوړ مقام:

ځینې داسې خلک چې په ټولنه کې دعزت اواحترام خاوندان وي، دعامه رایوپه جوړښت کې ډېرکومک کوونکي ثابتیږي ،بایددضرورت په وخت کې له دې ډول خلکوڅخه کارواخېستل شي.

باور: یوشخصیت لرونکی انسان بایدخپل باورله لاسه ورنه کړي،ځکه چې دخلکوپه ده اودده په کړنودومره باور وي نودی هم باید دعامه رایوپه تشکیل کې مهم رول ولوبوي.

عامه رایې اوتبلیغ:

کله چې مونږدعامه رایو دجوړښت په هکله غږیږو نودتبلیغ ټکی به خامخه زمونږمخې ته راځي ،تبلیغ دعامه رایو په تشکیل او تخریب کې لوی لاس لري، ولې تبلیغ د یوې ګټورې وسیلې په توګه تل نه شو استعمالولی،په اوسني تبلیغ کې دخپلوغوښتنو دعملي کولو لپاره له ډول، ډول ښو او بدو لارو څخه کاراخېستل کیږي چې ځینې زمونږ په سپېڅلي دین اسلام کې بالکل ناروا دي، ولې دنړۍ حکومتونه دخپلو اهدافودلاسته راوړلولپاره وي. دتبلیغ مکمل معلومات تاسو د تبلیغ په برخه کې

کتلی شی،دلته فقط د تبلیغ په هغو تکتیکونو غږیږو چې  د عامه رایو  دلاندې کولو یا نه څرګندولو په خاطر یې د عامه رایو مفکرین  په عامه افکارو مني،چې ډېری یې ناروادي او حتی هغه هېوادونه چې ځان  ته په اسلامي نړۍ کې څوکوایي  له دې ناروا عمل څخه ګټه اخلي، داچې دعامه رایوپه جوړښت کې مبلغین له کومو لارو ګټه اخلي په لاندې توګه یې تشریح کوو.

ښکنځلې اوسپکې سپورې:

دښکنځلو اویا چاته بد رد ویل هغه وخت استعمالیږي چې کله یې هدف داوي چې خلک بغیر له دې څخه چې ثبوت وګوري، یاخپله فیصله واوري باید ددوی مفکوره عملي کړي دلته مبلغ مقابل طرف په بدو نومونولکه،خاین،داسلام دښمن،ملي خاین ،جاسوس ،مزدور، ګوډاګی او داسې نورو نومونو یادوي، ښه مثال یې له امریکا  سره د ستراتیژیک تړون په هکله دخلکو هغه غبرګون دی،چې تړون نه دی شوی. اوخلک په ډاکټر اشرف غني مختلف نومونه ږدي دادیو هوښیار دښمن داسې تبیلغ دی ، چې غواړي په هر ډول چې پاچا بدنا م کړي ،دلته کارتون اوهغه دفېسبوک تصاویر هم صدق کوي...........

ځلانده کړنلاره:

په دې برخه کې له داسې نظرونو او تقریرونو څخه ګټه اخېستل کیږي، څودخلکو لپاره په زړه پورې وي، مبلغ غواړي دټولنې دجذب لپاره په خپله ویناکې داسې مسایل مطرح کړي ،چې ټولنې ته په زړه پورې وي او د خلکو له فطرت سره همغږي ولري.

لکه : ربښتینوالی، صداقت، وطن پالنه ، دبیان ازادي، ټولنیز انصاف او داسې نور...........

داحترام جذبه:

په دې کړنلاره کې له داسې چاروا وسیلوڅخه کار اخېستل کیږي ، چې په ټولنه کې ډېر سپېڅلی،محترم منلی او باوري وي لکه: دمسجدونو جوړول،مدرسې جوړول دعالمانوپالنه،دمشرانواوداسې خلکواحترا م یادول چې په ټولنه کې ورته دقدر په سترګه کتل کیږي، ددې ډول کارونو په سرته رسولو سره خلک پرته له کوم فشاره دې وګړو ته داحترام په سترګه ګوري، خصوصاًً په مذهبي ټولنوکې داډول کارډېر ژر مقبولیت پیداکوي ژوندۍ بېلګهیې زموږ دوطن اوسنی حالت دی.

دلایل او اسناد:

په دې کړنلاره کې دیوچادمفکورواوپه ټولنه کې شخصیت د مشهورولو لپاره له مهمو اسنادو او دلایلو څخه کاراخېستل کیږي او یو مهم عمل ته په دوی پورې تړاو ورکوي ،چې اکثریت په تجارتي مسایلو کې کاریږي،که موږ د(کاراباو) انرژۍ اعلان خپروو نو په اعلان کې د یو مشهور لوبغاړي انځور ښیوو چې دغه انرژي څښي څو داثابته کړو چې مهم خلک له دې انرژۍ څخه ګټه پورته کوي.

دخلکو خوښېدنه:

دانتخاباتي پروسې پروخت دغه رواج ډېرعام دی،چې سیاستمداران، وزیران اوافسران دخلکوسره داسې یوځایي (ګډ)تصویر خپروي  چې ددوی سره ګرځي یوازې ورسره کیني،ددې لپاره چې خلک پردوی باور وکړي اودخلکو مینه لاسته راوړي.

چل اوفر یب:

په دغه ډول کې دحقیقت اصلي بڼې ته تغیر ورکول کیږي اودغه حقیقت خلکو ته په داسې بڼه ښایي چې دکومې مفکورې یاپېښې یوه برخه پکې ولیدل شي ،څوهغه اصل مطلب پټ اوپرځای یې

برعکس څه خپاره شي لکه، دافغانستان  اوپاکستان ترمنځ اوسنۍ دترون موضوع، خلکو ځومر ه بې ځایه تبلیغ وکړ خصوصاً ټولنیز ې رسنیو هغه دانساني کرامت چوکاټ هم مات کړی وو.
دخدایج دمخلوق دافکارو تسخیرول:

کله چې مبلغ غواړي چې ډلې،ډلې خلک دده خواته راشي نوهغه خپل ټول زرو ددې لپاره مصرفوي چې دهرچانظردده په هکله مثبت وي اودی هم داسې ښايي چې زه داکار ستاسولپاره کوم ځوتاسوپه ارام شي، حال داچې دی اصلاً هغه هدف لټوي دکوم په خاطر یې چې دا کارشروع کړی دی، بالاخره دټولنې له ضعف (ناپوهي) اوسادګۍ څخه داسې کاراخلي چې هر څه پخپله وڅرخوي اوهغه څه ومني چې دی یې غواړي .
فکري جګړه:

فکري جګړه یو اوږد  خورا مغلق مهم بحث او پراخه ساحه لري ، چې په مکمل ډول یې په ټوله معنی سره تشریح او وړاندې کول لوی کار غواړي،اصلا دا ځانګړی مهم کاردی  چې لوړ، باتجربه ،پوه او کلیدي شخصیتونه په دې اړوند لازم کار وکړي . زه د کمې تجربې او پوهې  له کبله ځان ته دا حق نه ور کوم  چې په دومره  با ارزښته او نړیواله موضوع باندې کار وکړم .ځکه زه نه شم کولی چې دموضوع ټول اړخونه را وسپړم ، دا برخه هغو علماووته  پریږدم چې په دې هکله پوره  او کره معلومات لري،  زه دومره کوم چې د ژورنالېزم او عامه اړیکو محصلانو ته  په  دې هکله لنډ معلومات وړاندې کړم  او دا  ددې لپاره چې په تبلیغاتو پورې تړاو لري؛ څو لوستونکي او په ځانګړي ډول د ژورنالېزم او عامه اړیکو محصلان ترې مناسبه ګټه پورته کړي .

د نړۍ د اوسني سیاسي نظامونو  او سیاستونو  په نظر کې نیولوسره فکري جګړه ډېره کامیابه ،موثره او کم مصرفه ده ځکه په دې جګړه کې ډېر کم مصارف کیږي له نظامي مصارفو ،ځواکونو او جنګونو پرته د ملتونو په افکارو کې ځای پیداکول او پرته له کوم مقاومت او غبرګون څخه اذهان لاس ته راوړل  دا لویه خبره ده؛ ځکه بې ملته  او بې ځمکې پاچاهي او واکداري نه شته اونه به شتون ولري.

په فکري جګړه کې  دملتونو فزیکي وجود،هدف نه ګرځول کیږي بلکه د هغوی دین،فکر،ټولنیز عنعنات،اخلاق،روحیه او عادتونه تر ضربې لاندې نیول کیږي.

په فکري جنګ کې له وسلوالو ځواکونو سره  ځوک نه  مخ کیږي بلکه د  ملتونو او ټولنو له مغزو سره جنګیږي . فکري جنګ غرونه  راغونه او درې نه اشغالوي بلکې افکار، زړونه او دودونه تر خپل اغېز لاندې راولي. فکري جنګ نظامي فوځونه او اډې تر حملې لاندې نه راولي  ،نظامي تجهیزات او وسلې له منځه نه وړي بلکې په شخصیتونو ،هویتونو، اخلاقو او عقایدو په داسې توګه برید کوي چې کله به هم  پرې د دښمن ګومان ونکړې .په بله معنا په فکري جګړه کې، د یوې ټولنې د وګړو عقیدوي،کلتوري،اخلاق او معنویات متضرر کیږي او یوه ټولنه وجداناً  دې ته مجبوریږي ،چې د ظالم حکومت یا قوم استعماري فکري موخو ته غاړه کیږدي .د فکري جګړې په اړه زیاتې پېژندنې شوي دي، چې دلته یوازې په یوڅو پېژندنو بسنه کوو:
پېژندنې :

فکري جګړې  څخه  موخه ! د یو هېواد ،قوم،ملت ټولې هغه هڅې او فعالیتونه دي چې په مرسته  یې د نورو ملتونو،هېوادونو اوحکومتونو په رایو او کړنو(عملونو) کې تغیر راولي او دخپلې خوښې په لور یې ځرخوي.ددې هدف د لاسته راوړلو لپاره له سیاسي،اقتصادي او نظامي تخنیکي وسایلو پرته له نورو اصولو  او طریقو څخه کار اخلي.ددې نظریې تابع خلک ، ټول په یوه خوله متفق دي؛چې دفکري جګړې  ترټولو بهتره او موثره وسله تبلیغات  دي .په دې تعریف کې د فکري جنګ

لمن ډېره پراخه ده،دوی نظر لري چې له تبلیغ پرته نور ډېر کارونه شته چې په فکري جګړه کې دخیل دي .که د فکري جګړې  پر مخ وړونکی هېواد، ډلې او قوم  وغواړي چې د خپل هدف وړ خلک وویروي،هغوی ته د درس په شکل خپل اهداف په مطلوم(دښمن) قوم کې پلي کړي، همدارنګه د جاسوسي، تخریب،چاودنو،تروریستي بریدونو او هر هغه عمل چې مظلوم (دښمن) ملت پرې له منځه وړي په ارادو او په افکارو کې بدلون راولي ؛نو له دې جنګ څخه کار اخلي . همدارنګه د هغوی مرال ضعیف کړي، یو په بل یې بې باوره کړي،ذکر شوي ټول کارونه د فکري جنګ  دنده لري

فکري جکړه له هغو ټولو اصولو او کړنو څخه عبارت ده،چې د یو منظم مطرح شوي پلان په اساس عامه رایې دیو عمل او کړنې تر سره کولو او یا ردولو ته  وهڅوي،  په ارادو کې یې تغیراو بدلون راولي د یو چا په مقابل کې یې په تحرک او خوځښت راولي .

فکري جګړه:

له ټولو هغو اعمالو او تدبیرونو  څخه عبارت د چې دهدف وړ قوم،شخص یا ډلې حالت مکمل له منځه وړي او خپله ناوړه  او ناروا مفکوره پرې مني.

فکري جګړه !

هغه جګړه ده چې غیر مسلم هېوادونه یې د اسلامي ټولنې د عقیدې، کلتور، مذهب، فکر،دودونو،اخلاقو او سلوک دله منځه وړلو په خاطر په لاره اچوي څو اسلامي ټولنه له خپلو ټولو معنویاتو څخه محروم اوپه ځای یې د دوی د ټولنو او دودونو پیروي وکړي.(۲:۲۲)

سید قطب دفکري جګړې په هکله فرمايي:

فکري جنګ هغه جنګ ته وايي چې صلیبیان په کې داسلامي زنده ګي مظاهرې له منځه وړي او مسلمانان له اسلامه لېرې ساتي  اوهغه څه چې په اسلامي عقیده پورې تړاو لري لکه عقیده، فکر ،درک، فرهنګ، اداب او رسوم دغیر نظامي وسايلوپه وسیله یې  له منځه وړي او ویجاړوي یې. ( ۹:۳۶ )

فکري جګړه :

له ټولوهغوتدابیرو څخه عبارت دي چې د هدف وړ شخص ، قوم ، ملت یا ډلې افکار او اعمال مکمل تغیر او ورسره،ورسره یې د بل قوت، ځواک ، ملت یا قوم په مقابل کې مبارزې او دښمنۍ ته چمتو کوي چې  له مختلفو مذهبي،فرهنګي،سیاسي،اقتصادي اونورو وسايلوڅخه کار اخلي.(  ۱۳:۲۳)

فکري جکړه :

له هغو ټولو اصولو او کړنو څخه عبارت دی چې د یو منظم مطرح شوي پلان په اساس عامه رایې  دیو عمل کړنې او ردولو ته  وهڅوي،  په ارادو کې یې تغیراو بدلون راولي د یو چا په مقابل کې یې په تحرک او خوځښت راولي .عموما ټول هغه ځواکونه چې فکري جګړې  د یوې سیمې، هېواد، ملت او یا وګړو لپاره په کار  اچوي له لاندې مهمو اصولوڅخه کار اخلي .

۱- سیاسي ښونه او روزنه

۲- سیاسي تشویق او پارونه

۳- اورد مهاله مستقیمې او غیر مسقیمې شخړې او جګړې.(۵:۶۸۹)

۴- په مختلفو طریقو تخریب،بي بندوباري، اداري فسادرايجول ، وژنه او ډارونه.

څرنګه چې  د عامو افکارو د روزنې، پیاوړتیا، پوهونې، خبرونې، تخریب او تسخیر لپاره رسنۍ په زړه پورې کردار ادا کولی شي نو د فکري جګړې لپاره هم ډېره مؤثره بې جوړې با اغېزه وسیلېدي چې بل هېڅ شی یې په دې لار کې ځای نه شي نیولی.خصوصا په بېرته پاتې او بې سواده

ټولنو کې فکري جګړه له نظامي جنګ څخه ډېره ګټوره،مؤثر او مغرض هېواد ته پرته له مصارفو او وژنو هدف لاس ته ورځي . ژوندي مثالونه يې په عراق د امريکا تور لګول چې هستوي وسلې لري همدارنګه د ليبيا شخړه او هم دنړيوال تجارتي مرکز ورانول او په القاعده يې تور لګول ،........ داسې نور ټول هغه مثالونه دي چې ګران هېواد افغانستان ته د غربي ځواکونو له راتګ سره سمدستي د ايساف او امريکانظامي ځواکونو د خپلو اهدافو لپاره د عامه رايو د تسخيرولو لپاره په ټولو رسنيو نارې وهلې چې له ۲۰۱۴ کال وروسته به په افغانستان کې څه بد حال راشي .....،بلکې هېڅ مشکل منځ ته را نه غی، دا کار رسنيو ددې لپاره کاوه چې څو عامه افکار او چار واکي تر فشار لاندې راشي چې له امريکا سره سترا تيژيک تړون لاسليک کړي، ولې کرزي له خپل هوښيار توب څخه "کار واخېست حتی د لويې جرګې خبره يې هم ونه منله خو نوي حکومت داکار وکړ نه پوهيږم چې ولې؟ ايا ددوی شتون اوس زموږ لپاره څومره ګټور او څومره زيانمن دی .

د فکري جګړې ځانګړتياوې:

فکري جګړه اصلا په ۱۲۵۰ مېلادي کال کې د فرانسې پاچا نهم لويس هغه وخت مطرحه کړه کله چې دمصر د منصورې په جګړه کې له ماتې وروسته ونيول شو او بيا د ډېرې فديې په بدله کې خوشی شو.نوموړي ته په بنديخانه کې دا سوال پيداشو،چې ولې مسلمانان د مادي او پوځي وسايلو له کموالي سره مخ دي بياهم بری مومي؟ نو يې د فرانسې له ټولو سيمو څخه دعلم او پوهې خلک را ټول،له مشورې وروسته داسې فيصله وکړه ( که غواړئ چې دښمنانو (اسلامي نړۍ) ته ماته ورکړئ نو يوازې په پوځي جګړه تکيه مه کوئ بلکې دهغوی له عقيدې ، فکر ،کلتور او معنوياتو سره وجنګيږی ځکه ددوی اصلي وسله او دبري راز په عقيده، احساس او اخلاص کې دی نه په وسلو او پيسو کې) . (۳۳۵:۱۷)

د فکريجنګ اصطلاح د دوهم نړيوال جنګ په دوران کې په مختلفو مفهمونو کارول کېده،دا د غرب هغه خطرناکه جګړه ده چې له نظامي جګړې څخه څو ځله خطرناک،مؤثر او پرته له مالي مصارفو څخه په مستقيم او غير مستقيم ډول مظلوم ملتونه له اغېز لاندې راولي .په فکري جګړه کې ملتونو فزيکي وجودهدف نه ګرځول کيږي،بلکې د هغوی دين، فکر،ټولنيز عنعنات،اخلاق،روحيه اوعادتونه تر ضربې لاندې نيول کيږي.

په بله معنا په فکري جګړه کېد يوې ټولنې د وګړو عقيدوي،کلتوري، اخلاق او معنويات متضرر کيږي او يوه ټولنه وجدانا دې ته مجبوره وي،چې د ظالم حکومت يا قوم استعماري فکري جګړې ته غاړه کېږدي . دفکري جګړې پلي کوونکي په شعوري ډول دټولنې د خپلولو، د چاپرخلاف دراپارولو، دحوصلې اوزغم د زياتولو يا کمولو، دجذبو د را پارولو او ما تولو لپاره له بېلا،بېلو اصولواو تکتيکونو څخه کار اخېستل کيږي چې مهم يې له سياست، تبليغ،اقتصاد او جنګ څخه دي، دوی وخت او فرصت ته په کتو سره له له بازار موندنې تشويق تړونونو اصلاح او زور څخه کار اخلي او له دې لارې موخې لاس ته راوړي .فکري جګړه ديوه ځانګړي هدف لپاره په لار اچول کيږي او دخپلې پاليسۍ دتطبيق لپاره له منظم تکتيک څخه کار اخلي . (پاليسي دهغه ځانګړې پرېکړې نوم دی چې اداره يې د خپلو اهدافو دلاس ته راوړلو اوپه مقابل لوري دخپل نظر منلو ته چمتو کوي ). فکري جګړه له عسکري جګړې څخه ډېره تخريبونکې ده ځکه چې نظامي جګړه د جنګ په مقابل کې، په ټولنه کې مختلف غبرګونونه پاروي په نتيجه کې د ټولنو، هېوادونواو مذهبونو ترمنځ تصادم منځته راځي؛خلک مري،د نظامي وسايلو تخريب او د نظامي ځواکونو وژنه منځته راځي،په پايله کې د يو طرف په ماته پای مومي او هېڅ وخت نظامي تسلط بقا نه مومي، خو فکري تسخير د نظامي تسخير پر خلاف اورد وي

چې داوړدوالي دوام يې د ظالم يا فاتح فکر په صداقت،رښتينولي،خيرغوښتنې،عدل او پاکي پورې اړه لري.

په اوسنيو عصري نظامي جګړو کې فکري جګړه،له نظامي جګړې مخکې پلې کيږي،ظالم حکومت په مختلفو خوږو شعارونو،نومونو، ازادي نارې وهلو سره هڅه کوي،د مظلومو هېوادونو د ملتونو، عقيدوي، کلتوري،تاريخي، وياړونه اواساسات له پښولاندې کړي، په مختلفو طريقو يې هغه ملي شتمني چې مظلوم ملتونه يې لري تر پوښتنې لاندې راولي. په سېمه ييزو او ملي کچه چې کله د عامه رايو د تعمير يا تخريب لپاره استراتيژيک فکري جنګونه پيليږي او د پلي کېدو يا سرته رسېدو لپاره يې ډليزو ارتباطي وسايلو څخه کار اخېستل کيږي په لاندې دوو ډولونو وېشل شوي دي .

۱ـ سست رفتاره ارتباطي وسايل .

۲ـ تېز رفتاره ارتباطي وسايل .

سست رفتاره ارتباطي وسايل:

دا هغه چاپي خپرونې دي چې ډېر په ارام سره په انساني افکارو اغېز کوي په دې ډول کې د بعضو تمه وي چې عموما ورځپاڼې،مجلې، کتابونه، پملټونه، فلمونه،سي ډي او تقريرونه د مختلفو مشهورو اشخاصو احساساتي ويناوې، حماسي شعرونه، نظمونه، ترانې، د سرښېندنې پارونې او ددښمن د مرال د کمولو لپاره نو د هغه اعمال چې په انساني اذهانو تاثيرکوي. دې ته ځکه سست رفتاره مواد وايي چې ډېر وخت ته ضرورت لري او د وخت په تېرېدو سره په هدف وړ افکارو تاثير کوي .

تېز رفتاره ارتباطي وسايل :

په دې ډله کې ټول هغه ډله ييز ټولنيز ارتباطي وسايل شامل دي چې برق ته ضرورت لري، په دې وسايلو لومړی مهم خبرونه خپروي او بل د تبليغ د خپرېدو لپاره ډېرمؤثر دي او هم دارنګه خپلو نظامي مرکزونو يا افرادو ته د بې سيم دستګاوو په وسيله اطلاع او معلومات خپروي،له نظامي مرکز څخه بيا د مختلفو وګړو په وسيله په مختلفو لارو د سېمې راديو ګانو شتون خلکو ته معلومات او اطلاع ورکول کيږي چې په دې هکله د F.M راډيوګانې دي چې په هره نظامي قرارګاه کې شتون درلود، همدارنګه تبليغاتي پاڼې،محلي تلويزيونونه چې خپلې توليدي او يا د مصنوعي سپوږمکيو په وسيله د مختلفو تلويزيوني چينلونو له لارې مختلفو پروګرامونوخپرول خصوصا هغه پيغامونه چې دښمن يې د سېمې خلکو ته خپروي .

د فکري جګړې لپاره د موادو پيداکول:

د فکري جګړې لپاره حساسو مهمو موادو پيدا کولو ته ضرورت پيدا کيږي، څو ددغو مهمو اطلاعاتو او معلوماتو په رڼا کې فکري جګړه پلان ګذاري کړای شی.دغه ډول مواد عموماً له عادي خلکو،عالي خلکو، جاسوسانو،مؤسسو،روغتونونو،ډاکټرانو،مريضانو،استادانوشاګردانو ښوونيزو ادارو، مزدورانو ،مسلکي کارګرانو اود نورو مختلفو ادارو د کار کوونکو په وسيله لاس ته راځي.دملګرتيا ، خېښۍ يا دوستۍ او داسې نورو لارو څخه کار اخېستل کيږي . د جهاد په دور کې د افغانستان د مجاهدينو هغو کسانو ته چې علمي کچه يې کمزورې يا چا غوښتل په يوه طريقه خپل هدف تر لاسه کړي، نو جهادي قوماندانانو ته يې خپلې لوڼې ورکړې، اوس هم کېدای شي نوي ودونه شوي وي حتی ځينې داسې لوړپوري چارواکي هم شته چې په مخصوصو مصؤنو ځايونو کې خاص کورونه لري.

زموږ په هېواد کې په مختلفو تعليمي ادارو کې د خارجی استادانو مقررول ټول دسياسي اهدافو لپاره کارول کيږي او همدارنګه د هېواد په مخابراتي سيستمونوکې د خارجيانو استخدام بل هغه

لوی او ناروا عمل دی چې  ببرا ګان ډېر وروسته پرې خبریږي ، له همدې کبله  زمور د مشرانو تلیفوني ویناوې ثبت او دښمنان یې اوري .د دې لپاره چې د فکري جګړې پلانګذاري په منظمه او مؤثره توګه سرته ورسیږي، مفکرینو لاندې مهم پړاوونه ټاکلي دي.
۱ـ د هدف په هکله مهم دقیق معلومات :
ددې لپاره چې  په فکري جګړه  کې  مو،خپل هدف لاس ته راوړی وي نو لومړی باید د دښمن هېواد، قوم یا ډلې  په هکله د دقیقو هر اړخیزو معلوماتو لاس ته راوړل دي. هغه داسې چې د دښمن قوم د ضعف ،قوت، تخریب،تعمیر او ضرورت په هکله لازم مفصل معلومات راټول کړل شي؛ څو دهغو  په نظر کې نیولوسره  د دښمن د حملو،پلانونو  او سازشونو د خنثی کولو  لپاره جدي تدابیر ونیول شي او همدارنګه دهغو د پرمختګ لار هم ډب کړل شي . کله  چې د هدف وړ معلومات راټول شي له راټولېدو وروسته ټوټه،ټوټه، تحلیل او تجزیه شي ،چې دې  ته Target Analysis وا یي . ( ۲۹۶:۴)

۲ـ د دښمن د تبلیغاتي موادو هر اړخیزه مطالعه او څېړنه :
د پورته هدف د لاس ته راوړلو لپاره د دښمن هېواد،قوم یا ملت د حکومت او ملت د مهمو چارواکو او مشرانو ویناوې، کنفرانسونه، غونډې، ناستې ...او نور مهم پروګرامونه له هر اړخیز ډول څېړنې او تجزیې څخه وروسته له هغوی څخه داسې معلومات راټولوي چې په مقابل کې یې د تبلیغ لپاره لاره هواره شي. ځکه خو  د امریکا چار واکي د ټولې نړۍ دمشرانو خبرې اوري  . دوی ولې  او د څه لپاره  دا کار کوي ؟
هغه د همدې موخې لپاره چې د دنیا د مهمو چارواکو مهمې پټې خبرې دوی ته تل څرګندې وي،چې وېکیلکس ټولې نړۍ ته دا خبره  رسوا کړه  او اېډوار سنوډن یې  بله مهمه نړیواله څېره ده چې د روس او امریکا د روابطو اصل اړخ یې بیا د تل لپاره  نړیوالو ته څرګند کړ .
۳ـ د پورته دواړو ټکو دپایلو ارزونه :
کله چې د فکري جګړې پوهان  او ماهران د هدف په اړه لازم معلومات راټول کړي د تجزیې او تحلیل څخه وروسته ، د فکري جګړې دپیلولو لپاره  د عملي کولو تیاری نیسي د جنګ له پیل کېدو وروسته یې اغېزې او پایلې تلل کېږي چې زمور پروګرام تر کومې لارې پورې بریالی دی،چېرته مشکلات لرو د حل لارې یې څه دی .ددې لپاره چې د فکري جګړې نتیجه منظمه او سالمه وګورو نو لاندې درې پوښتنې ځوابوو.
الف : آیا زمور هدف ټولنې ته په صحیح ډول رسیږي ( دلته  موخه هغه پیغام دی چې مبلغ یې خپرول غواړي)؟
ب :آیا د هدف وړ خلک، قوم،ملت (زمور په اصلي پیغام)پوهېدلی شي؟
ج : څنګه کولای شو چې چې دجګړې په پای کې  ملي ګټې لاس ته راړو او خپل ملت راضي کړو؟
د پورته دریوو واړو پوښتنو ځوابونه په هغو ټولنو کې چې هلته حکومت کمزوری وي او خلک ازاد تګ راتګ کولی شي په اسانۍ سره ترلاسه کیږي  .
بیا د امن په وخت کې اوپه دا سې ټولنو کې چې هلته حکومت قوي وي بیا له پټو جاسوسي اشخاصو او ډلو څخه کار اخېستل کیږي؛ وګورئ د هند او پاکستان ترمنځ د پورته پوښتنو ځوابونه مشکل مګر د پاکستان،افغانستان  او ایران  ترمنځ ډېر اسان دی؛  ځکه  دا  دواړه هېوادونه زمور په ټولنه کې  دومره جاسوسان لري چې  زمور له هر راض او نیاز څخه خبر دي او  امریکایان خو  هسې زورور دي، روپۍ راکوي په کابینه کې ښه فعال جاسوسان لري  او زمور له حکومته  ځان ورک دی ،

که ځان وغړوو نو بیا د چاودنو او وژنو باران په شړک اوخرپ اوریږي.ددې اهدافو لپاره تل د ځوانانو له پاکو او سپېڅلو احساساتو څخه ګټه پورته کوي دهغوی لپاره له داسې اصولو کار اخلي چې په خپله دې چمتوشي چې یو عمل ته ځان تیار کړي.

په اوسنی وخت کې ،احساستي اشعار،بې سواده ځوانان ټول جنګ او ورور وژلوته تشویقوي .هېڅ د روا او ناروا پوښتنه نه کیږي . فقط ټوپک مخابره ،موټر سایکل، لنګۍ او پیسې هغه څه دي چې د اسلامي نړۍ اوزموږ ټول اسلامي او ملي معنویات یېله خاورو سره خاورې کړل. همدارنګه په افغانستان کې د مختلفو مؤسسو له خوا د زون او ولایتونو په کچه سروې ګانې د اوسني روان حالت عکاسي کوي څو هغه ټکي پیداکړي، چې د دښمنانو په درد دواکیږي .

د فکري جګړې لپاره ژورې پلټنې پکار دي:

د فکري جنګ د ضرورت ارزښت او مؤثرتیا له کبله اوس ټوله نړۍ او په ځانګړي ډولامریکا، اروپا، روسیه، چین، هند، فرانسه......او نور هېوادونه لګیا دي تحقیقات او څېړنې کوي او ددې هدف د لاسته راوړلو لپاره چې ځانګړې اداري،کمېټې،پوهنتونونه،انستیوتونه..... جوړ کړي دي. په دې ادارو کې د هرې سېمې،مذهب،مسلک،او نژاد پورې مربوط خلک بوخت دي، په هغو مسایلواو پرو ګرامونو څېړنې کوي چې هغه په یو نه یو ډول په فکري جګړه کې شامل او ارزښت ولري.امریکا او اروپا له بېرته پاتې هېوادونو څخه د مختلفو پروګرامونو له لارې لوړ ذهنه او با استعداده خلک غواړي په مختلفو ادارو کې یې جذبوي څو دضرورت په وخت کې دنړۍ په هدف وړ هېوادونو کې له دغو کسانو څخه ګټه واخلي ځکه دوی دغه وګړي داسې روزي چې تل د دوی ګټې وپالي او همدا رنګه په هغو هېوادونوکې چې د دوی هدف وي د لویو چارواکو په توګه ګوماري چې په نړۍ کې یې مثالونه شته.

د فکري جګړې وسلې:

څرنګه چې نن فکري جګړه د ژوند د ټولو موخو دلاسته راوړلو لپاره یوه بهتره وسیله ده نو د ارزښت له مخې یې د نړۍ ځواکمن هېوادونه تل په دې هڅه کې دي چې د بېرته پاتې او مخ پر ودې هېوادونو د ټولنې د تابع کولو لپاره ورڅخه کار اخلي .

په دې خاطر چې د مختلفو ټولنو د افکارود خپلولو،تحریکولو،د چا په خلاف د پارولو،د مختلفو مسایلو په هکله د ټولنې د حوصلې د زیاتولو، کمولو، ځواکمنو احساساتو راپارولو کنترول له منځه وړلو لپاره مختلفې لارې شته چې عبارت دي له:

۱) سیاست ۲) اقتصاد ۳) تبلیغ ۴) او جنګ څخه.

پورتنۍ څلور هغه اساسي وسلې دي چې موږ کولای شو پرمټ یې ټول افکار، دفکري جګړې له لارې کنترول،تحریک او تابع کړو.

په دې معنا چې د سیاست په ډګر کې خبرې د ژوند د ښو چارو لپاره د تولیداتو لپاره بازار موندنه او دنورو مسایلو لپاره له تشویق او د معلوماتو د خپرولو په هکله خپل اهداف لاسته راوړلی شو؛چې اساسي عناصر یې له ترونونو،اجناسو(موادو) اخترعاتو او ځواک (نظامي) څخه عبارت دي .

فکري جنګ تل د ځانګړو اهدافو لپاره یو منظم پلان په سرته رسولو سره پلي کیږي،د فکري جنګ پوهان پالیسي جوړوي د پلي کولو لپاره یې ټولې چارې سمبالوي او د فکري جنګ با تجربه او کارپوهان جوړه شوي پالیسي پلي کوي .

پالیسي اصلا د هغو پرېکړو (فیصلو) نوم دی چې یوه ځانګړې باتجربه او ماهره ډله یې د خپلې ګټې او اهدافو د لاسته راوړلو لپاره عملا په ټولنه کې پیلوي.

د فکري جګړې وسیلې:

د تکنالوژي په دې عصري پېرۍ کې د فکري جګړې لپاره بې شمېره وسیلې شتون لري ، چې د نړۍ با قدرته هېوادونه ورڅخه په مختلفو ادارو،اصولو،ترونونو او پرېکړو کې کار اخلي .

ولې لاندې یې ډېرې مؤثرې،زورورې او څواکمنې وسیلې دي چې د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې حکومتونه ورڅخه کار اخلي ،چې له عامه رایو ، تبلیغ او اعلاناتو  څخه. په دې هکله هم  تقریبا علما سره همفکره دي  او لاندې وسیلې یې په ګوته کړې دي.

په هغو هېوادونو کې چې د فکري جګړې لپاره  پلانونه په کې عملي کیږی، لومړی  د ښوونې روزنې په ډګر کې هڅه کیږي چې د نظر وړ ټولنه کې د نصاب د کتابونو دچاپ په وخت کې خپل هدف ته ځان رسوي .

همدارنګه ځواکمن او دښمن هېواد هڅه کوي د ضعیفو هېوادونو لپاره  قوانین جوړ کړي په قضايي ادارو کې ادلون بدلون  او تغییرات راوستل .

په سیاسي ډګر کې  د سیاسي او تشریعي مرکزونو جوړول ، د سیمینارونو او ورکشاپونو جوړول د کلتوري او نورو مذهبي مجلسونو په لار اچول .

همدارنګه په سیمه کې دنژادي،سمتي،ژبني، دیني او قومي تعصباتو او حساسیتونو را پارول او دې خطرناک اور ته لمن وهل. په هدف وړ هېوادونو کې دمختلفو سیاسي ګوندونو را منځ ته کول .په هغو مهمو ادارو  او مراکزو  تسلط   او حاکمیت حاصلول چې قوانین جوړوي یا  د مختلفو مسایلو په هکله تصامیم نیسي  او ددوی  له شتون څخه لوړه ګټه پورته کول .په ښونیزو لویو او لوړو ادارو  او مؤسسو کې داسې  وړ او کره نفوذ پیداکول او له هغو څخه لوړه ګټه اخېستنه .

په همدې ضعیفو هېوادونو کې  د خپلې ژبې  رواجول  او عملي کول  او هم د درس رواجول  په همدې ژبو  څو  دعلم  دزده کړې په ځای پردۍ ژبه زده کړي.

دفکري جګړې موخې:

څرنګه چې فکري جګړه ډېره پراخه ساحه لري نو له همدې کبله موخې هم پراخې، ژورې او خطرناکې دي. ددې ډګر علماء دفکري جګړې موخې  په لاندې ډول وړاندې کوی، دوی فکر کوي چې فکري جګړه د ټولو جګړو  مور  او زېږنده ده  .

محمد یحی الیاس لیکي :دفکري جګړې موخې عبارت دي له .

- په غربي  هېوادونو او ملتونو کې د اسلام دخپراوي مخنیوی.
- ټولنوته د اسلام د اصلي تصویر مسحه او تخریبول .
- د اسلامي امت په ټولو تاریخي،مذهبي،سیاسي، کلتوري،هویتونو ، کرنو، مشرانو علماوو مفکرینو،مخترعینو  او سیاستوالو بد نامول او ټولنه پرې شکمنول او بالاخره په یو نه یو ډول له منځه وړل.
- دپاکو او اهل علم مسلمانو وګړو په ځای د دروغجنو نا اهلو  او مفسدو قیادتونو جوړول او ټولنې ته معرفي کول. او بیایې ځواک ته رسول .
- یو بل عالم  دفکري جګړې  دموخو په هکله لیکي:
- په مسلمانوټولنو کې دغربي هېوادونود مخالفت اومقاومت له منځه وړل.
- اسلامي ټولنې په اسلامي ارشاداتو، قیادتونو،مشرانو ،علماوو او پوهانو ، کړنوباندې شکمنول.
- غربي ټولنوته د اصل اسلام  درسېدو مخنیوی .
- اسلامي ټولنو ته د دروغجنو ، غیر مشهورو، مضرو، مفسدو او نا اهلو مشرانو معرفي کول.

د ذکرشویو علماوو نظریاتو ته که وکتل شي  دواړه  سره  همنظره دي .

د دوى له نظرياتو څخه داسې معلوميږى چې فکري
جګړه يوازې د کفري او اسلامي نړۍ تر منځ ده ځکه پيل يې هم د اسلامي او غير اسلامى ټولنو تر منځ را منځ ته شوى وو او اوس هم ټول کفار د اسلامي هېوادونو په ضد لګيا دي د ګډوډولو پلانونه يې جوړوي،تر ټرمپ وړاندې د امريکا جمهور رئيس اوباما، چې کله دوهم ځل کانديدې ده؛ نو شعار يې د ملت لپاره دا ؤ چې ( زه به په منځني ختيځ کې بدلون راولم ) شعار يې په حقيقت بدل کړ د عربي نړۍ حالات د سر په سترګو ګوري، ديمن، سوريې، عراق او مصر حالات زموږ راتلونکی هم تهديدوي.حتی د اسلامی هېوادونو په ديني سياسي جغرافيايي او تاريخي مسايلو کې بدلونونه راولي چې په ملتونو کې د اختلافونو او ټکرونو سبب کيږي .
په هېوادونوکې د نا اهله بې سواده فاسدو مطرح کول څو د ملتونو سر نوشت د نا اهلو په لاس کې شي او ددوى نا روا کړنو ته زمينه مساعده شي او بيا د همغو نا اهلو د کم عقلی له کبله د همغو ملتونو په معنوياتو خېټه واچوي .

درسنيو او تبليغ ترمنځ اړيکې:
په اوس وخت کې رسنۍ اوتبليغات يوله بل سره دومره ژورې اړيکې لري چي بېلتون يې نا ممکن دی . که ووايو چې رسنۍ او تبليغ که يو له بله بېل شي دبل شتون له خنډ سره مخ کيږي ځکه رسنۍ او تبليغ اوس يو له بل سره لازم او ملزوم دي.
دتبليغاتو عمر له رسنيو لرغونى او ډېر دی رسنيو شتون نه درلود ، خو د تبليغاتو اوربښت دخلکو افکار خړوبول ولې تاثير يې د اوس په نسبت کم وو .
کله چي رسنۍ منځ ته راغلې نو چارواکو،ځواکمنو مشرانو او هغو وګړو چې هدف يې دنورو په حقوقو خېټه اچول وو، رسنۍ يې لاس ته کړې نو درسنيو په وسيله يې وکولی شول چې خپلو تبليغاتو ته وزرونه ورکړي . ځکه د رسنيو له راتګ سره سم په دې خاورينه کره کې د انسانانو ترمنځ د روابطو نه شلېدونکي تارونه وغځېدل د غرونو رغونو،بحرونو ټولې ځمکنۍ فاصلې له منځه لاړې دمبلغينو تبليغاتو وزرونه وکړل د پوښښ ساحه يې له څو کسانو څخه مليونونو وګړو ته ورسېده، په نړۍ کې لوی لوی رسنيز شرکتونه جوړ شول. شرقي او غربي بلاکونو دنړۍ د مظلومو او بې ګناه انسانانو د وينې زبېښلوته ملا وتړله. دقدرت اونفس د غوښتنو دپوره کېدو لپاره يې د انسانيت اصلي مسير بدل کړ، د وينو د تويولو، دمال او دارايۍ د چورولو عمل ته يې مټې را ونغښتې، نظامي شرکتونه يي جوړ کړل او په عراق ،سوريه ،افغانستان کې د شته جنګونو اهداف همدغه دي .
دنړۍ انسان خوړونکو ځواکونه د نورو په وژلو،زورولو اود هغو د حقوقو تر پښو لاندې کولو لپاره د مليونونو انسانانو ژوند له مرګ اوکړاو سره مخ کړی دی .
د انسانانو دتېر اېستلو،زورولو او وژلو لپاره يې استخباراتي ګروپونه او ډلې جوړې کړې چې تر ننه انسانان پکې کړيږي . بې حسابه ، پيسې،جايداد،مقام او عصريت ددې ادارو وسايل دي، موخې ته د رسېدو لپاره داړتيا وړ کاذبو اشخاصو جوړول او دصادقو وګړو بدنامول ددوی اصلي موخه ده.
يو انګليسي ليکوال باى فليډ چې سياست پوه دی، په خپله يوه رساله کې چې د پينځمې سلاح په نوم ياديږي، نوموړی د دوه عمومي اهدافو يادونه کوي؛ چې لومړی: د بدن د يوه غړي پرې کول. او دوهم: د خپل ځان فلجول.
حکم الدين منځنی په خپل ليکل شوي اثر (امريکا او شوروي د سړې جګړې پرمهال ) په ذکر شوي اثر کې د د فکري جګړې اهداف په لاندې ډول روښانه شوي دي :

یادونه:

۱: د بدن د یوه غړي فلجول: دلته په دې ټینګار کیږي چې خپل دښمن په نړیواله کچه کمزوری او په بهرنۍ نړی کې یې ټول پلانونه  شنډ کړي، او دا لویه موخه بیا په خپل اصل کې شپږ نور تعقیبي اهداف لري چې په لاندې جدول کې یې ښیو:

۱:د بدن د یو غړي فلجول

الف:د امو، توکو له لاس رسي څخه د دښمن محرومول .

ب:په نړیوالو تولیداتو کې د دښمن د تولیداتو مخنیوی.

ج: دمختلفوقوانینوپه وضعه کولو سره په بهرنۍ نړۍ کې د  دښمن د پانګې اچونې کچه راټیټول.

د: بهرنۍ نړۍ ته د دښمن دپانګې  مخنیوی

ه: پــــــر د ښمن نوره نـــړۍ بې بــــاوره کول.

و: د ښمن ته اندېښنه او تشویش پیداکول.

۲:د خپل ځان فلجول:

د فکري جګړې دویم بنسټیز هدف د خپل ځان د فلجولو په نوم یادیږي، نوموړي هدف ته د رسېدو لپاره تر ټولو ښه لاره داده چې خپله د دښمن په وسیله د هغه په خاوره کې داخلي کړکېچونه راپیداشي، دې هدف د رسېدو لپاره لاندې موارد په جدي توګه په پام کې نیول کیږي:

الف: د ملي پورونو ډېرول لکه زموږ حالت اوبه لرو ولې  کافي بندونه نه شو جوړولی.

ب: د صنعتي چارو ټکني کول او ځنډول لکه زموږ دبرق پروژه کله هزاره نه پرېږدي کله مخالفین.

ج: دښمن درنو مالیاتو وضع کولو ته اړایستل. غربیانو له پاکستانه د ګاډۍ اس جوړ کړی څه چې وایي مني به یې

د: دهېواد د ملي ارګانونو د اتباعو اعتماد له منځه وړل لکه زموږ فعلي حالت کټ مټ همدغه دی چېرې چې سم سړی وي هغه مري هېڅ یو بد اخلاق او وطن فروش مړ نه شو.

ه:کورنیوجګړو ته لاره هوارول دهېواد  دشنه او سره انقلاب خلك همدغه دي دچوکۍ په سر یې څه ونه کړل او څه نه کوي .

و: د اصلا حاتو او نوښتونو مخنیوی. د اداري فساد ، بندونو او نورو  ملي پروژو د مخنیوي لپاره دښمنان خومره هڅې کوي

کله چې دوه پیاوړې هېوادونه په خپل منځ کې سره ښکېل شي، په دې وخت کې ځینې هېوادونه د یو او بل هېواد په پلوي سره ملاتړ کوي په پایله کې چې یو له دې پیاوړو هېوادونو څخه مات شي؛ دوهم هېواد د جنګ ګټونکی دی، ګټونکی هېواد او په ملاتړ یې نور هېوادونه د فوق العاده او نسبي پرمختګ لپاره نوي فرصتونه لاسته راوړي او بر عکس مات شوي هېواد او په پلوي هېوادونه یې ځینې فرصتونه له لاسه ورکوي، چې ښه بېلګه یې له دویمې نړیوالې جګړې وروسته کابو نیمه

پېړۍ د امريکا او شوروي اتحاد ترمنځ سړه جګړه يادولی شو چې نړۍ په دوه (ختيځ او لويديځ) بلاکونو ووېشل شوه،چې د ساړه جنګ په پای کې شوروي مات شو.

وطن پاله وګړو بدنامول دتبليغاتو هغه تګلارې دي چې تل ناپوهه مظلوم او بې ګنا انسانان کړوي. په کور کلي او سيمه کې يې په نومونو د نيکنامي او بدنامي لپاره کار کوي دوی خپل اهداف لټوي ولې بې ګنا انسانان يې قرباني کيږي زموږ په هېواد کې د مختلفو ډلو راپيداکول په سوريه عرا ق پاکستان شام يمن او نوره نړۍ کې دامريکا او روسې هغه وحشيانه اعمال چې په مسلمانو ملتونو يې وکړل دهمدغو کړنو له جملې ځخه حسابيږي هيله ده چې مسلمان قيادتونه دې مسايلوته جدي پاملرنه وکړي اسلامي امت سره را ټول او همغږی کړی څو په راتلونکي کې له دې ډول مشکلاتو څخه په امن پاتې شي.

لاس ته راوړنې

ددې علمي موضوع دڅېړنې په جريان کې مو درسنيو او ټولنې تر منځ پر روابطو هغه څه لاس ته راوړل چې مخکې ما کله هم داسې تصور نه کاوو. ځکه چې هغه تکتيکونه هنر او ځواک چې باقدرته ځواکمن هېوادونه يې مظلومو ملتونو دتسخير ،د له منځه تلو ،پارونې او تابع کو لو لپاره کاروي نه پرې پوهېدو .

داچې رسنۍ په انساني افکارو دجادو په شان اغېز لري ټولې نړۍ دځلورم ځواک په حيث منلې او د نړۍ ټول با قدرته هېوادونه او هوښيار ملتونه يې د يوې موثرې وسيلې په توګه پېژني نو له همدې کبله زموږ دهېواد چارواکو ،مسولينو درسنيو خاوندانو او هر هغه څوک چې په دې ډګرکې عملا مصروف دي لازم دی چې د ټولنې د افکارو د رغونې ،پالنې او پياوړتيا لپاره له دې وسايلو څخه د ملي ګټو د ساتنې په خاطر مناسبه ساتنه ،لارښونه او نظارت وکړي کنه د ګټې په ځای څو ځله زيات زيان رسولی شي .

ددې علمي څېړنې په پای کې موږ لاندې لاس ته راوړنې درلودې چې د درنو لوستوالو حضورته يې وړاندې کوم .

۱: موږ د رسنيو په وسيله د ټولنې دعامه رايو د همغږي کولو ،د دښمنانو له مضرو پروګرامونو څخه دټولنې د خبرولو ، ددښمنانو په مقابل کې د ټولنې د را پارولو او يو والي هغه لارې او چارې په ګوته کړي چې له دې مخکې مو د خپل مسلک پوهانو په علمي اثارو کې نه وو ليدلي اوس ډاډه يم چې زموږ محصلان به له دې ليکنې او څېړنې څخه پوره معلومات او ګټه واخلي .

۲: موږ د رسنيو له هغو تبلغاتي تکتيکونو څخه پوره خبر شو چې دوی يې د خوږو شعارو او الفاظو په غيږ کې زموږ د بې سواده او ناخبرو ټولنې په افکارو کې ترزيقوي او بالاخره د مختلفو نومونو په

کېښودو او نومولو سره ورور په ورور او بې ګنا انسانان یو پر بل وژني . ددغو تکتیکونو دمخنیوي او دفعې لارې مو نقطه پر نقطه درنو لوستونکو او د ژورنالیزم مسلکیانو ته په ګوته کړې دي .

۳: موږ د رسنیو له لارې د ملي ګټو د ساتنې ،پالنې او پیاوړتیا لارې او چارې مو درنو چارواکو او لوستونکوته ورپه ګوته کړې دي. چې څنګه کولی شو درسنیو له لارې خپلې ملي ګټې وپالو اود لا پیاوړتیا په خاطر یې نو ر کوټلي ګامونه واخلو او هم مو هغه خطرناک پرو ګرامونه رسواکړي چې د رسنیو له لارې یې زموږ دښمنان دازادۍ ، حقوقو ......په نامه ټولنې ته خپروي او اصلا هغه زموږ د تولنې د معنوي ارزښتونو خلاف او یو ناروا حرکات دی چې زموږ د ټولنې د پت او عزت اصیلې ریښې له بېخه باسي .

۴:همدارګه مو دا په ډاګه کړي چې څنګه درسنیو له لارې کولی شو ټولنه د دښمنانو له خطرناکو او مضرو پروګرامونو څخه وساتو او بر عکس هغه څه ورته خپاره کړو چې زموږ د ټولنې اصل مادی او معنوي پولې پرې ټینګیږي .

۵: دا مو هم په ګوته کړي چې ! رسنۍ څنګه کولی شي د ټولنې دحقه حقوقو ساتنه وکړي ،څنګه د حکومت او ټولنې تر منځ سو تفاهم له منځه وړي شي او څنګه ملت له حکومت سره همرازه او همغږی کولی شي .

۶ : بله لاس ته راوړنه مو دهغو خطرناکو تبلیغاتو د ډولونو ، اصولو پېژندل او د هغو د تکتیکونو روښانول او رسوا کول دي چې دنړۍ ځواکمن ،ښکرور او زورور هېوادونه یې د مظلو مو بې ځواکه او بیرته پاتې هېوادونو دحقوقو ،د ملي نوامسو او ثروت دله منځه وړو او لو ټولو په خاطر په لاره اچوي بېلګې یې د سورې ،عراق او زموږ د هېواد جګړې دي چې دوی دخپلو موخو دساتلو لپاره زموږ په خاوره کې نه ختمېدونکې جګړه پیلوي .

۷ : د څېړنې بله لاس ته راوړنه مو د رسنیو له لارې د دښمنانو د هغو تبلغاتي پلانو نو تشریح او تفصل وو چې د تیرو تېل شویو جګړو په جریان کې یې زموږ هېواد وال یو له بل سره د قومیت ،عصبیت ،سمت او ګوند بازي په جامه کې ورور او زوی یو دبل په مقابل کې جنګولي یو او بل یې قتل کړي اودا لړۍ تر ننه دوام لري په دې هکله مو ژوندي مثالونه درنو لوستونکو ته وړاندې کړي دي چې مخکې په رسنیز ډګر کې دا کار چا نه وو کړی .

۸ : د څېړنې په جریان کې مو د افواه په اړه چې زموږ په ټولنه کې د یو عادي شي په سترګه ورته کتل کیږي دا ثا بته کړې چې ! افواه د انساني ټولنې تر منځ ، باور ، اعتماد وروري له منځه وړي او بر عکس د ټولنې تر منځ تعصب ، تکبر او وحشت خپروي نوباید په جدي ډول یې مخه ونیول شي .

ددې لپاره چارواکي او ټولنه دې موضوع ته ښه متوجه شي نو ، نوموړې موضوع مو د قران کریم په رڼاکې داسې را وسپړله او ثابته موکړه چې هر انسان یې له لو ستلو ارزښت او تاوان څخه خبریدلی او له معلوماتو څخه یې خوند اخستلی شي بلکه په مسلمانو حاکمانو واجب دی چې له داسې خطرناکو موضوعاتو او پېښو څخه ځان او ټولنه وساتي څومو د نا امني ،بدنامي او ټولنې تر منځ د بې باوري مخه نیولې وي.

۱۰: دا چې زموږ په هېواد کې عادي خلکو (ټولنې ) ته څوک دومره ارزښت نه ورکوي حال داچې عامه افکار (خلک) دیو هېواد په ټولو هر اړخیزو ( سیاسي ،اقتصادي ،نظامي ،کلتوري .......) پېښو کې دپام وړ رول لري باید هیڅ کله له پامه ونه غور ځول شي .

د دښمنانو په مقابل کې باید له دې سترې قوې څخه لوړ کار واخستل شي  څو زموږ دښمنان  زموږ هېواد  وال  د خپلې خاورې او هېوادوالو په مقابل کې استعمال نه کړی لکه اوس اوس چې زموږ دښمنان خبل ورونه او زامن  دمختلفو نومونو اوټاپو  په لګولو سره  د ملي ګټو په خلاف استعمالوي او جنګوي  یې .

۱۱:  بله مهمه لاس ته راوړنه مو په هېواد کې دمشتو با استعداده  هغو  وګړو  پېژندل او د هغوی له افکارو څخه د کار اخستل وو چې په یو هېواد کې اوسيږي  ولې حکومت یې هیڅ ګڼي . ځکه د ټولنې ځينې غړي دومره لوړ استعداد او پوهه لري چې ، که کار ورڅخه واخستل شي نو بې سارې  ګټوره پایله ورکوي چې  اغیز به یې ډیر لوړ او عالي وي .

نو له همدې کبله  دهېواد او سیمې دمختلفو پېښو او حالاتو دحل  لپاره په هکله باید د ټولنې له مهمو قشرونو څخه پوښتنه وشی  لکه علما ،مفکرين سياست پوهان قومي مشران ........

۱۲: دڅېړنې پايلو وښوده  چې رسنۍ ديوې ځواکمنې ،موثرې او داسې با رسوخه وسيلې په توګه کارول کيږي    چې د نړې په کچه  ترې  بله ځواکمنه وسيله ده  نشته  نو له دې وسيلې څخه باید په هېواد کې شته حکومت ،د رسنیو مسولين او هر هغه څوک چې په دې ډګر کې کار کوي باید دشخصي  ملي  او ټولنيزو ګټو  دساتنې لپاره  له همدغې ځواکمنې وسيلې څخه کار واخلي.

۱۳: داچې رسنۍ د نړۍ په کچه  دومره  بهتره  وسيله  ده  نو  بايد  د  هېواد  او ملت  د  ټولو مادي او  معنوي ګټو دساتنې ، پالنې او غښتلتيا لپاره ترې کره او لازم کار  واخستل شي  حکومت ،پوهان ، ،روشن فکران، سیاست پوهان ،قومي مشران ،علما ،کار پوهان ا ومتنفذين باید  ترې  جدي ساتنه ، پاملرنه او مناسبه همکاري  وکړي  .

مناقشه

د نړۍ ټول ملتونه اودولتونه د رسنيو ځواک ته تسليم دي .ځوک يې ځلورمه قوه بولي !ځوک يې د دولت او ملت ترمنځ پل او ځوک يې هم دملت ژبه ګڼي !ولې زموږ په هېواد کې سره له دې چې درسينو لپاره پوره ازادي شته خو ورځ تر بلې د حکومت او ټولنې تر منځ چاک اودرز ، زياتيږي ؟

په هېواد کې دسياسي ګوندونو شمير له عادي حالت څخه زيات دی ،ايا د زياتو ړوندونو شتون زموږ د هېواد لپاره اړين دی او که مضر ؟ رسنيو په دې ډګر کې د ټولنې دمادي او معنوي اساساتو دساتنې او حفاظت لپاره څه کړي ؟ څومره يې کړی دي ؟

داچې رسنۍ دومره با ارزښته وسيله ده .

نو ولې موږ افغانان ورته د يوې تفريحي وسيلې په سترګه کورو ؟

ايا موږ هم له دې وسيلې څخه دنړيوالو په شان کار اخستی او که نه ؟

ايا ريښتيا رسنۍ د نظامي ځواکونو او وسلو په نسبت ځواکمنې دي ؟

او بل داچې څنګه يې دولتونه ديوې ځواکمنې وسيلې په توګه استعمالولی شي؟

د څېړنې په جريان کې دا راته څرګنده شوه چې ريښتيا هم په هغو هېوادونو کې چې ملت او دولت يې يو له بل سره همغږي دي هلته رسنۍ د هغې ټولنې د ژبې حثيت لري ، حکومت او ملت يې داسې سره نژدې کړي چې بېلتون يې يو له بل څخه ناشونی دی ځکه د علامه سيد جمال الدين په وينا د ملت روهي ناروغي رسنۍ درملوي . د همدې اغېز او ارزښت له کبله، امريکايان وايي چې .

!( موږ لومړی په بايبل او بيا په نيويارک ټايمز باورلرو).

خو له دې وسيلو(رسنيو) څخه هغه هېوادونه او ملتونه ښه ګټه پورته کولی شي چې هغه سالمه باتجربه اوپه کار پوه قوي حکومت ، ځواکمن اقتصاد، ځيرک او با سواده ملت ولري ، په هېواد او اداره کې همغږي ،سرښندنه وي چې خپلې ملي ګټې پاللی او غښتلې کولی شي .

برعکس هغه ملتونه او حکومتونه چې پورتنی ځانګړتياوې ونه لري له دې ستر نعمت څخه پوره او سالمه ګټه نه شي پورته کولی ددې په ځای چې هېواد ته چوپړ وکړي نو ناخبره به حکومت ،دولت

او ملت دریو واړوته زیان رسوي ځکه دوی هیڅ ملي پالیسي نه لري اونه هم پوهېږي چې زه څه خپرووم ګټه لري که تاوان .

ولې ځواکمن باتجربه او پیاوړي حکومتونه له رسنیو څخه دنظامي ځواکونو او وسایلو په نسبت زیاته ګټه اخلي ،ځکه دوی یې په استعمال ښه پوهېږي له دې لارې خپلې موخې ښې ځارلی ،پاللی او ګټلی شي او بالمقابل د دښمن د خطرناکو خو ځښتونو مخنیوی ښه کولی شي . او هم د هدف وړ هېواد ټولنه له خپلو هغو اساسي موخو ته تابع کړلی شي چې دوی یې غواړي ، ئکاره بېلګې یې په سوریه کې دامریکا او روس ټکردی هیڅوک نه پوهېدل چې څه مشکل دی داو چا تر منځ دی ،په پای کې خبره جوته شوه چې د موضوع عاملین روسان او امریکایان دي نه د سورې ملت اومخالفین ځواکمن هېوادونه تل په دې هڅه کې وي چې د دښمن پټ پلانونه د رسنیو له لارې ټولنې ته روښانه کړي څو یې په مقابل کې غبرګون وښیي ،په پایله کې یې د ښمنان بې ځایه حرکت نه شي کولی که یې کوي نو سمدستي یې رسواکوي .

دهمدې موخې له کبله دنړۍ با ځواکه هېوادونه تل په دې هڅه کې وي، چې د رسنیو له لارې باندنۍ نړۍ ته خپرونې ولري؛څو وکولی شي له دې لارې د نړۍ د نورو ملتونو په زړونو او افکاروکې ځای پیداکړي او داد هر خارجي حکومت هیله وي چې نورې ټولنې او هېوادونه له خپل اغېز لاندې راولي او دهمدې موخې لپاره لومړی رسنۍ له غوره نیسي؛ ځکه درسنیومصارف کم دپوښښ ساحه یې زیاته اود انساني اړیکو د خنډونو ټول سرحدونه یې مات کړي دي .

نو ولې په افغانستان کې له دې وسیلو څخه د نورې نړۍ په شان ګټه نه اخېستل کیږي ؟ څه علت دی ؟

دڅېړنې په پایله کې دا راته څرګنده شوه چې !

موږ ځکه له دې وسیلو څخه د نورې نړۍ په شان سالمه ګټه نه ده اخستې چې لاندې ستونزې ددې باعث دي چې موږ یې له دې نعمت څخه محروم کړي یو .

: زموږ د ټو لنې بې سوادي هغه ستر لامل دی چې موږ له دې نعمت څخه دنورې نړۍ په شان ګټه نه ده اخستې

۲: دځواکمن اقتصاد نه شتون بل غم دی چې موږ یې ددې نعمت له ښې ګټې څخه بې برخې کړي یو .

۳:دتجربې نه شتون دملت او حکومت تر منځ نه همغږي ، بل ستر لامل دی چې موږ یې ددې نعمت له خوند څخه بې برخې کړي یو .

۴: دخارجي هېوادونو لاس وهنه ،د مختلفو انجویي ،شخصي او تنظیمي رسنیو شتون دی چې خپلې شخصي ګټې پالي ملي ګټو ته دومره ارزښت نه ورکوي؛ نو ځکه موږ درسنیو له دې لوی نعمت څخه څرنګه چې لازم دی هسې ګټه نه ده اخستې بلکه زموږ ټولنه رسنیو ته د یوې تفریحي وسیلې په نظر ګوري او شته حکومت د خپلې کمزوري او داخلي اختلاف له کبله نه شي کولی چې ثابت کنترول پرې ولري .

۵: دحکومت ضعف دی چې رسنۍ نه شي کنترولولی ،که حکومت رسنۍ کنترول او ملي ګټو ته یې وهڅوي نو مجبوریږي چې دملي مسایلو دفاع او ساتنه وکړي.

نو زموږ چار واکو او هېواد والوته هم لازم دی چې له دې لوړې با ارزښته او ځواکمنې وسیلې څخه دملي ګټو دساتلو ،پاللو،د ټولنې د افکارو په رغولو او روښانولو کې ترې کار واخلي ،

ديوې تفريحي وسيلې په سترګه ورته ونه ګورو بلکه د يوې قوي نظامي  او ملي وسيلې په شان يې وکاروو .

## پايله

داچې رسنۍ دوخت دفکري او فزيکي جګړو مهمې وسيلې دي نو لازمه ده چې له دې مهمې وسيلې څخه لوړه ګټه واخستل شي ځکه په وسيله يې موږ کولی شو ډېرې هغه نيمګړتياوې چې په حکومت او ټولنه کې شتون لري په اسانۍ سره له دې لارې حل  او هم د دښمنانو هغه پلانونه او پاليسي چې زموږ  دهېواد او ټولنې په ضد يې  په لار اچولي دي له  ونخه وړلی او دفعه کولی شو  .
رسنۍ او ټولنه د اوسني وخت دوه هغه نه بيلېدونکي توکي دي، چې که يو يې متضرر شي نو بل لوری هم خپل ارزښت له لاسه ورکوي. رسنۍ بايد د ټولنې د لارښوونې، د سياسي شعور د بيداري، پاېښت، علميت، ارامتيا او خوښئ لپاره تل   يوه ملي او هر اړخيزه پاليسي ولري.
بايدهڅه وکړو چې  ، هر هغه حرکت چې د ټولنې د مادي، معنوي ګټو په زيان وي په ګوته کړي. پيچلي موضوعات ټولنې ته روښانه کړي. د دښمنانو هغه مضرانه، ناروا او خطرناک تبليغات لوڅ او بربنډ کړي. په مقابل کې ټولنې هر هغه مثبت خوځښت چې د دښمن د تبليغاتو ځای نيسي پلي کړي او ټولنه د غفلت له خوب څخه د دښمنانو له خطرناکو او مهلکو تبليغاتو څخه با خبره وساتي ځکه استراتيژ يک  تبلغات تل د دښمنانو د ارادې، ځمکې او مورال د له منځه  تلو لپاره په لار اچول کيږي او ددې موخې لپاره  دوامدار او يو مسلسل حرکت ته ضرورت  دی چې  بايد تل دوام  ولري  ، دا کار يواځې او يواځې رسنۍ کولی شي ځکه رسنۍ دټولنې د اذهانو دتسليمولو ،پارولو او د دښمنانو د پلانونو د شنډولو په  مقابل کې  يوازې د ميډيا له  خلک ښه  وښولی شي په همدې  خاطر  دنړۍ لوی  دولتونه   او ځواکونه  هروخت رسنۍ په واک کې لري .
د او سني عصر دسياسي تبلغاتو او موخو دلاس ته راوړلو لپاره رسنۍ هغه لوړه وسيله ده چې د کمو مصارفو په وسيله سره حکومت ،ګوند او دولت کولی شي  هغه اساسي موخې چې دوی يې لري لاس ته راوړي  په دې هکله له نن څخه  څوارلس سوه کاله مخکې انسانانو ته په دې هکله فرمايی (ياايهاالذين امنوا خذوا حذرکم ...) ای مومنانو! سلاوې مو واخلی ( ۱: سورت انسا۷۱).
سلاوې دوخت او زمان په تيريدو سره مختلفې او توپير کوي  د نن ورځې مهمه عصري ارزانه او پياوړې سلاح همدغه ميډيا ده چې بايد په وخت ترې مناسبه ګټه واخستلی شي  دهېواد په لرې پرتو سيموکې زموږ مظلوم بې سواده او د دښمن تر تبلغاتو لاندې هېوادوالو ته زموږ د دولت   غږ هيڅوک نه شي   رسولی   بلکه   يواځې   همدغه رسنۍ  دي  چې  د هېواد  هر کونج ته زموږ دچاروا‌کواوازونه رسولی شي .

د رسنیو مسولینو ته لازم ده چې د ملي ګټو د ساتنې، پالنې او پیاوړتیا لپاره د ټولنې په غیره له ټولو امکاناتو لارو او چارو څخه کار واخلي . ځکه چې رسنۍ ځان د ټولنې ژبه، ضمیر، د حکومت او ملت ترمنځ پول بولي؛ نو بایدد ټولنې دمادي،معنوي،غښتلتیا، د سیاسي شعور د پیاړوتیا، بقاء او ځلیدا لپاره کار وکړي. نو لازم ده چې د خارجي تبلیغاتو جدي مخنیوی وکړي او په مقابل کې ي ټولنه همغږي، متحده او بیداره وساتي، تر څو د ټولنې ټینګښت ثابت پاتې شي که چیرې نوموړې دنده سمه اجرانه کړي نو بیا یې خپل اساسي مسولیت نه دی اجراکړی .

ددې لپاره چې رسنۍ له ټولنې سره همغږې وي لازم دی چې د ټولنې لاس نیوی وکړي ، باور یې تر لاسه کړي اودساتنې لپاره یې هڅې وکړي کله چې رسنیزه اداره له ټولنې سره دټولنې دمادي او معنوي ګټو لپاره همغږې شوه نو بیا د هېواد او ټولنې دښمنان کله هم نه شي برلاسه کېدی ، بلکه برى به تل درسنیزې ادارې اوټولنې په ګټه وي نو همدغه علت دی چې رسنۍ دیو ځواک په توګه مطرح کیږي او دنړۍ زبر ځواکونه یې د خپلیدو هڅې کوي .

دهېوا باسواده قشر بالخصوص دژورنالیزم دلارې پیروان او مسلکي ځوانان به ددې کتاب په لوستلو سره وکولی شي چې د رسنیو له لارې د ټولنې هر اړخیزه سیاسي ،اقتصادي ،فکري او معنوي رغونه کې کره رول ولوبوي ، ما د ددې علمي اثر په لیکلو کې هڅه کړې چې هغو ملي مسایلو ته د هېواد دسیاسي مسولینو ،چارواکو او ژورنالستانو ور پام کړم چې د دوي ډیری کسان یې عادي بولي ولې هغه عادي نه بلکه مهم او ضروري دي چې باید په همدې وخت کې پرته له دې چې وخت ضایع شي کره او په ځای کار ترې واخستل شي .

## وړاندیزونه

د دې لپاره چې د مظلومو افغانانو اصلي طبیعي حقوق محفوظ وي، ملي ګټې یې تل ثابتې او د نورو لاس وهنو څخه ساتلې وي؛ نو حکومت او په هېواد کې شته رسنۍ باید لاندې وړاندیزونه په غور په نظر کې ونیسیپه هېواد کې ټولې دولتي او غیر دولتي رسنۍ باید د افغان ملت ټولو عقیدوي او مذهبي نوامیسو ته پوره احترام ولري. د لوړتیا او ساتنې لپاره یې هڅه وکړي.

1) په هېواد کې ټولې رسنۍ باید د افغانستان د اساسي قانون په رڼا کې داسې ملي پالیسي ولري، چې په عملي کولو کې سره یې د افغان ملت هر اړخیز حقوق وساتلی شي.
2) په هېواد کې شته رسنۍ باید د هېوادوالو د همغږي او وحدت لپاره کار وکړي او هر هغه څوک چې ملي وحدت تخریبوي درک او د مخنیوی لپاره یې له هر ډول وسایلو څخه کار واخلي.
3) په هېواد کې شته رسنۍ باید د افغان ملت د اساسي حقوقو د ساتنې او پیاوړتیا لپاره د ملت غوښتنې به نظر کې ونیسي او د هر هغه چا په مقابل کې ودریږي چې د ملت حقوق تر پښو لاندې کوي.
4) په هېواد کې شته رسنۍ باید د دښمنانو ټول مغرضانه او مخربانه خوځښتونه په ګوته او په مقابل کې یې داسې تبلیغات په لاره واچوي چې ملت وېښ او د دوی د پلانونو مخنیوی وکړي.

5) دولت باید د رسنیو په قانون کې هغه مادي سمې توضیح او تفسیر کړي چې ګونکې او مجملې وي.
6) رسنۍ باید دټولنې روان حالات پرته له هر ډول ګوندي ،سیاسي نظریاتو ځخه په ریښتیني ډول توضیح او روښانه کړي .
7) درسنیو ټول اطلاعات باید په حقیقت باندې ولاړوي او له هر ډول طرفداري څخه پاک او بې طرفه وي .څوټولنې ته حقایق څرکند او خپله لاره سمه وټاکي .
8) او همدارنګه رسنۍ باید دټولنې ټولو کلتوري ،مذهبي او معنوي نوامسو او دهېواد محرمانه رازونه تل په نظر کې ونیسي .

اخځلیکونه


۱: قران اعظم الشان
۲:اجمل ،ولي (۲۰۰۰) ذرایع ابلاغ اور اسکې تحقیقي طریقې، ، عظیم اکاډیمي لاهور.
۳:اختر،محمد (۲۰۱۰) نی صحافت، ،ډوګر پپلشرز. لاهور
۴:ادیب،همایون (۲۰۰۹) پلټوونکې خبریالي، دانش خپرندویه ټولنه پېښور .
۵:افتخار،محمد حسین (۲۰۱۳) کمونیکشن سټډیز،مولوی شوکت پبلیکشن لاهور.
۶:افتخار،محمدحسین (۲۰۱۵) .(کمونیکشن سټډیز، لیت پبلکشن لاهور.
۶:افروز ،غلام محمد (۱۳۷۶) روان شناسي شایعه وروشهای مقابله، دفتر نشر فرهنګ اسلامي چاپ دوم تهران.
۸: افغان ,قسیم (۱۳۹۰)، ټولنپوهنه، انتشارات سعید کابل.
۹: الطحان ,مصطفی ،محمد(۱۳۸۸)، نړیوال توب ، میوند خپرندویه ټولنه کابل.
۱۰: بدر ,محمد، سعید (۲۰۱۱) ابلاغیات پارټ ۱، ، مکتبه دانیال لاهور.
۱۱: بدر ,محمد.سعید(۲۰۱۳)، ابلاغیات پارټ ۲، ، مکتبه دانیال لاهور.
۱۲: تسل ،احمدرسول (۱۳۹۲)، رسنۍ او ټولنه ، ختیځ خپرندویه ټولنه ،جلال اباد.
۱۳: ثاقب ,ریاض (۱۳۸۶)، نوې خبریالي ، دانش خپرندویه ټولنه ، پېښور .
۱۴: حفیظ ،شیخ ,ناصر (۲۰۰۷) نقوش صحافت، لاهور :مجید بک ډیپو .
۱۵: دافغانستان ملي مترقي ګوند(۱۳۹۰)، سیاسي اصطلاحات ، ثقافت او تبلغاتو خپرونې کابل.
۱۶: ډاډ من ,محمد اغا(۱۳۹۲)، هېوادپالنه،مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد.
۱۷: رانا ,سیف الرحمن (۲۰۰۹) جدید صحافت ، ډوګر پبلشرز، لاهور.
۱۸:رضوي ,ایف ک (۲۰۱۰) معیاري صحافت ، چوهدري غلام رسول اینډ سنز ببلشرز، لاهور.
۱۹: رفیع ،حبیب الله (۱۳۸۷)، ملي زاویه دانش خپرندویه ټولنه کابل.
۲۰: رفیع ,حبیب الله (۱۳۸۹) ملي کربښه، علمي خپرندویه ټولنه، پکتیا.
۲۱: زیرکیار ,رحمت ربي(۱۳۸۵)، دنوي سیاست الجبره، دپښتني کاتور د ودې او پراختیا ټولنه جرمني.
۲۲:سعادت،سارا(۱۳۸۸) ملي ترمنالوژي، بېنوا فرعنګي ټولنه کندهار.
۲۳: غنظفر،اسدالله (۱۳۹۳)کلتوراو ټولنه، مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد.
۲۴: فانوس ,میر عزیز احمد(۱۳۹۳)، افکار عامه ونخبه، انتشارات عازم کابل.
۲۵: ملک،محمد موسی(۱۳۹۴) سیاسي ټولنپوهنه ، علمي خپرندویه ټولنه پکتیا.
۲۶: منصور،علیم (۱۳۹۲)د تلویزیون ګټې اوزیانونه، مسلم خپرندویه ټولنه جلال اباد.
۲۷: میرزا ,محمد(۲۰۰۶) تفهیم صحافت، ل عظیم اکاډیمي اهور.
۲۸: ناظم محمد(۱۳۹۱) دعامه ذهنونو دروښانولو سرچینې ، خیبر خپرندویه ټولنه پېښور.
۲۹: نصر ,صدیق(۱۳۸۱) جنګ رواني ، انتشارات صدا وسیما تهران.
۳۰: نیازی،محمد خان(۱۳۹۲) فیچچر لیکنه، مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد.
۳۱: نیازی ,محمدخان (۱۳۸۷) ارتباط، دانش خپرندویه ټونه، پېښور.

۳۲:نزاد،محمدکاظم (۱۳۹۵) سیاسي تبلغات مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد.

3۳: هاشمي ,عبدالمعيد(۱۳۹۱)خبر او خبريالي، دانش خپرندیه ټولنه پېښور.
34: هاله ,حبيب الرحمن (۱۳۷۱) افکارعامه وتبلغات ، وفا ټولنه پېښور.
35: وفا،هدايت الله (۱۳۹۱) تاثیر تبلغات درفرایند ایجادتحول وتغییرافکار عامه ،انتشارات پژوهش کابل.
36:یون ,محمد اسماعیل(۱۳۸۷) افغاني اوسنۍ رسنۍ، یون کلتوري یون کابل.